# د ژباړن سـریـزه

شهید سید قطب رحمه الله د څوارلسمې هجري او شلمې میلادي پېړۍ د اسلامي نړۍ هغـه ځلانـده سـتوری دی چې رڼـا يې ډېـر تيـاره ذهنونـه روښانه او د ډېرو لار ورکو لپاره د لارښوني لامل شو.

سید قطب رحمـه الله د لویدیځ تهذیب او تمدن ښـه متخصـص دی، دغـه بې بنیاده تمدن يې د نږدې څخـه لیدلی او ډېر ښـه يې پېژنـدلی دی، د دغـه تـهذیب پـه اړه بـه د هغـه چا ګوتنیونـه شـاید ډېر ځـای ونـه نیسـي چا چې د دغـه تـهذیب د وزرو لانـدې ژونـد نـه وي کـړی، خـو هغـه چا چې د خپـل عمر ډېره برخه پدغه چاپیریال کې تېره کړې وي. هغـه يې د نژدې څخـه لیدلی او پېژندلی وي، د هغه خبره وزن لري او زړونو ته لار پیدا کوي.

سید قطب رحمه الله په یوه داسې ټولنـه کې سترګې غړولې چې هرې خـوا تـه يـې د لویـدیځ وال تـهذیب غولـونکې ننـدارې تـر سـترګو کېـدې، نوموړی پـه دغـه ټولنـه کې لـوی شـوی، پوهـه یې ترلاسـه کړې، او دغـه تهذیب يې د هغـه پـه کـور کې پـه ژور نظـر سره لیدلی او ښکاره ده چې بې اغېزې بـه تـرې نـه وي پـاتې شـوی. خـو هدایت او لارښـوونـه د الله پـه لاس کې ده چا ته یې چې خوښه شي لار ورتـه ښایي.

الله تعـالی پـه خپـل رحـم او کـرم سره د دغـه تـهذیب پـه تیـارو کې سید قطـب رحمـه الله تـه لاره وښـودله او د امـام حسـن البنـا رحمـه الله اسـلامي حرکت د هغه لپـاره د حق طـرف تـه د لار مونـدنې لامـل شـو، او پـه پايلـه کې د انسـاني ژونـد لپـاره د اسـلامي نظـام پـه ضـرورت يـې داسې ایمـان

*Download From; Aghalibrary.com*

راوړ چې کمزوری او سستی ورته لاره نشوه موندلی.

سيد قطب رحمه الله د امام حسن البنا رحمه الله د روزنې او د امام مودودي رحمه الله د فکر پيداوار دی، هغه د يو هدف طرف ته د حق د لارې د دغه دواړو مسافرو لاس ته راوړنې داسې يو کړې چې بېلتون يې نه کېږي، د نيل د صحراء حسن البنا رحمه الله او د هند د نيمې وچې مودودي رحمه الله د يو بل څخه د بې خبرۍ سره د سيد رحمه الله ليکنو داسې يو کړل لکه يو روح دوه جسمونه.

د سيد قطب رحمه الله ليکنې په خپل انداز او فکر جوړونه کې د امام مودودي رحمه الله د ليکنو سره ډېر نژدې والی لري او دواړه د اسلام په حقانيت د اسې کلک ايمان لري چې د اسلام څخه د دفاع پر ځای د دښمن په سنګرونو ګذار کوي او هېڅ کله هم د اسلام لپاره عذر او بهانه نه لټوي.

د سيد قطب رحمه الله په اړه يو ستر ليکوال او اسلام پوه مولانا ابوالحسن الندوي رحمه الله وايي:

((د سيد قطب رحمه الله د طريقې ځانګړتيا داده چې هغه د پلمې لټونې او دفاع په حق کې نه دی بلکې هغه د لويديځوال تهذيب په بنيادونو ګذار کوي. او په خپل مقابل باندې د حملې لپاره مخکې کېږي. هغه ته په اسلام کې هېڅ قسم کمزوري او کمی نه ښکاري، هغه اسلام د ژوند لپاره د يو پوره او هر اړخيز نظام په توګه په پوره اعتماد او يقين سره وړاندې کوي)) [په نړی باندې د مسلمانانو د عروج او زوال اثر صد ٢٠]

سيد قطب رحمه الله د عربي ژبې اوچت اديب دی او دده ليکنې د دغه ادبياتو ښکارندوی دی، دده په ليکنو پوهېدل آسانه کار ندی او ژباړه يې

ددې څخه هم ګرانه ده، د سيد رحمه الله د ليکنو ژباړه د هغې د اصل روح د ساتلو سره يو ناشونی کار برېښي. د سيد رحمه الله ليکنې چې کومه اغېزه، طاقت او ولوله لري په ژباړه کې د هغې ځايول ګران دي.

د سيد قطب رحمه الله دا کتاب چې ((المستقبل لهذا الدين)) نومېږي، د اسلام د حقانيت په اړه يو ښه کوښښ دی، نا اميده زړونو ته اميد دی، ددې کتاب فارسي ترجمه هم شته او په پښتو ژبه هم ژباړل شوی خو هغه ژباړه زمونږ د پاکستانی پښتو ويونکو وروڼو او خوېندو لپاره ګټوره ده البته د افغانستان پښتو ويونکي ورڅخه ګټه نشي پورته کولی، لدې امله ما د خپل وس په اندازه کوښښ کړی تر څو دا کتاب په آسانه او روانه ژبه وژباړل شي، د کتاب اصلي هدف پښتو ويونکو وروڼو او خويندو ته وړاندې شي، او يو عام لوستونکی هم ترې فائده واخلي.

زه نه پوهېږم چې څومره به په خپل هدف کې بريالی يم او لوستونکي به ددې کتاب څخه څومره استفاده وکړي، دا به لوستونکو ته پرېږدم. ځکه چې زه کوم لوی ليکوال او اديب نه يم. لوستونکي دې د کتاب پيغام ته فکر وکړي، زما د ژباړې ادبي اړخ ته دې نه ګوري، يا ربه! دا کتاب د نا اميده زړونو لپاره اميد وګرځوه. د کتاب د ليکوال او ژباړن دواړو لپاره يې د آخرت ذخيره جوړه کړه. آمين

د اسلام د ځلانده راتلونکې په هيله

د/ رحمت الله زاهد

اسلام آباد

# اسلام د ژوند تګلاره

اسلام تګلاره ده، د ژوند تګلاره، په ټوله معنی د انسان د واقعي ژوند لپاره داسې تګلاره ده چې د عقيدې هغه تصور د ځان سره لري چې د موجوداتو طبيعت ښکاره کوي، او په موجوداتو کې د انسان ځای ټاکي. لکه څرنګه چې د انسان انساني هدف معلوموي.

دغه رنګ دا تګلاره هغه کارونه هم د ځان سره لري کوم چې د دغه عقيدوي فکر څخه سرچينه اخلي، او د دغو کارونو له امله عقيده د انسان په ژوند کې ښکاره کېږي. لکه: اخلاقي نظام د هغه څه سره چې اخلاق ورڅخه سرچينه اخلي، د هغو بنسټونو سره چې دغه نظام پرې ولاړ دی، د هغه قوت سره چې دغه نظام ورڅخه مرسته ترلاسه کوي، سياسي نظام د خپل شکل او ځانګړتياو سره، ټولنيز نظام د خپلو بنسټونو او ستنو سره، مالي نظام د خپلې فلسفې او تشکيلاتو سره، دولتي نظام د خپلو اړيکو او ارتباطاتو سره.

له همدې امله مونږ کلکه عقيده لرو چې راتلونکی دور د همدې دين دی، ځکه چې دا د ژوند هغه تګلاره ده چې د يو بل سره په اړيکو لرونکو بنيادونو باندې ولاړه ده، داسې بنيادونه چې د يو بل څخه جلا نه دي، دا هغه بنسټونه دي چې د انساني ژوند بېلابېل اړخونه يې سره يو کړي دي، د انسان بېلابېلو حقيقي اړتياو ته ځواب ويلی شي، او د انسان ټول کړه وړه څارلی شي.

دا دين يوه خيالي عقيده نه ده چې په بېلابېلو ډګرونو کې د انسان د ژوند څخه ګوښه شوی وي. که دا کېدای شي چې داسې الهي دين دې هم وي چې فقط يوه خيالي عقيده وي چې د انسان د واقعي ژوند سره يې کار نه وي. او نه دا دين د عبادت يو څو هغه بېلګې دي چې د دغه دين پيروان يې په فردي يا په ډلييزه توګه سر ته رسوي چې د هغه له امله دې دا دين د هغوی صفت شي، او نه دا دين يوازې د آخرت لاره ده تر څو د آخرت فردوس پرې ترلاسه شي، او د دنيا د فردوس د لاس ته راوړلو لپاره دې بله لار وي پرته ددې دين د تګلارې او عمل څخه.

دا دين پدې معنی ډېر ښکاره، ژور او قوي دی، او دا په ډاګه کوي چې هر هغه کوښښ به کامياب نشي کوم چې دا دين په يوه داسې عقيده کې خلاصه کوي د کومې چې د انسان د ژوند سره هېڅ کار نه وي، او نه د واقعي ژوند د بېلابېلو اړخونو سره، د هغې د تشکيلاتو او عملي شيانو سره کار لري.

يا هغه کوښښونه چې ددې دين څخه د عبادت يو څو بېلګې جوړې کړي که چا سر ته ورسولې نو په آخرت کې به فردوس لاس ته راوړي، پرته لدې چې د دغه دين احکام، کړنې او ځانګړتياوې په خپل ژوند کې عملي کړي.

که څوک دغو شيانو ته دين وايي نو اسلام دغه دين نشي کيدای، او نه دا شونې ده چې اسلام دې دغه رنګ يو دين شي اګر که په څمکه کې يوه تګلاره د خپل ځان په هکله دا ګومان وکړي چې زه همدغه دين يم او يا د دغې تګلارې پيروان ووايي چې مونږ د همدغه دين پيروان يو خو اسلام دغه دين ندی، دغه دين ندی، دغه دين ندی.

مونږ په هغه سترو کوښښونو پوهېږو کوم چې د څو پېړيو راهيسې

ددې لپاره کيږي تر څو اسلام د يوې خيالي عقيدې او عبادت د يو څو بېلګو په دايره کې راونغاړي، په واقعي ژوند کې يې د لاس وهنې څخه بند کړي او د انساني ژوند په کړو وړو باندې يې د پوره برلاسۍ څخه منع کړي، کوم چې ددې دين طبيعت، حقيقت او وظيفه ده.

دا دين د هر اړخيزتوب، واقعيت او برلاسۍ ځانګړتياوې لري، دا هغه ځانګړتياوې دي چې نړيوال صليبي قوتونه ورڅخه په اسلامي امت او اسلامي خاوره باندې د يرغل په وخت کې په تنګ شوي دي، لکه څرنګه چې ورڅخه د ډېرې مودې راهيسې نړيوال صهيوني قوت ستړي شوي دي، لدې امله دغه دواړه قوتونه په ګډه سره کوښښونه کوي تر څو دغه دين په خيالي عقيده او د عبادت په يو څو نمونو کې خلاصه کړي، په واقعي ژوند کې يې د لاس وهنې څخه ليرې وساتي، او د انساني ژوند په کړو وړو باندې يې د برلاسۍ څخه منع کړي.

دا هر څه د اولني ګام په توګه ترسره کېږي. ددې لپاره چې په آخره کې دا دين په پوره توګه له مينځه يوسي.

وروسته لدې چې دوی په خپلو کوښښونو کې بريالي شول او خپل غوڅ برياليتوب يې د خپل جوړ کړي باتور!!! ((اتاتورک)) په لاس سر ته ورسولو، اسلامي خلافت يې له مينځه يووړ، دين يې له دولت څخه جلا او يو سوچه بې دينه دولت يې اعلان کړ.

دا هر څه لدې وروسته وشول چې دوی د اسلامي امت او اسلامي نړۍ په بېلابېلو اړخونو کې د خپل اشغال او ښکېلاک په وخت کې سر ته رسولي وو، ددې لپاره چې اسلامي شريعت کوم چې د قانون يواځينۍ سرچينه ده د خلکو له ژوند څخه ګوښه کړي، او پر ځای يې د اروپايي قوانينو څخه ګټه واخيستل شي او اسلامي قانون په هغه تنګه دائره کې

رابند کړي کوم ته چې شخصي[1] احوال ویل کېږي.

کله چې دغه کوښښونه د ((اتاتورک)) په لاس بریالي شول، نو دوهم قدم د آخرني کوښښ په ډول ددې لپاره پورته شو تر څو دا دین په پوره ډول د مینځه یووړل شي، ان تر دې چې عقیده یې هم پر ځای پاتې نشي، بلکې د عقیدې پر ځای نورې مفکورې، بنیادونه، تګلارې، طریقې او حالات رامینځ ته شي، تر څو د عقیدې ځای ونیسي، او دغه شیان عقیده ونومول شي چې ددې کار لپاره د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې کوښښونه سر ته رسول شوي. ددغه کوښښونو سره د ځمکې پر مخ د اسلامي حرکتونو پر ضد وحشي ګوزارونه هم شوي دي. او ددې کار لپاره ټولې هغه سیالې ډلې یو شوي دي چې داسلامي پاڅون څخه د ویرې پرته په بل شي سره نه یوځای کېږي.

خو مونږ پدې پوهېږو چې دا دین د حقیقت په لحاظ ډېر لوی، د جوړښت په لحاظ ډېر قوي او د جرړو په لحاظ ډېر ژور دی، ددې په خلاف نه دغه کوښښونه بریالي کېدی شي او نه دغه وحشي ګوزارونه نتیجه ورکولی شي.

مونږ پدې هم پوهېږو چې د انسانانو ضرورت دې دین ته د حسد کوونکو د حسد څخه ډېر زیات دی، او د دین په مقابل کې دغه هلې ځلې به ډېر زر په یوه تباه کوونکې کنده کې پرېوځي، چې ددغه هلاکت څخه به د ځان ساتنې لپاره د پوهې خاوندان چیغې وهي، دخلاصون لاره به لټوي، خو د الله طرف ته د راګرځېدو او د ژوند لپاره د هغې د برابرې

---

١- شخص احوال عبارت دی له: نکاح، طلاق، میراث او نورو هغو احکامو څخه چې د انسان په فردي ژوند پورې اړه لري، د ټولنیزو چارو سره یې اړیکې نه وي. ((ژباړن))

شوې تګلارې پرته به د خلاصي بله لاره نه وي.

نن هر طرف ته د حیرانو زړونو ،سترو ذهنونواوستونو څخه د ((خلاصونکي)) د لټون لپاره چیغې پورته کېږي. د یو ساتندوی لپاره سترګې غړول کېږي، ددغه خلاصونکي او ساتندوی ځانګړتیاوې هم بیانېږي چې دغه ځانګړتیاوې ددې دین پرته په بل شي کې نه موندل کېږي.

د هغه تګلارې له امله چې دا دین یې جوړوي، او د هغه ضرورت او اړتیا له امله چې انسانان یې دغه تګلارې ته لري مونږ په پوره یقین او ډاډه زړه سره دا خبره کوو چې راتلونکی دور ددې دین دی، او دا دین به د ځمکې پر مخ هغه رول لوبوي د کوم لپاره چې رالېږل شوی دی که ددې دین دښمنان یې غواړي او کنه؟

نن ورځ انسانان د خپل ژوند د تېرولو لپاره هلته او دلته ډېري تجربې کوي تر څو نوې تګلاره جوړه کړي خو مونږ ډاډه یو چې دغه تجربې ختمېږي او په آخره کې به دا دین د تګلارې په ډول خپلوي.

دا ټولې تجربې په یوه تشه دایره کې ګرځي چې په مینځ کې یې د انساني تصور، تجربې او هغه پوهې پرته بل څه نشته د کومې سره چې ناپوهي، نقصان، کمزوري او انساني خواهشات ملګري دي، پدې حال کې چې انسان ددغه خالي دائرې څخه وتلو ته اړتیا لري، تر څو یوه نوې اصلي تجربه شروع کړي، کومه چې د اوسنیو تجربو پر ځای په یو بل قانون ولاړه وي.

د الهي تګلارې قانون چې د ناپوهۍ پر ځای د پوهې، د نقصان پر ځای د کمال، د کمزورۍ پر ځای د قوت او د خواهشاتو پر ځاي د حکمت څخه سرچینه اخلي او پر دې بنسټ ولاړ وي چې: انسان د انسان له غلامۍ څخه ویستل او د یو الله په غلامۍ کې ننویستل..

د اسلامي تګلارې او نورو تګلارو تر مينځ اساسي فرق دادی چې په اسلامي نظام کې خلک د يو الله بندګي کوي، يوازې هغه د بندګۍ، پالنې او په ټوله معنی د حاکميت څښتن بولي، يوازې د هغه څخه خپل تصورات، اساسات، طريقې، احکام او قانوني لارښوونې او آداب لاس ته راوړي. خو په نورو تګلارو کې بيا دوی د ډېرو څښتنانو پيروي کوي، د الله څخه پرته هغوی ته د حاکميت حق ورکوي، هغوی خپل تصورات، اساسات، طريقې، احکام، قانوني لارښوونې، آداب او اخلاق د خپل ځان په څېر د بل انسان څخه اخلي، او پدې ډول هغوی د خپل ځان لپاره ډېر معبودان جوړوي او هغوی ته د بندګۍ، پالنې او په خپل ځان د حاکميت حق ورکوي، پدې حال کې چې هغوی هم ددوی په څېر انسانان او ددوی په شان بندګان دي.

مونږ ټولو هغه طريقو او تګلارو ته په کومو کې چې انسان د انسان تابعداري کوي د جاهليت طريقې وايو، ځکه الله ورله دا نوم ورکړی دی اګر که د هغې شکلونه، ساحې او وختونه جدا جدا وي خو دا ټولې په حقيقت کې په هغه بنسټ ولاړې دي د کوم د نړولو لپاره چې دا دين رالېږل شوی دی، تر څو بشريت د هغې د غلامۍ څخه آزاد کړي او پر ځای يې د خلکو لپاره د يو الله حاکميت قائم کړي، او تر څو انسانان د انسان له بندګۍ څخه خلاص او د يو الله د بندګۍ لاندې يې راولي د ((عبادت))، ((معبود)) ((پالونکي)) او دين د پراخې معنی لاندې. [1]

---

١- د ((عبادت، اله، رب او دين)) د پوره تفصيل لپاره دې د امام مودودي رحمه الله کتاب ((د قرآن څلور اساسي اصطلاحات)) وکتل شي)).

دا دين ددې لپاره راغلي تر څو د انسان له خوا د انسان بندګی ته د پای ټکی کېږدي دا بندګی په هر شکل چې وي ددې لپاره چې يوازې د يو الله بندګي وکړی شي، لکه څرنګه چې ددې غوړېدلي دنيا پر مخ يوازې د هغه بندګي پکار ده.

((أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ )) [آل عمران : ۸۳]

((ايا دوی د الله د رالېږل شوې تګلارې پرته بله تګلاره لټوي حال دادی چې په آسمانونو او ځمکو کې هر څه خوښ او ناخوښ د الله تابعداري کوونکي او ده ته ورګرځېدونکي دي)).

دا تګلاره چې ددې دين څخه سرچينه اخلي د تاريخ په پاڼو کې يوه تېره شوې تګلاره نده، او نه د يوې ډلي خلکو لپاره سمييزه تګلاره ده چې په يو وخت يا يوه ټولنه کې عملي شوې وه او بس!

بلکې دا هغه همېشنی تګلاره ده چې الله تعالی د هر انسان د ژوند لپاره خوښه کړې ده، تر څو د انسان ژوند په هغه محور کې وڅرخېږي کوم چې ورڅخه الله غواړي، او په هغه دائره کې داخل شي په کومه کې يې چې الله داخلول خوښوي، او تر څو د انسان ژوند په هغه ډول برابر شي د کوم له امله چې انسان ته الله عزت ورکړی او د مخلوقاتو د بندګۍ څخه يې ساتلی دی.

دا تګلاره هغه فطري حقيقت دی چې د نوي انسانيت په خوا کې د هميشني فطري نظام په څېر ولاړ دی، هغه نظام چې د موجوداتو په جسم کې د پيدايش راهيسې کارګر دی، نن هم او سبا هم، هغه نظام چې د هغې سره د مخالفت او ټکر له امله انسان د تکليف، تباهی او عذاب سره مخامخ کېږي.

اوس نو که خلک په پوره معنی د دغه تګلارې موافق ژوند تېر کړي نو مسلمانان بـه بللی شي او کـه ددې پر ځـای د انسـان پـه لاس د جوړې شوې تګلارې موافق ژونـد تېروي نـو دوی پـه هغـه جاهلیت کـې ژونـد تیروي چې دا دین ورسره آشنا ندی، د هغه جاهلیت په څېر چې دا دین د هغې د لـه مینځـه وړلـو او د بنیـاد څخـه د بدلولو لپـاره راغلـی ؤ، تـر څـو خلک د مخلوق د بندګۍ څخه خلاص او د الله بندګان یې جوړ کړي.

انسانان به یا د الله تعالی ددغه تګلارې موافق ژوند تیروي تر څو د کاینـاتو موجوداتـو او د خپـل فطـرت سـره سـمون ولـري او کـه دوی ددې پرته د انسانانو د جوړې شوې تګلارې موافق ژوند تېروي نو دوی به د کایناتو، موجوداتو او خپل فطرت سره په جګړه کې وي او دوی به پدې کاینـاتو کـې داسـې وي لکـه داړه مـاران، دوی بـه پـه یـو داسـې جنـګ کـې اخته وي چې تباه کوونکې پایلې به یې ډېر زر یا یو څه وخت وروسته ښکاره شي.

مونږ پدې یقین لرو چې خلک الله تـه راګرځېدونکي دي، هغـه تګلارې تـه راګرځېدونکي دي چـې الله تعـالی د انسـانانو د ژونـد لپـاره ټـاکلې ده او پدې هم یقین لرو چې راتلونکی دور ددې دین دی.

مونږ پدې یقین لرو چې ټول هغه کوښښونه هرومرو ناکامیدونکي دي کـوم چـې ددې لپـاره کیږي تر څـو دا دین د خپل طبعیت، او پـه بېلا بېلـو ساحو کې یې د انسانانو د ژوند څخه جدا کړي، ددغـه کوښښونو د ناکـامۍ نښې ښکاره شوي دي، ځکه چې د انسان د ژوند څخه جدا کېدل ددې دین طبعیت ندی، بلکې دا د هیڅ یو اسماني دین طبعیت هم ندی.

# هر دین د ژوند تګلاره ده

د ټولنیز نظام او عقیدوي مفکوري تر مینځ ژورې اړیکې شتون لري، بلکې ددې څخه هم زیات، چې هغه حیاتي لاس ته راوړنه ده، ځکه چې ټولنیز نظام د عقیدوي مفکورې څخه پیدا کېږي، نو ویلی شو چې ټولنیز نظام د خپلو ټولو ځانګړتیاو سره د عقیدې څخه سرچینه اخلي، ځکه چې ټولنیز نظام په فطري او حیاتي ډول راټوکېږي. او بیا هغه پوره شکل غوره کوي کوم چې دغه تصور یې د موجوداتو لپاره او په موجوداتو کې د انسان د مرتبې او د انساني وجود د هدف لپاره وړاندې کوي.

پدې شکل رامینځ ته کېدل، بیا دغه شکل لاس ته راوړل د کارونو لپاره سمه بلکې یواځینۍ لاره ده، د هېڅ یو ټولنیز نظام لپاره دا شونې نده چې هغه دې په فطري ډول پیدا شي او بیا دې په سمه توګه په خپلو پښو ودرېږي، مګر دا به هلته کېږي چې دا نظام د موجوداتو د هر اړخیز تصور څخه پیدا شي، او پدغه نظام کې د موجوداتو حقیقت، په هغې کې د انسان مرتبه او د انسان د پیدایش مقصد ښکاره وي.

په کار داده چې د هر ټولنیز نظام د رامینځ ته کېدو مقصد هغه وي کوم چې د انسان د پیدا کېدو مقصد پوره کولی شي، دغه رنګ کوم حقوق چې انسان ته لدې امله ورکړل شوي چې هغه په موجوداتو کې یو مرکزي مرتبه لري نو همدغه حقوق د انسان تګلاره رسموي. هغه

وسایل ورته مشخص کوي د کومو د استعمال چې انسان حق لري تر څو د هغې په واسطه د خپل ژوند هدف لاس ته راوړي، دغه رنګ دغه حقوق هغه اړیکې هم مشخصې کوي کومې چې د انسان او د نورو موجوداتو تر مینځ ساتل کیږي ، دده او د نورو انساني تنظیمونو او تشکلیاتو تر مینځ په کار دی، بلکې ټول هغه څه ورته مشخص کوي چې د هغې ټخه په ټولنیز نظام سره تعبیر کولی شي.

هر ټولنیز نظام چې ددې پرته په بل بنسټ ولاړ وي هغه غیر طبعي او د زورواکی نظام دی چې په فطري ریښو ولاړ ندی، او نه ددې امید کېدلی شي چې هغه دې د ډېرې مودې پورې پاتې شي او دا طمعه ترې هم ناشونې ده چې ددغه نظام په سیوري کې دې د انسان حرکت د کایناتو د حرکت سره برابر شي، او نه دغه نظام د انسان د فطرت سره سمی خوري او نه دده حقیقي اړتیاوې پوره کولی شي.

کله چې د کوم نظام د موجوداتو او فطرت سره هم آهنګی ورکه شي نو په هغه کې انسان د تباهی او بدبختی څخه نشي خلاصېدی، اګر که انسان ډېرې مادي اسانتیاوې او لاس ته راوړنې ولري، دغه نظام به خامخا د منځه ځي، ځکه چې هغه د موجوداتو او د انسان د فطرت خلاف دی.

دا سرچینه اخستل، بیا دا شکل غوره کول د عقیدوي مفکورې او ټولنیز نظام تر مینځ د اړیکو د شکلونو څخه یو شکل دی، چې دا یوازې ټولنیز نظام نه بلکې د ژوند ټولې ټګلارې راګیروي چې په هغې کې د افرادو خیالات، اخلاق، عبادات، شعائر، رسم او رواج، او پر مخ د ځمکې د ټولو انسانانو کړه وړه برخه لري.

ددې مسئلې یو بل اړخ هم شته او هغه دا چې هر دین د ژوند تګلاره ده ځکه چې ((دین)) د عقیدوي مفکورې نوم دی او یا دا چې دین د

عقيدوي مفکورې او ټولنيز نظام نوم دی، بلکې دين هغه تګلاره ده چې د دنيا په ژوند کې د انسان د هر کار په اړه فيصله کوي.

پدغه شکل ددې خبرې عکس هم صحيح دی او هغه دا چې د ژوند هره تګلاره ((دين)) دی، نو ويلی شو چې د يوې ډلې خلکو ((دين)) هغه تګلاره ده چې دوی د هغې موافق خپل ژوند تېروي.

خو که چيرې هغه تګلاره چې دا ډله پرې خپل ژوند تېروي د الله له خوا جوړه شوې وي يا په نورو ټکو د الهي عقيدې د فکر څخه اخستل شوې وي، نو دغه ډله د الله په ((دين)) روانه ده، او که چيرې دغه تګلاره چې دا ډله پرې ژوند تېروي د بادشاه، امير، قوم يا قبيلې له خوا جوړه شوې وي نو دغه خلک به د بادشاه، امير، قوم او دغه قبيلې په ((دين)) روان وي، نه د الله په دين، ځکه چې دغه ډ له د الله د جوړې شوې تګلارې تابعداري نه کوي، هغه تګلاره چې د پيل څخه د الله د دين څخه سرچينه اخلي.[1]

د تګلارو، مفکور، او ټولنيزو فلسفو جوړونکی تر اوسه پورې ددې حقيقت د ښکاره کولو څخه ډډه کوي چې دوی عقيدې جوړوي او بيا د خلکو څخه غواړي چې دغه عقيده په خپل ژوند کې عملي کړي، او يا دوی د ديني عقيدو پر ځای دغه ټولنيزې، وطني او قومي عقيدې کېنوي.

نو کمونيزم فقط يو ټولنيز نظام ندی، بلکې هغه يوه عقيدوي مفکوره ده، او دغه مفکوره پدې بنياد ولاړه ده چې دا موجودات مادي دي او مادي توپيرونه يکې شتون لري، او دغه توپيرونه پرمختګ او بدلون ته

---

١- د ((دين)) د لفظ د نورې تشريح لپاره دې د امام مودودي کتاب ((د قرآنکريم څلور اساسي اصطلاحات)) وکتل شي.

لاره هواروي. چې دې ته مخالفت کوونکی مادیت هم ویل کېږي، لکه څرنګه چې دا مفکوره د تاریخ اقتصادي تفسیر کوي او دا چې په انساني ژوند کې هر بدلون د لاسته راوړنې په شیانو کې د بدلون له امله راځي.

نو لدې امله مونږ ویلی شو چې کمونیزم فقط یو ټولنیز نظام ندی، بلکې دا یوه عقیدوي مفکوره ده چې کمیونستي ټولنیز نظام پرې ولاړ دی، اګر که د اصلي مفکورې او اوسني ټولنیز نظام تر مینځ لوی توپیر موجود دی.

دغه رنګ د ژوند ټولو تګلارو او موجوده نظامونو ته د هغوی منونکی د عقیدې درجه ورکوي او وایي چې: ((زمونږ ټولنیزه عقیده، زمونږ وطني عقیده)) او ((زمونږه قومي او ملي عقیده)) او دا ټول په خپل حقیقت کې ریښتیني تعبیرونه دي، ځکه چې د ژوند هره تګلاره او مرام ددې ژوند لپاره ((دین)) دی.

لدې امله څوک چې ددغه تګلارې او نظام تر سیوري لاندې ژوند کوي نو همدغه تګلاره او نظام د هغوی ((دین)) دی، که چیري دوی د الله د تګلارې او نظام لاندې ژوند تېروي نو دوی د الله د ((دین)) منونکي شول او که دوی د بل چا د تګلارې او نظام لاندې ژوند تېروي نو دوی د هغه په ((دین)) شول او د الله په ((دین)) نه شول.

دا دومره ښکاره خبره ده چې نور وضاحت ته اړتیا نلري.

ددې ساده حقیقت په نظر کې نیولو سره دا ښکاره ده چې هېڅ یو الهي دین داسې نشته چې هغه دې فقط یوه خیالي عقیده وي چې د انساني ژوند د عملي اړخونو څخه دې جلا شوې وي او یا دې هغه د عبادت یو څو ببلګې وي چې ددغه دین منونکي یې ځانله یا په ډلییزه توګه سر ته رسوي، او یا د ځینې شخصي حالاتو نوم دی چې دغه دین د هغه په هکله

قوانین لري، او ددې پرته د ژوند د نورو اړخونو په هکله نور قوانین فیصله کوي، چې ددغه دین پرته د بل ځای څخه اخستل شوی وي، او یا د ژوند لپاره یوه بله داسې تګلاره تشکیله کړي چې د الله د دین پرته د بلې مفکورې څخه جوړه شوې وي.

څوک چې د ((دین)) معنی پېژني هغه دا واک نه لري چې د یو داسې دین په هکله فکر وکړي چې هغه د خلکو په عقیده کې ګوښه کړل شوي وي، یا د هغوی د عبادت یو څو بېلګې تمثیل کړي او یا د شخصي حالاتو لپاره قانون ولري او ددې پرته یې د ژوند په کړو وړو کې هېڅ رول نه وي، نه د خلکو په عملي ژوند برلاسي وي او نه په کوم طرف د هغوی د قدمونو لاربښوونه کولی شي او نه د هغوی تصوراتو، افکارو، خیالاتو، اخلاقو، کړو وړو او اړیکو ته لار ښودلی شي.

هېڅ کله داسې نده! او نه د الله تعالی داسې یو دین شته چې هغه دې فقط د آخرت د لاسته راوړلو لپاره تګلاره وي. او د دنیا د ژوند تېرولو لپاره دې د الله د دین پرته یوه بله تګلاره وټاکل شي.

دا د کایناتو او بشر د واقعي حقیقت په هکله یو خندونکی تصور دی، ځکه چې ددې بېلتون هدف دادی چې د انساني ژوند په اړخونو کې یو اړخ د الله تعالی دی چې هغه یې سمبالوي، د هغې په هکله لاربښوونه او څارنه کوي او همدغه اړخ په الله پورې خاص دی او بس: او ددې پرته نور د ژوند اړخونه د بل چا دي چې هغوی یې سمبالوي او هغوی یې څارنه کوي ګویا هغوی د دغه اړخونو خدایان دي چې خاص پدوی پورې اړه لري.

دا یو داسې خندونکی تصور دی چې کوم خلک دا فکر کوي نو هغوی به ډېر زر په خپل ځان او خپل دغه فکر پورې خندا وکړي، دوی به یو ځل په خپل ساده توب او د فکر په کمزورۍ پورې ټوقې وکړي.

خو كه چيري دوی حقيقت ته په سم نظر وګوري او په يوه آرامه او رڼا فضاكې ورته پام وكړي.

ددې مسئلې يو بل طرف هم شته او هغه دا چې انساني شخصيت په خپل جوړښت او طبيعت كې يو واحد دی او د يو واحد په څېر خپلې ټولې دندې سر ته رسوي، او ددې واحد حركت او قدمونه تر هغه پورې سمېدلی نشي تر څو چې د يوې داسې تګلارې په واسطه رهبري نشي چې هغې تګلارې د يو فكر څخه سرچينه اخستې وي.

خو كه چيري د انسان په ضمير او خيال كې په يو قانون فيصله كېږي او دده په عمل او د ژوند په كړو وړو كې بل قانون فيصله كوي او دغه دواړه قوانين د بېلابېلو فكرونو څخه سرچينه اخلي، چې يو قانون د انساني فكر څخه او بل قانون د الله د وحې څخه نو دغه انسان به په يو ستره ناروغي باندې اخته شي، او يا به يې په فكري او عملي ژوند كې يو غټ توپير راشي او د غم او حيرانتيا سره به مخ شي.

نن چې مونږ د امريكا او اروپا په پرمختللو هېوادونو كې څه ګورو دا د هغه كړكيچ ثمره ده چې د كمزورې ديني عقيدې او د هغه عملي ژوند تر مينځ شتون لري كوم چې پداسې فكر او بنياد ولاړ دي چې د دين سره يې هېڅ اړيكې نشته او دا هر څه د هغه ناوړه بېلتون له امله رامينځ ته شول چې ژوند او دين يې سره جلا كړل، او ددې بېلتون لامل هغه ځانګړې اسباب وو چې په تحريف شوي مسيحي دين كې يې شتون درلود. [1]

دا يوازې د الله ((دين)) دی چې د موجوداتو مقصد، د پيدا كوونكي

---

۱- ددې تفصيل په راروان فصل ((ناوړه بېلتون)) كې وګورئ.

سره یې اړیکې، په موجوداتو کې د انسان مرتبه او د انسان د پیدا کېدو مقصد په پوره ډول ښکاره کوي لدې امله دا ((دین)) په شامل ډول هغه اړیکې هم په ګوته کوي کومې چې د انسان د ژوند هدف او مقصد په هغه حدودو کې پوره کوي کوم حدود چې په کایناتو کې دده لپاره ټاکل شوي دي او د هغه حقونو له امله چې انسان ته دده د مرتبې له امله ورکړل شوی او هغه وسایل هم ورته په ګوته کوي کوم چې دی پرې خپل هدف ترلاسه کوي او د خپلو حقونو او مرتبې څخه یې ونه باسي، هغه وسایل چې دی پرې د الله تعالی رضا او د دنیا او آخرت نیک بختي ترلاسه کړي.

خو دا هر څه په یوه داسې تګلاره ترسره کېدای شي چې هغه نه انسان ټوټه ټوټه کوي او نه د هغه شخصیت په ناروغي اخته کوي او نه دده او د کایناتو د فطرت تر مینځ ټکر واقع کوي.

لدې امله هر ((دین)) د الله لخوا ددې لپاره راغلی چې انسانیت ته د عقیدوي فکر هغه بنیاد وړاندې کړي په کوم چې دده ټول فکري او عملي ژوند ولاړ دی، دین ددې لپاره دی چې انسان خپل رب ته راوګرځوي او ددوی ژوند د خپلې یواځینۍ تګلارې سره برابر کړي، ددې لپاره چې ددوی د فکر او عمل تر مینځ جوړښت راشي، ددوی د عقیدې او کړو وړو ترمینځ یووالی رامینځ ته شي، او تر څو د انسان حرکت د کایناتو سره برابر شي.

د الله دین ددې لپاره راغلی چې د دنیا په کارونو کې عملي شي او خلک یې د خپل ژوند په ټولو کړو وړو کې تابعداري وکړي، دین ددې لپاره ندی راغلی چې فقط ددوی په فکرونو کې د یو خیال په ډول پاتې شي او یا ددوی د اخلاقو لپاره یو روحاني سمون واقع شي او یا د عبادت

يو څو بېلګې دي چې دوی يې په جماعتونو او عبادت ځايونو کې ترسره کړي، او نه دا د ژوند په يو طرف کې د شخصي حالاتو د فيصله کوونکي په ډول راغلی.

(وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّـهِ ) النساء: ٦٤

(( مونږ چې هر پيغمبر لېږلی دی ددې لپاره مو لېږلی چې د الله په حکم د هغه اطاعت وکړای شي. ))

دغه شان په تورات کې عقيده او قانون دواړه وو او د تورات په منونکو دا لازمه وه چې د خپل ژوند کړه وړه په تورات فيصله کړي، داسې نه چې د هغه څخه د نصيحتونو يو کتاب جوړ کړي چې د فکر او عقيدې پرته يکې نور څه نه وي، او يا د هغې احکام فقط د عبادت يو څو بېلګې وګرځول شي چې په (عبادت ځايونو) هيکلونو کې ترسره کېږي، الله تعالى وايي:

إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَابِ اللَّـهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّـهُ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّـهُ فَأُولَـٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿٤٥﴾ المائدة: ٤٤ ـ ٤٥

((مونږ تورات نازل کړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا وه ټولو پيغمبرانو چې مسلمانان وو د هماغه سره سمې ددغو کسانو چارې او په همدې شان الله پالونکو او احبارو هم (د فيصلو مدار هماغه تاکلی ؤ) ځکه چې هغوی ته د الله د کتاب د ساتنې مسئوليت ورپه غاړه شوی ؤ او

پر هغه باندې هغوی شاهدان وو- نو (ای د یهودو ډلې!) تاسو له خلکو مه ویرېږئ بلکې له ما نه وویرېږئ او د لږې لږې بدلې اخیستلو په مقابل کې زما د ایاتونو پلورل پرېږدئ، کوم خلک چې د الله د نازل کړې قانون سره سمې فیصلې ونکړي هغوی کافران دي، په تورات کې مونږ یهودیانو ته دا حکم لیکلی ؤ چې د نفس په بدل کې نفس، د سترګې په بدل کې سترګه، د پوزې په بدل کې پوزه، دغوږ په بدل کې غوږ، د غاښ په بدل کې غاښ او د ټولو زخمونو لپاره برابره بدله ده، نو که څوک قصاص معاف کړي نو د هغه لپاره به کفاره وګرځي او کوم خلک چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونکړي هغوی ظالمان دي))

په قرآن کریم کې چې د تورات په اړه دا څه ویل شوي دا د هغه احکامو یوه نمونه ده چې په تورات کې وو او پر هغې باندې موسی علیه السلام او دهغه څخه وروستیو پیغمبرانو تر پېړیو پورې د بني اسرائیلو د ژوند فیصلې کولې.

لدې څخه وروسته عیسی علیه السلام بني اسرائیلو ته د خپل دین سره راغی، هغه ددوی د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر دی، چې د لږو تبدیلیو سره یې د تورات قوانین تایید کړل، تر څو د بني اسرائیلو څخه هغه درانه حکمونه لیرې کړي چې یا د ادب ورکونې او سمولو په خاطر پدوی مقرر شوي وو او یا ددوی د ګناهونو د کفارې په ډول پرې لګول شوي وو. لکه څرنګه چې قرآنکریم هغې ته اشاره کوي:

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلاَّ مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ذَلِكَ جَزَيْنَاهُم بِبَغْيِهِمْ وِإِنَّا لَصَادِقُونَ [الأنعام: ١٤٦]

((او کومو خلکو چې یهودیت غوره کړی ؤ پر هغو باندې مونږ ټول نوکانو والا ځناور حرام کړي وو، او دغوایانو او پسونو وازده هم، له هغې نه پرته چې د هغو په پختیو یا د هغو په کولمو یا په هډوکو پورې نښتې وي، دا مونږ دهغو د سرغړونې سزا هغوی ته ورکړې وه او دا څه چې مونږ وایو ښېخي رښتیا وایو)).

دغه ترمیمونکی قانون ددې لپاره راغی تر څو د خلکو د واک او ژوند سمبالولو لپاره یو نظام شي، الله تعالی وایي:

وَقَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِم بِعَيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَآتَيْنَاهُ الإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الإِنجِيلِ بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فِيهِ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٤٧﴾ [المائدة: ٤٦ – ٤٧]

((بیا مونږ له هغو پیغمبرانو وروسته د مریم (علیها السلام) زوی عیسی (علیه السلام) ولېږه، د تورات نه چې کوم شی د هغه په وړاندې موجود ؤ د هغه رېښتینی کوونکی ؤ، او مونږ هغه ته انجیل ورکړ چې په هغه کې لارښوونه او رڼا وه او هغه هم د تورات دهغه څه چې په هغه وخت کې موجود وو رېښتینی کوونکی ؤ او د الله نه د وېرېدونکو خلکو لپاره سر تر پایه هدایت او نصیحت ؤ. (زمونږ حکم دا ؤ چې) د انجیل خاوندان دې له هغه قانون سره سمه فیصله وکړي چې الله په هغه نازل کړی ؤ او کوم خلک چې د الله د نازل کړي قانون سره سمه فیصله ونکړي هغوی فاسقان دي.

لدې وروسته محمد صلی الله علیه و سلم د اسلام سره راغی چې د مخکینو ټولو اسماني قوانینو سره هېڅ ټکر نه لري، بلکې د هغوی رښتینی کوونکی او ساتونکی دی، لدې امله چې اسلام د ټول بشریت

لپاره یو پوره اخیرنی پیغام دی چې انساني لارښوونه په ډاګه کوي، او په پوره ډول هغه څه ښکاره کوي چې په هغې باندې د انساني ژوند نظام ولاړ دی، او د هغې په واسطه انسان د جاهلیت او ناپوهی څخه د الله پالنې په لور حرکت کوي، او د هغوی ژوند د الله تعالی قانون ته سپاري، لکه څرنګه چې د هغوی په ضمیر کې د الله څخه وېره پیدا کوي الله پاک فرمائی چې:

وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ عَمَّا جَاءكَ مِنَ الْحَقِّ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا وَلَوْ شَاء اللّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُم فَاسْتَبِقُوا الخَيْرَاتِ إِلَى الله مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾ وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللّهُ إِلَيْكَ فَإِن تَوَلَّوْاْ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللّهُ أَن يُصِيبَهُم بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ ﴿٤٩﴾ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾ [المائدة: ٤٨ – ٥٠]

((او ای محمده! مونږ تا ته دا کتاب درلیږلی چې په حقه راغلی دی او کوم کتاب چې دده څخه وړاندې موجود دی د هغه رښتینی کوونکی او د هغوی ساتونکی او محافظ دی، نو لدې کبله ته د الله د نازل کړي قانون سره سم د خلکو چارې فیصله کړه او کوم حق چې تا ته راغلي دي له هغه نه په مخ اړولو سره د هغو د غوښتنو پیروي مه کوه ، مونږ له تاسي څخه د هر یو لپاره یو قانون او یوه عملي تګلاره ټاکلې ده که څه هم چې که ستاسي الله غوښتي وي نو تاسو ټول یې یو امت هم جوړولی شواي، خو هغه دا ددې لپاره وکړل چې څه شی چې یې تاسو ته در کړی دی په هغه کې تاسو وازمايي. نو په ښه کارونو کې د یو بل څخه

وړاندې شی، په آخر کې به تاسو ټول الله ته ورګرځی، بیا به تاسو ته د هغه څه حقیقت دروښایي چې تاسو په کې اختلاف کوو، نو ای محمده! ته د الله د نازل کړي قانون سره سم ددې خلکو د کارونو فیصله کوه او د هغو د خواهشاتو تابعداري مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا د هغه څه ځنې وانه ړوي کوم څه چې الله تا ته رالیږلي دي. نو که دوی ورڅخه مخ واړوي نو پوه شه چې ددوی د ځینې ګناهونو د بدلي ورکولو الله تعالی اراده کړې ده، حقیقت دادی چې په خلکو کې ډېر فاسقان دي (که دوی د الله له قانون څخه مخ اړوي) نو ایا بیا دوی د جاهلیت فیصلو ته غاړه ږدي، پداسې حال کې چې کوم خلک په الله باور لري د هغوی په نزد د الله څخه بل غوره فیصله کوونکی نشته))

ددې لویو دینونو څخه مخکې هر یو دین ددې لپاره راغلی ؤ چې خلک یوازې د الله بندګۍ او د هغه تګلارې ته راوګرځوي، د نوح علیه السلام څخه شروع هر پیغمبر پدغه یوه تګلاره سفر کړی دی چې د هغوی ټولو تګلاره په بنسټیزه توګه یوه او د حکمونو په تفصیل کې یې د یو بل سره توپیر درلود، خو د ټولو لوی او بنسټیز هدف دا ؤ چې: ((انسانان د انسانانو د بندګۍ څخه خلاص او د یو الله په بندګۍ کې یې ننباسي، ناحق خدایان د مینځه یوسي او الوهیت او ربوبیت یوازې د یو الله حق ومني .

په یو بل ځای کې قرآنکریم دا حقیقت په لنډو ټکو په ګوته کوي او یواځینۍ هغه لاره بیانوي چې انسان پرې الله ته رسیږي او هغه دا چې: الله تعالی د ټولو کایناتو او انسانانو پیدا کوونکی دی او د هغه په لاس کې د کایناتو او انسانانو اختیار دی، پدغه ډول ددې اخیرني دین مرتبه او مقام په ډاګه کوي او دا ښکاره کوي چې څرنګه دا دین د مخکنیو

دینونو ساتونکی دی، او همدغه شان ددې دین د منونکو او لدې ځخه د سرغړونکو فرق بیانوي، وایي چې:

وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِن شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ ذَلِكُمُ اللَّهُ رَبِّي عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿١٠﴾ فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ ﴿١١﴾ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٢﴾ شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِينَ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ اللَّهُ يَجْتَبِي إِلَيْهِ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾ وَمَا تَفَرَّقُوا إِلَّا مِن بَعْدِ مَا جَاءهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ إِلَى أَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ أُورِثُوا الْكِتَابَ مِن بَعْدِهِمْ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيبٍ ﴿١٤﴾ فَلِذَلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَقُلْ آمَنتُ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِن كِتَابٍ وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ اللَّهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ اللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ [الشورى: ١٠ - ١٥ ]

(( ستاسو په مینځ کې چې په هره معامله کې اختلاف وي نو د هغې په اړه فیصله کول د الله کار دی، دغه الله زما پالونکی دی، ما په هغې توکل کړی دی او هغه ته به زه ورګرځم، هغه اسمانونه او ځمکه پیدا کړي دي، هغه ستاسو لپاره ستاسو د جنس ځخه جوړه پیدا کړې ده او د حیوانانو لپاره یې هم (د هغوی د جنس ځخه) جوړه پیدا کړې ده چې پدغه ډول ستاسو نسل زیاتوي، په کایناتو کې دده په شان ځه شی نشته، هغه هر ځه اوري اوویني یې. د اسمانونو او ځمکو د خزانو کیلې ګانې د هغه سره دي، په خپله خوښه چا ته پراخه روزي ورکوي او د چا رزق تنګوي، هغه د هر ځه په اړه علم لري. هغه ستاسو لپاره د ژوند تېرولو

هغه طریقه مقرره کړې ده د کومې حکم یې چې نوح علیه السلام ته کړی ؤ، او کومه چې اوس مونږ ته د وحې په ذریعه درلېږلی او د کومې لاربنوونه چې مونږ ابراهیم، موسی او عیسی (علیهم السلام) ته کړې وه ددې تاکید سره چې دین عملي کړئ او بې اتفاقي مه کوئ، ته چې څه شي ته خلک رادعوت کوې هغه د مشرکانو سخت بد ایشي، الله په خپله خوښه څوک ځان ته نژدې کوي او څوک چې الله ته ورګرځي هغه ته سمه لاره ښيي. خلکو د علم او پوهې څخه وروسته د زور زیاتي له امله بې اتفاقي غوره کړه، که چیرې د یوې تاکلې نېټې پورې د وروسته کولو په خاطر ستا د رب فیصله نه وی نو ددوی فیصله به تر اوسه شوې وای، کومو خلکو ته چې په میراث کې کتاب پاتې شوی هغوی د دغه کتاب په اړه په سخت شک کې اخته دی لدې امله ای محمده! ته د دغه دین طرف ته دعوت ورکوه. او څرنګه چې تا ته حکم شوی پدې دین کلک اوسه او ددې خلکو دخواهشاتو تابعداري مه کوه او ووایه چې: ما په هغه کتاب ایمان راوړی کوم چې الله نازل کړی دی، ما ته ستاسو په مینځ کې د انصاف کولو حکم شوی دی، الله زما او ستاسو رب دی، زمونږ لپاره زمونږ او ستاسو لپاره ستاسو عملونه دي، زمونږ او ستاسو تر مینح کومه جګړه نشته، مونږ ټول به الله یوځای کړي او هغه ته به ټول ورځو)).

قرآنکریم مونږ ته د شعیب علیه السلام او د هغه د قوم د مدین د اوسېدونکو په اړه معلومات راکوي چې هغه علیه السلام په عملي ژوند کې د شریعت د تابعدارۍ طرف ته بلنه ورکوله او قوم ورسره دا خبره نه منله، ځکه چې هغوی د دین د طبعیت څخه ناخبره وو او دا یې نه منله چې شرعیت دې د ټول ژوند لپاره تګلاره وي، بلکې هغوی دین یوازې د عقیدې او په عبادت ځایونو کې د یو څو عبادتي بېلګو د ترسره

کولو نوم ګرځولی وو، لکه د اوسني جاهليت په ډول هغوی هم د دين په اړه فکر کاوه، د هغوی په اړه الله تعالی وايي چې:

وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ وَلاَ تَنقُصُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّيَ أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّيَ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾ وَيَا قَوْمِ أَوْفُواْ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ أَشْيَاءهُمْ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّةُ اللّهِ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ وَمَا أَنَاْ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿٨٦﴾ قَالُواْ يَا شُعَيْبُ أَصَلاَتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاء إِنَّكَ لَأَنتَ الْحَلِيمُ الرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾ [هود: ٨٤ – ٨٧]

((د مدين اوسېدونکو ته مې د هغوی قومي ورور شعيب لېږلی ؤ، هغه وويل: ای زما قومه د هغه الله عبادت وکړئ چې د هغه پرته بل د عبادت وړ نشته، په پيمانه او تول کې کمی مه کوئ، د خلکو شيان مه کموی، چې پدې ډول به تاسو په زمکه کې د فساد کوونکو څخه جوړ شئ، د الله ورکړه ستاسو لپاره ښه ده که په هغه باور لرئ، خو زه پر تاسو څارونکی نه يم مقرر شوی. هغوی په ځواب کې ورته وويل: ای شعيبه! آيا تا ته ستا لمونځ دا ښوونه کوي چې مونږ هغه څه پرېږدو چې زمونږ پلرونو به يې عبادت کولو او يا دا چې مونږ په خپلو مالونو کې د خپلې خوښې د چلند څخه لاس واخلو ته خو مونږ ته ډېر صبرناک او هوښيار ښکارېدې))

او هم دغه حقيقت د صالح عليه السلام په قيصه کې څرګند دی چې قرآن کريم يې مونږ ته پدې ډول بيانوي:

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ [الشعراء: ١٥٠ – ١٥٢]

(هغه خپل قوم ته وويل چې) د الله څخه ووېرېږئ او زما خبره ومنئ، د هغه زياتي کوونکو خلکو خبره مه منئ چې په زمکه کې فساد

خېروي او اصلاح ته جوړ ندي))

صالح علیه السلام خپل قوم د الله دین ته او د ژوند تېرولو لپاره د هغه تګلارې ته رابلي تر څو د زیاتي کوونکو فسادیانو د طریقې او تګلارې څخه یې وساتي، ددې لپاره چې د ژوند په نظام کې هغوی د بندګانو د بندګۍ څخه خلاص کړي او د الله په بندګۍ کې یې داخل کړي.

په یو بل ځای کې الله تعالی د ټولو پیغمبرانو او په عامه توګه د الله د کتاب وظیفه مشخصه کوي او هغه وظیفه د خلکو تر مینځ د هغو په خپل مینځي شخړو کې فیصله کول دي، الله تعالی فرمایي چې:

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلاَّ الَّذِينَ أُوتُوهُ مِن بَعْدِ مَا جَاءتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللّهُ الَّذِينَ آمَنُواْ لِمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللّهُ يَهْدِي مَن يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ [البقرة: ٢١٣]

((په لومړي وخت کې ټول خلک په یوه لار (توحید) روان وو. (بیا چې دې وضعې دوام ونکړ او اختلافونه رامینځ ته شول) نو الله پیغمبران ولېږل چې په سم تګ زیری ورکوونکی اود انحراف له نتیجو څخه ویروونکي وو او د هغو سره یو ځای یې حق کتاب ولېږه تر څو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو تر مینځ راغلي وو فیصله کړي...))

ددغه وظیفې د سر ته رسولو له امله ټول اختلافونه له مینځه ځي، د الله د دین معنی په ډاګه کېږي او هغه دا چې د الله دین د ژوند دتېرولو د هغه نظام په معنی دی چې الله تعالی یې غواړي.

د دین د طبعیت د ښکاره کولو او دا چې دین د واقعي ژوندانه نظام دی، پدې هکله پدې لنډ بحث کې د نور زیات تفصیل اړتیا نشته، ځکه چې کله دین د خپلو ځانګړو تصوراتو، فهم، قوانینو او لارښوونو له مخې د واقعي ژوند د برابرولو څخه خالي شي نو بیا دین هېڅ معنی نه

لري.

د انسان ژوند باید د عقیدوي مفکورې پر بنسټ ولاړ وي، هغه فکر چې د موجوداتو حقیقت، د پیدا کوونکي سره یې اړیکې، په موجوداتو کې د انسان ځای، د انسان د پیدایش مقصد او هغه اړیکې ښکاره کړي کومې چې دغه هدف او مقصد پوره کوي، هغه که د انسان او د رب تر مینځ اړیکې وي او که د انسان د نورو کایناتو او یا د نورو ژوندیو شیانو سره او یا د انسانانو په خپل مینځ کی اړیکې وي، خو دا هر څه باید په هغه طریقه وي چې الله یې د خپلو بندګانو څخه غواړي.

که چیري دا پوره او هر اړخیز بیان د الله له خوا ونشي او هم پدغه هر اړخیز تفسیر باندې د ژوند نظام ونه دریږي نو دا هر څه بیا د انسان خواهشات دي او دا هغه جاهلیت دی چې د الله دین یې مخالف دی، او هر دین ددې لپاره راغلی دی، تر څو خلک ددغه جاهلیت څخه خلاص کړي. او د الله بندګان یې جوړ کړي.

که د الله په بندګۍ کې هر څه د هغه د لارښوونو څخه ترلاسه نشي نو بیا دا د الله عبادت نه بلکې د انسانانو عبادت دی او د الله د دین د راتلو مقصد خو دادی چې ټول انسانان د انسانانو د غلامۍ څخه آزاد کړي.

ددې ښکاره حقیقت چې اختلاف پکې پکار ندی نور زیات بیان ته اړتیا نشته که چیري هغه ناوړه کوښښوونه نه وي کوم چې په اروپا کې ترسره شول او په نتیجه کې یې هغه ((ناوړه بیلتون)) را مینځ ته شو کوم چې دین او حکومت (دولت) بلکې دین او ژوند یې سره جدا کړل.

پکار ده چې اوس مونږ یو ځغلند نظر په هغه ناوړه کارونو واچوو د کوم څخه چې الله تعالی مونږ په خپل تاریخ او دین کې وساتلو خو له بده مرغه مونږ په خپله د هغې ناوړه مبوه له هغه ځایه (اروپا) څخه راوړه.

# نــاوړه بيـلتون

ددې دين طبعيت دا نـه دی چې د دنيـا څخـه دې جدا کړل شـي او نـه د الله د تګـلارې دا طبعيـت دی چـې يـوازې دی پـه يـو څـو خيـالي جـذباتو، سموونکو اخلاقو، يو څو عبادتي بېلګو، يا د ژوند په يوه تنګه برخـه کې چې شخصي حالات ورته ويل کيږي را بند کړل شي.

ددې ديـن طبعيت دا نـه دی چې د انسـاني ژونـد يوه وړه برخـه دې الله ته وسپارل شي او نـور ټول ژوند دې نـورو خدايانو تـه وسپارل شـي چې پـه هغـې کـې د فيصـلې کولـو لپـاره، قاعـدې، لارې، نظامونـه او قـوانين د خپلو خواهشاتو موافق جوړ کړي پرتـه لـدې چې د الله تعـالی څخـه پـه کې لارښونه واخلي.

ددې ديـن طبعيـت دا نــه دی چـې د آخـرت لپـاره تـرې يـوه داسـې لار جوړه شي چې په دنيا باندې نه تېرېږي، داسې يوه لار چې پـه هغـې بانـدې پـه تـګ سره خلـک پـه آخرت کې د فردوس د لاس تـه راوړلـو پـه انتظـار وي. پرته لدې چې په دنيا کې کـار وکړي، دنيـا آباده کړي، پـه دنيـا کـې د الله تعالی د تګلارې او خوښې موافق خلافت او حکومت وکړي.

ددې ديـن طبعيـت دا نـه دی چې پـه داسې نـاوړه طريقـه دې بـدل کـړی

شي او د ماشومانو د لوبو سامان ورڅخه جوړ کړل شي او دی فقط په یو څو رسمونو کې خلاصه شي چې د عملي ژوند د برابرولو سره یې هېڅ کار نه وي. دا د هېڅ یو دین طبیعت نه دی چې داسې لوبې دې ورسره وشي، نو چې دین داسې شی نه دی نو بیا دا منفي شرمونکي مفکوره د کومه ځایه راغله او څرنګه د دین او دنیا تر مینځ دا ناوړه بیلتون رامینځ ته شو؟

دا (ناوړه بیلتون) په ډېرو ناوړه حالاتو کې مینځ ته راغی، چې ددغه حالاتو ویجاړونکي آثار په اروپا او په ټوله نړۍ کې هغه وخت ښکاره شول کله چې د لویدیځ مفکورو، تنظیمونو او حالاتو د نړۍ په لویدیځ او ختیځ کې په انسانیت باندې ظلم او تیری وکړ.

پدغه وخت کې چې د مخلوقاتو ژوند د خالق د تګلارې څخه جدا شو، ددې پرته بله چاره نه وه چې انسانیت به هم په دغه سخته لاره روانیږي او دغه تبا کوونکي نتیجې ته به رسي، او انسانیت به په یو داسې مصیبت کې ګرفتاریږي چې تر اوسه د هغې په عذاب کې سوزي او د یو بل سره د جنګ او بې اتفاقۍ خوند به څکي. په داسې حال کې چې دغه حیران انسانیت ددغه ستر مصیبت څخه د خلاصې د لارې د پېژندلو څخه عاجزه دی او دوی د خلاصې لپاره چیغې وهي.

دلته د هغه مصیبت او بدبختۍ د بیانولو ځای نشته د کوم له امله چې انسانیت چیغې وهي، ځکه د هغې په هکله به په راروانو فصلونو کې معلومات وړاندې شي، خو مونږ دلته هغه حالات وړاندې کوو د کومو له امله چې دا ((ناوړه)) بیلتون را مینځ ته شو.

یهودیت ددې لپاره راغلی ؤ چې د بني اسرائیلو د ژوند تېرولو لپاره تګلاره جوړه شي، لکه چې ددې څخه د مخه هر یو دین ددې لپاره وو

چې د هغه وخت د خلکو لپاره تګلاره شي، او همدغه حال د مسیحیت هم دی چې مقصد یې د بني اسرائیلو د ژوند تېرولو لپاره یوه ترمیمونکې تګلاره تشکیلول وو.

خو یهودانو د عیسی علیه السلام پیغام قبول نه کړ او نه یې هغه اسانتیاوې ومنلې کومې چې عیسی علیه السلام ددوی لپاره د الله جل جلاله لخوا راوړی وې. قرآنکریم وایي:

ژباړه: (عیسی علیه السلام ورته وویل زه زما څخه د مخه د راغلي (تورات) رښتینولي کوونکی یم، او ددې لپاره راغلی یم چې پر تاسو ځینې حرام شیان (د الله په حکم) تاسو ته حلال کړم، او ستاسو د رب لخوا مې ځینې علامې (معجزي) هم راوړي دي، نو تاسو د الله څخه وېره وکړئ او زما خبره ومنئ) [سورة آل عمران: ٥٠].

یهود د عیسی علیه السلام او د هغه د سپیڅلي، روح پاکوونکي، او امن خوښونکي دعوت په خلاف راپاڅېدل، او هغه اسانتیاوې یې هم ونه منلې کومې چې هغه علیه السلام راوړی وې تر څو دوی د هغه شکلي رواجونو څخه خلاص کړي د کومو چې د زړونو د تقوی سره هېڅ اړیکې نه وې، تر دې چې د شام پر ځمکه یې رومي حاکم ((بیلاطیس)) د عیسی علیه السلام د وژلو او په دار ځړولو لپاره راوپاروه، خو هغه الله جل جلاله په هغه ډول اسمان ته پورته کړ چې مونږ ته یې علم نشته.

خو په هر شکل ددې څخه وروسته د یهودو او د عیسی علیه السلام د منونکو تر مینځ اړیکې خرابې شوې تر دې چې د عیسی علیه السلام د منونکو په زړونو کې یهودو ته سخته کینه پیدا شوه او د یهودو په زړونو کې هغوی ته چې په نتیجه کې دواړه د یو بل څخه جدا شول او یهودیت او مسیحیت رامینځ ته شول، حالانکه مسیحیت د یهودیت د تجدید او په ځینې احکامو کې د لږ بدلون لپاره راغلی ؤ، تر څو چې د عیسی علیه

السلام د ښکاره دعوت په واسطه روحي ژوند او ژور اخلاقي سمون رامینځ ته شي.

کله چې د یهودیت او مسیحیت تر مینځ جدایي بلکې بغض او کینه پیدا شوه نو د مسیحیانو کتاب (انجیل) هم د تورات څخه جلا شو اګر که تورات هم ددوی په نظر کې سپیڅلی کتاب دی، په دغه ډول د هغوی قانون هم د تورات د قانون څخه جدا شو. حالانکه د بني اسرائیلو د ژوند تېرولو لپاره قانون په تورات کې دی، نو کله چې دوی جدا شول نو ددوی سره داسې یو قانون پاتې نشو چې دوی پرې خپل ژوند برابر کړي.

خو هغه عقیدوي فکر چې عیسی علیه السلام د الله لخوا راوړی ؤ که په خپل اصلي شکل پاتی شوی وی نو هغې کولی شول چې د کایناتو سم تفسیر، په هغې کې د انسان مرتبه او د انسان د ژوند هدف وړاندې کړي، هغه تفسیر چې په هغې باندې ټولنیز نظام ودرېدی شو او که دغه عقیدوي فکر سالم پاتی شوی وی نو هغه دا کولی شول چې مسیحیان د تورات د قانون پابند کړي، سره د ځینې اسانتیاؤ سره چې عیسی علیه السلام په عبادت او د ژوند په نورو کارونو کې د الله په حکم راوړی ؤ.

خو څه چې پېښ شول هغه دا وو چې د عیسی علیه السلام منونکي د یوې اوږدې مودې لپاره د سخت زور زیاتي سره مخ شول، دغه زور زیاتی یا د یهودیانو له خوا کېده یا د هغو بت پرستو رومیانو له خوا چې د مسیحیانو په ځمکه یې حکومت کولو، دغه زور زیاتی د عیسی علیه السلام منونکي پټېدو او په پټه حرکت او عمل کولو ته د یو اوږد وخت لپاره اړ کړل.

دغه حالت مسیحیان دېته اړ کړل چې د انجیل نصوص، د عیسی علیه السلام ژوند او د هغه دوخت حالات په سرسري ډول سره راټول

کـړي، او دغــه ټولــو شــيانو تــه د انجيــل نــوم ورکــړل شــوحالانکه داجداجداشيان ووچې په صحيح او پرله پسی توګه نه وو راوړل شوی.

د ټولو څخه اولنی انجيل دعيسی عليه السلام اسمان ته د پورته کېدو پوره يوه پېړۍ وروسته ليکل شوی، چې د ليکلو د تاريخ او د ژبې په اړه يې د مسيحي تاريخ پوهانو تر مينځ ژور اختلاف شته ځکه اوس يوازې د انجيل ژباړې شته او اصل انجيل وجود نه لري.

((پولسpawl)) چې د عيسی عليه السلام د شاګردانو څخه نه وو او نه يې هغه ليدلی ؤ او له رومي بت پرستۍ څخه وروسته يې مسحيت قبول کړی ؤ په اروپا کې د مسيحيت د خپرولو کار دده په غاړه وو چې نوموړی د مسيحيت سره د رومي بت پرستۍ او د يوناني فلسفې هغه افکار يو کړل چې د مخکې څخه دده په ذهن کې وو، دې کار په اروپا کې مسيحيت ته د اولنۍ ورځې څخه ډېر نقصان ورسولو، چې د هغه نقصان څخه هم ډېر وو کوم چې د زور زياتي په وخت کې مسيحيت ته رسيدلی ؤ.

((پولس pawl)) خپل نظريات او افکار د لومړۍ پېړۍ وروسته وليکل چې ددې ښکارندوی دي چې ده ديني مثالونه او فلسفي نظريې سره يو کړي دي. په ځانګړي ډول د حلول فلسفه دی وايي چې:((مسيح د الله تعالی ښي طرف ته ناست دی، او څوک چې د ده خير غواړي د هغو لپاره دعا کوي چې په هغوی کې د الله کلمه ځای ونيسي هغوی ته ببننه وکړي، او دوی ته زيری ورکوي چې کله دی ځمکې ته راشي نو دوی ته به عزت ورکړي)) دده د خبرو څخه داسې ښکاري چې نوموړی په نزدې وخت کې د هغه د راتلو په انتظار دی، هغه ته په دې نوم اشاره کوي ((زمونږ رب يسوع مسيح)) او خپل ځان ته د ((يسوع مسيح

استازي (پيغام رسونکی) وايي چې ګواګي د الله په حکم مقرر شوی دی[١]

د مسيحيت لپاره ددې څخه هم ستر مصيبت (چې په ښکاره د مسيحيت برياليتوب ؤ) هغه وخت رامينځ ته شو کله چې رومي امپراطور ((قسطنطين constantine)) مسيحيت قبول کړ، چې په دې سره مسيحي دله وتوانېده تر څو په ٢٥٥ ميلادي کال کي د امپراطورۍ واکدار ګوند جوړ شي.

يو امريکايي ليکوال ((ډراپر draper)) په خپل کتاب ((دين او ساينس)) کې دا پېښه او دهغي ناوړه پايلو ته داسي اشاره کوي: ((د منافقينو د اغېزې له امله شرک او بت پرستۍ په مسيحيت کې نفوذ وکړ، ځکه چې دغه خلکو په رومي دولت کې لوړې دندې او اوچت منصبونه لرل، حالانکه دوی په ښکاره مسيحيان وو خو په دين نه پوهېدل او نه يې يوه ورځ دين ته په اخلاص کار کړی ؤ، تر دې چې هغه ((قسطنطين)) چې ټول عمر يې په ظلم او زور زياتي کې تېر کړی ؤ، د ژوند د آخرني لږ وخت پرته يې کله هم د کليسا حکم ته غاړه نه وه اېښې.

سره لدې چې مسيحيانو د ((قسطنطين)) د واک له امله طاقت لاس ته راوړی ؤ خو هغوی په دې ونه توانېدل تر څو د بت پرستۍ زور له مينځه يوسي او د شرک جراثيم ختم کړي. چې ددې له امله مسيحيت او بت پرستي سره يو ځای شول او يو نوی دين ترې جوړ شو. پدې کار کې اسلام د مسيحيت سره توپير لري، ځکه اسلام د اولې ورځې څخه د بت پرستۍ پر خلاف سخته مبارزه وکړه او خپله عقيده يې په سم ډول خپره کړه.

---

١- د استاد عباس محمود عقاد د کتاب ((الله)) څخه.

امپراطـور چـې د دنيـا بنـده ؤ او دينـي عقيـدې ورتـه هـېڅ ارزښـت نـه درلود د خپلې شخصي او د دواړو (مسيحي او شركي) ګټو خوندي کولو په خاطر يې دواړه سره يو کړل، تر دې چې سخت دريځو مسيحيانو هم په دې کار نيوکه ونکړه، ځکه کېداى شول دوى به دا ګمان کولو چې په دې کار سره به مسحيت وده وکړي او پـه آخر کـې بـه د بت پرستۍ څخـه خلاص شي. ۱

ځرنګـه چـې بنسـټ پـالو مسـيحيانو طمعـه درلـوده دغـه نـوى ديـن لـدې وروسـته هـېڅ کلـه هـم د بـت پرسـتۍ د نجاسـت څخـه خلاصـى ونـه مونـد، بلکې هغه د بت پرستۍ د تصـوراتو او خرافـاتو تـر اغېزې لانـدې شـو، تـر دې پورې چې دغه دين د سياسـي او تـوکميزو اختلافـاتو تـر اغېزې لانـدې راغى او د سياسـي اهدافو د پوره کولـو پـه خـاطر پـه کـې د عقيـدې بدلېدل شروع شول.

الفرد بټلر ((Butler)) پـه خپل کتـاب ((مصـر د عربـو پـه لاس کـې)) چې عربي ژباړه يې استاذ ((محد فريد ابوحديد)) کړې ليکلـي چـې (( دغـه دواړه پېړۍ (پنځمه، شپږمه) د مصريانو او روميانو تر مينځ د پرلـه پسـې مقابلې زمانه وه، يوه داسـې مقابلـه چـې پـه جنس او دين کـې د اختلاف لـه املـه يـې نـور هـم اور تـازه کېـدو، خـو د ديـن پـه سـر اخـتلاف د قـومي او تـوکميز اخـتلاف څخـه زيـات ؤ ځکـه چـې اصـل سـبب پدغـه وخـت کـې د ((ملکانيـانو)) او ((منوفيسـيانو)) تـر مينـځ دښـمني وه، چـې اولـه ډلـه ((ملکاني)) ځرنګه يې چې ددې نوم نـه ځرګندېږي د امپراتورۍ او دولت

---

۱- د ابـو الـحسن علي الـنـدوي د کـتـاب ((مـا ذا خسر الـعـالـم بـانـحطاط الـمسلمين)) څخه.

مــذهبي ډلــه وه. او دې ډلــي عقيــده لرلــه چــې مســيح عليــه الســلام د ((ازدواجي)) غبرګوني طبعيت څښتن دی (يعنی الهی او بشري).

خو ددې په مقابل کې دوهمه ډله چې د مصر د منوفيسي قبطيانو ډله وه هغوی دا عقيده په کلکه ردوله او سخته کرکه يې ورسره درلوده، دا دښمني دومره سخته او کرکجنه وه چې د يو عقل مند قوم څخه يي تصور نه شي کيدی پرته لداسې يو قوم څخه چې په انجيل باندې هم ايمان لري)).

يو بل ليکوال ((ت، و، ارنولدArnold)) په خپل کتاب ((اسلام ته بلنه)) چې عربي ژباړه يې ((حسن ابراهيم)) او د هغه دوه ملګرو کړې ده، ددغه توکميزو، ډلييزو او سياسي اختلافاتو او په مسيحيت باندې د هغې په نتيجه کې د بدعتونو، زيانونو او ترميمونو په شکل کې د شوو اغيزو په هکله داسې ليکلي:

((د اسلامي فتحي څخه قابو سل کاله مخکې ((جستنيان Jstinan )) پدې بريالی شو چې د روم امپراتوري لاس ته راوړي چې د يووالي سمبول ؤ خو د هغه د مرګ څخه وروسته دغه امپراتوري ډېره زر وپاشل شوه، تر دې چې دغه امپراتوري دېته اړه شوه چې د ولايتونو او مرکز تر مينځ د يو والي راوستلو لپاره بايد يو قوي شعور رامينځ ته کړي.

((هرقلHercules )) ډېر کوښښ وکړ چې شام د مرکزي دولت سره بيا ونښلوي خو بريالی نه شو او له بده مرغه هغه وسايل چې ده د بې اتفاقی د منځه وړلو لپاره په کار اچول هغه د نورې بې اتفاقی لامل شو، په دغه وخت کې د ديني شعور او احساساتو پرته بل داسې څه نه وو پاتې چې د توکميز يووالي ځای يې نيولی وی، نو ((هرقل)) کوښښ

وکړ چې عقیده داسې تفسیر کړي چې په نتیجه کې یې د خلکو زړونه په آرام شي او هغه څه پای ته ورسوي د کوم په سر چې د مخالفو ډلو تر مینځ بې اتفاقي رامینځ ته کیدی شوه او تر څو چې د هغې په واسطه د دین څخه د وتونکو او ((ارتوډوکسي)) کلیسا تر مینځ او د هغوی او د مرکزي حکومت تر مینځ یووالی راولي. ۱

په ٤٥١ میلادي کال کې د ((خلقیدون)) غونډې دا اعلان وکړ چې باید پدې اعتراف وشي چې د مسیح علیه السلام دوه داسې طبعیتونه دي چې دواړه سره نه یو دي او نه جدا، نه تقسیمیږي او نه د یو بل څخه جلا کیږي. او د دواړو د یو ځای کېدو له امله یې مقابل له مینځه تلل هم ممکن نه وي. بلکې په کار ده چې د یو ځای کېدو په صورت کې هم هر یو خپلې ځانګړتیاوې له لاسه ورنکړي، اګر که په یو اصل او یو جسم کې سره رایوځای دي، خو داسې هم د یو بل څخه جدا نه دي لکه څرنګه چې په ځانله ځانله اصلونو کې وي، بلکې دواړه طبعیتونه په یو اصل کې دي، نو مسیح په یو وخت کې هم ځوي دي هم الله او هم د الله کلمه.

((یعقوبي)) ډلې ددې غونډې دا پریکړه ونه منله، او هغوی د مسیح فقط د یو طبعیت اقرار کوي چې د بېلابېلو اصلونو (اقانیمو)) څخه جوړ

---

۱- ددې څخه معلومېږي چې د امپراتور ددغه کوښښونو مقصد د دین خدمت نه بلکه یو سوچه سیاسي کوښښ وو چې د قومیت کمزوری دېته اړ کړي وو څکه قومیت دومره کمزوری ؤ چې امپراتوري یې نه شوه سره یو ځای کولی نو ده ((دین)) د یوی پلمی په توګه په کار کړ او د قومیت پر ځای یې د دین څخه یو بت جوړ کړتر څو د امپراتوری د یووالي لامل شي).

دى. او پــه هغــې كــې د الوهيــت او بشــريت ټــولې ځانګړتيــاوې موجــودې دي،، او هغـه مـاده چـې دغـه ټـولې ځانګړتيـاوې لـري دوه ګـونې نـه بلكـې يوه ده چې د ټولو اصلونو څخه جوړه ده.

د ((ارتودوكسي)) ډلې او د ((يعقوبي)) ډلـې چـې پـه ځـانګړي ډول پـه مصـر، شـام او د رومـي امپراتـورۍ څخـه دبانـدې هېوادونـو كـې يـې نفـوذ درلود، دغه شخړې نژدې دوه پېړۍ دوام وكړ، دا هغه وخت ؤ چې هرقل د دواړو تر مينځ د يووالي كوښښ د خپل هغه مذهب په واسطه كولو پـه كـوم چـې ده عقيـده لرلـه چـې د مسيح عليـه السـلام يـوه اراده ده، سره لـدې چـې دا مـذهب د مسـيح د دوه طبعيتونـو اقـرار هـم كـوي او د مسـيح پـه بشري ژوند كې د اصل پـه يـووالي هم كلـک ولاړ دي او لـدې څخـه انكار كوي چې په يو اصل ((اقنوم)) كې دى دوه قسمه ژوند وجود ولـري. نـو يـو مسيح – چې د الله ځوى دى _ په الهي او انساني قوت سره هم الهى اړخ ثابتوي او هم انسـاني اړخ. پدې معنـى چـې د كومې كلمـې څخـه چـې جسم ترې جوړ شوى د يو ارادې پرته بله اراده په هغې كې نشي راتلاى. [1]

خو ((هرقل)) د هغه پايلو سره مخـامخ شـو چـې ډېر ورسره د يووالي او د امن د راوستلو په اميد مخامخ شوي وو، نـه يـوازې دا چـې اختلاف د مخكې په څېر زيات شو بلكې په خپله په ده باندې د بې دينـۍ تـور ولګـول شو او د دواړو ډلو د نفرت ځاى وګرځېد)). [2]

---

۱- دا هغه مسـيحي عقيـده ده چې د انسـان عقل يـې نـه منـي، هغه مسيحي پـا دريـان چې ځان تـه د مسيحيت پـوهان او مـبلغين وايـې هغه هم د خپلـې عقيـدې پـه څرنـګوالـي نـه پـوهېږي (ژبـاړن)

۲- ((اسلام تـه بـلـنه)) د عربـي ژبـاړې د ۵۲-۵۳ مـخ څخه.

ددغه حالاتو له امله چې مسیحیت ورسره لومړی د خپل پیل په وخت کې بیا د سیاسي بریالیتوب په وخت کې او بیا ددغه بریالیتوب څخه وروسته د سیاسي او توکمیزو اختلافاتو او په عقیده کې د تحریف او بدلون په وخت کې مخامخ شو. نو د داسې نا اشنا شیانو څخه ډک شو چې هغه د یو الهي دین عقیده نه شي کیدی، لدې امله دغه عقیده پدې ونه توانېده چې د موجوداتو صحیح تفسیر، د موجوداتو او د پیدا کوونکي تر مینځ یې د اړیکو حقیقت د پیدا کوونکي حقیقت او صفات او د انسان د پیدایش مقصد، حقیقت او طریقه وړاندې کړي، ځکه چې دا هغه اصول دي که دا سم شي نو هغه ټولنیز نظام هم سمېږي چې ددغه اصولو څخه سرچینه اخلي او پدغه اصولو ولاړه وي.

خو یوازې په عقیدوي فساد باندې خبره ونه درېده بلکې دغه ناوړه حالات په بښوېدونکو قدمونو نور هم مخکې لاړل.

کلیسا غوښتل چې د رومي تیري او د خواهشاتو د هغه سیلاب مخې ته ودرېږي د کوم سره چې رومي امپراتوري د مسیحیت د قبلولو څخه مخکې مخامخ شوې وه، دغه حالت امریکایي لیکوال ((درابر)) په خپل کتاب ((ساینس او علم)) کې داسې بیانوي:

((کله چې رومي امپراتورۍ په جنګي قوت او سیاسي پرمختګ کې اخري حد ته او رومي تمدن او کلتور اخري درجې ته ورسېد نو دغه امپراتوري په اخلاقي فساد کې مبتلا شوه، او په دیني او کلتوري دول باندې راپرېوتله، رومیانو په ژوند کې مستي شروع کړه او دنیا ته د ټیټیدو له امله یې ذلت اختیار کړ.

ددوی د فکر بنیاد پدې ولاړ ؤ چې ژوند د خوندونو اخستلو لپاره یو ښه فرصت دی چې انسان په کې د نعمتونو، مستیو، ټوکو ټکالو او

خونـدونو تـر مینځ اوړي راوړي، پـه ځینـو وختونـو کـې د دنیـا څخـه بـې رغبتـي او روژه نیـول ددې لپـاره وو چـې د خـوراک اشـتها یـې نـوره هـم زیاته شي، د دوی میانه روي ددې لپاره وه چې د خوندونو وخت یې نور هم زیات شـي، ددوی دسترخوانونه بـه د سرو او سپینو د لوښو څخـه ډک ؤ، چې په ملغلرو بـه ښایسته کړی شوی ؤ او پـه سینګار شوو جامو کې به مریان، ناز کوونکې ښایسته رومي پیغلې او په نرمو جامو کې کنجري قسم ماتوونکي وینځې به ددوی څخه ګیر چاپېره ګرځېدې.

ددوی په نعمتونو کې قیمتي حمامونو، د لوبو لویو میدانو، او د مقابلې هغو لوبغالو نور هم زیاتی کړی ؤ په کوم کې به چې اتلانو د یو بل سره او یا به یې د وحشي حیواناتو سره تر هغه پورې سیالي کوله تر څو چې به یو لوري په خپلو وینو کې لمبېدلی نه وو.

د دنیا لاندې کوونکو دغه فاتحانو دا فکر کولو چې که په دنیا کې کوم شـی د عبـادت لایـق دی نـو هغـه ((ځـواک)) دی، ځکـه د ((ځـواک)) پـه واسطه انسـان کـولی شـي هغـه مـال جمـع کـړي کـوم چـې خلکـو پـه ډېـره سختـی ګټلـی وي، او کلـه چې انسـان د جنـګ پـه میدان کـې د مټ پـه زور بریـالی شـي، نـو پدغـه وخـت کـې بیـا کـولی شـي چـې د خلکـو مالونـه او شتمنی لوټ کړي او جایدادونه لاس ته راوړي.

د رومي دولت مشر ددغـه ستر ځـواک علامـه وه، لدې املـه د رومـي دولت نظام د بادشاهی د شان و شوکت څخـه عبـارت ؤ خـو پـه حقیقت کې هغه یو غولـوونکی ښایست ؤ لکـه څرنګه چې یونـاني تـهذیب د زوال پـه

وخت کې ښکارېده. [۱]

کلیسا غوښتل چې ددغه په تېزۍ سره د خپرېدونکي اور او د شرمونکي ذلت مخه ونیسي، خو ددغه کار لپاره دوی سمه، برابره او فطري لاره اختیار نکړه، او نه ددوی سره د مسیحیت هغه حقیقي مفکوره په لاس کې وه چې دوی پرې د خلکو تر مینځ انصاف قایم کړی وای، او نه دوی د زیاتي او کمي تر مینځ برابری راوستی شو.

پدغه وخت کې بل طرف ته د حد څخه وتلی رهبانیت راپیدا شو، چې دا د انسانیت لپاره د رومي بت پرستۍ او حیوانیت څخه هم بدمرغه حالت ؤ، چې خلک یې د ژوند د خوندونو څخه منع کول، د انسان فطري ځانګړتیاوې یې له مینځه وړې، هغه طاقت او استعداد یې ختموو کوم چې الله تعالی د انساني ژوند د بقا ،د زمکې د آبادۍ او په هغې کې د خلافت د مسئولیت د ترسره کولو لپاره پیدا کړی ؤ او دې هر څه ته فضیلت او د پوره تقوی نوم ورکول کېده حالانکه دا هغه څه وو چې نه پرې الله حکم کړی ؤ او نه د دغه کارونو سره ژوند سمیدی شو.

دا رهبانیت د ناروغي د علاج پر ځای د دواړو طرفونو تر مینځ د یوې سختې جګړې لامل وګرځېد، ځکه چې دغه دواړه طرفونه د سمې لارې او د انسان د حقیقي اړتیاؤ څخه لیرې ؤ.

لیکوال په خپل کتاب ((د اروپا اخلاقي تاریخ)) کې د مسیحي نړۍ ددغه وخت حالات داسې ارزوي:

---

۱- : د مولانا ابوالحسن علي الندوي د کتاب ((ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمین)) څخه.

((د خلکو په اخلاقو او ټولنه کې فساد اخري حد ته رسېدلی ؤ، زنا، بې حيايي، نشې تماشې، خوندونه، د بادشاهانو، شتمنو، او اميرانو مجلسونه، په لباس سامان او ډول سينګار کې سيالی د حد څخه اوړېدلې وې، پدغه وخت کې نړی د رهبانيت او بداخلاقی تر مينځ ځرخېده او هغه ښارونه او کلي چې ځومره به په کې راهبان ډېر وو په هغه اندازه به پکې بې حيايي، فسق او فجور زيات ؤ)).

پدې ډول د رهبانيت هغه نظام چې د کليسا د غونډو د هغه فکر څخه اخستل شوی ؤ کوم چې د مسيحيت د اصلي فکر سره ټکر درلود د ناکامی سره مخ شو او دغه نظام پدې برلاسی نه شو چې د مسيحي نړی لپاره يو اخلاقي نظام جوړ کړي، بلکې په زړونو کې يې د دين پر خلاف يو خاليګاه پيدا کړه. حالانکه ((دين)) ددغه رنګ مفکورو څخه بري او پاک دی، او په زړونو کې د دين د بدی او د هغه څخه د اخستل شوي هغه نظام چې د فطرت خلاف ؤ د بدی بيانولو لامل شو، چې دغه حالت د دين او دنيا تر مينځ د ((ناوړه بيلتون)) د اسبابو څخه يو سبب وګرځېد.

هغه خلک چې کليسا د ددنيا د نعمتونو څخه منع کړي وو او وېرول يې که دوی د ژوند څخه خوند پورته کړ نو جنت ته نشي تلای، کله چې هغوی ددې څخه خبر شول چې د کليساچارواکي نه يوازې دا چې د دنيا د ژوند څخه ګټه پورته کوي بلکې هغوی په ډېرو ناوړه او د بې حيايی په کارونو کې هم اخته دي، نو دې کار يو ستر ناورين رامينځ ته کړ.

ليکوال ((درابر)) په خپل کتاب ((دين او ساينس)) کې داسې ليکي:

رهبانيت او ديني نظام د انسان د فطرت سره په ټکر کې ؤ، فطرت د نوي ديني نظام او د هغوی د روحي غلبې د عواملو له اړخه کمزوری ؤ او ددې کمزوری نور لاملونه هم وو خو اخر فطرت غالب شو، او

کمزورۍ او انحراف (کوږوالي) ديني مرکزونو ته لاره وموندله، تر دې چې ديني مرکزونه د اخلاقي فساد، بې حيايۍ او ګناهونو څخه ډک شول چې له امله يې حکومت هغه مرستي بندې کړې کوم چې به د مسيحيانو تر مينځ د ورورلۍ او محبت لپاره، د شهيدانو او وليانو د کليزو او د يادولو د مجلسونو لپاره ورکول کېدې، ځکه چې دغه ځايونه د ګناه او بې حيايۍ لپاره شنه ځږ ځايونه ګرځېدلي وو او ديني مشران (د کليسا راهبان) په ګناهونو تورن شوي وو.١

((١-داحالت دنن ورځی دحالت سره ډیرسمون لری،ځکه چی نن دنیکانوخلکومزارونه که یوطرف نه دشرک اډی جوړی شوی،خلک قبرونوته سجدی کوی،طوافونه کوی،نذرانی وړاندی کوی نوبل طرف نه دبی حیائی ،بداخلاقۍاونشوتماشو مرکزونه ګرځیدی،په ځانګړی ډول ددغه مزارونومنجوران په لوی اخلاقی فسادکی اخته دی.(ژباړن)))----

يو راهب چې جروم (Jerume) نومېږي وايي: کوم عيش او عشرت چې ديني مشرانو تيراوه هغه د اميرانو او بې سره مالدارانو د عيش او عشرت څخه هم زيات ؤ، د پادريانو او پاپانو (Popes) اخلاق د حد څخه زيات راپرېوتي وو، بخل او د مال محبت پرې غالب شوی ؤ او پدې کار کې تر دې پورې د حد څخه اوړېدلی ؤ چې منصبونه او وظيفې به يې د مال په شان خرڅولې، تر دې پورې چې کله کله به يې بولۍ ته هم وړاندې کول، د جنت ځمکه به يې په رسمي سندونو، رسيدونو، او د بښنې په ياداشتونو په اجاره ورکوله، د نجات شهادت نامې او د حرامو او ناروا کارونو د حلالوالي جواز ليکونه به يې ورکول، د قانون د ماتولو اجازه به يې خرڅوله، داسې لکه څوک چې نقدې پيسې او د پوستې ټيکټونه ورکوي، په رشوت او سود کې اخته وو، د مال په لګولو

کې به يې د زيات اسراف څخه کار اخست، تر دې چې ((اتم الوست)) د خپل پاپ توب د تاج ګانه کولو ته مجبور شو او ويل کېږي چې پاپ ((لسم ليو)) هغه مال کوم چې مخکيني پاپ پرېښودی ؤ خپل مال او د راتلونکي پاپ برخه يې مصرف کړه، دا هم ويل کېږي چې د فرانسي ټول لګښت هم د پاپانو د مصارفو او د هغوی د غوښتنو د پوره کولو لپاره نه بس کېده. [١]

د ښښني رسيد چې مخکې ورته د ((درابر)) په ليکنه کې اشاره وشوه، د هغې په هکله کليسا دا فيصله کړې وه چې د ډېرو کليساګانو په هغه غونډه کې چې کله کله به جوړېده ځانته د دغه رسيدونو د ورکولو حق ورکړی، او هم په مسيحي عقيده کې د مقدسو خواهشاتو له امله د بدلون او زياتي کمي حق و لري. د ((کليسا تاريخ)) نومي کتاب کې په دې اړه د دولسمې غونډې په فيصله ليک کې داسې راغلي:

غونډې د ښښني ورکولو په هکله خپل تعليمات او لارښووني پدې شکل سر ته ورسولې: د کله نه چې مسيح (عليه السلام) کليسا ته د ښښني ورکولو حق ورکړی دی، او کليسا د لوړو مقاماتو څخه لاس ته راغلې، دغه حق استعمال کړی دی نو غونډه دا خبره څرګندوي او حکم کوي چې کليسا دا حق لري تر څو په کليسا کې دننه مسيحي قوم ته د خلاصې او ښښني ورکولو حق د ځان سره وساتي خو د هغه چا لپاره څوک چې د غونډو دا حق تسليموي، او څوک چې د ښښني ورکول فايده مند نه ګڼي يا

---

١ – د مولانا ابوالحسن علي الندوي د کتاب ((ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين)) څخه.

د کليساګانو غونډو ته دا حق نه ورکوي نو هغه بايد د ښښني ورکولو څخه بي برخي شي، خو ددې سره غونډه دا ښه ګڼي چې دا حق بايد په انصاف او بې پرې ډول وکارول شي، تر څو د ډېرې اسانتيا له امله د کليسا په کلتور کې سستي رانشي.

په دغه د مال په شان خرڅېدونکي ښښنليک کې ليکل شوي وو:

(( ای فلانکيه په تا دې زمونږ رب (يسوع) رحم وکړي او د خپلو ټولو پاکو تکليفونو له امله دې تا آزاد کړي، او زه د راکړل شوي استازيتوب د واک له امله تا د ټولو بدلو (قصاصونو)،حکمونو او د کليسا د هغو بارونو څخه چې ته يې مستحق شوی يې، د ټولو زياتو خطاګانو او ګناهونو څخه خلاصوم، زه ستا د ګناهونو ټولې پليتې د ملامتيا ټولې نښې چې تا په ځان پورې کړې دي له مينځه وړم، ټولې هغه بدلې چې د هغې اداء کول په تا لازم دي زه يې ستا څخه پورته کوم او يو ځل بيا تا د کليسا په رازونو کې د ګډون کولو لپاره راګرځوم، او تا د پاکدامنو خلکو د ډلې سره يوځای کوم. زه بيا تا پاکوالي او نيکۍ ته راګرځوم، تر دې چې د مرګ په وخت کې به هم ستا مخې ته هغه دروازه وتړل شي په کومه چې ګناهګاران دوزخ ته ننوځي، او ستا مخې ته به هغه دروازه پرانستل شي کومه چې د خوشحالو جنت( فردوس) ته انسان رسوي، اګر که ته د ډېر وخت لپاره ژوندی پاتې شې خو دا نعمت به ستا څخه تر آخره وخته پورې وانخستل شي. دا هر څه زه تا ته د پلار، ځوی او پاک

روح په نوم درکوم)).[١]

کله چې دا او هغه سره يوځای شي، کله چې د کليسا هغه سختي چې خلک يې ورسره د ((دين)) په نوم مخامخ کړي وو (حالانکه دين د هغې څخه پاک دی) د کليسا د خلکو د سرکشی او د هغو د اخلاقي فساد سره يوځای شي، بيا دغه بښنليکونو ته وکتل شي، نو مونږ د هغه ناوړه حالاتو يو اړخ معلومولی شو، کومو حالاتو چې په تاريخ کې اروپا دغه ناوړه بيلتون ته ورسوله.

پدې هم بسنه ونشوه، بلکې د کليسا او واکمنو بادشاهانو تر مينځ د واک او اختيار په سر يوه اوږده او سخته شخړه رامينځ ته شوه، په يوولسمه پيړی کې د امپراتور او ((پاپ)) تر مينځ اختلاف او سيالي شروع شوه. په اخير کې ډېره ګرمه او د اور لمبې پورته شوې چې په پايله کې د اول وار لپاره ((پاپ)) په څلورم هنري باندی برلاسی شو او په ١٠٧٧ ميلادي کال کې امپراتور دې ته اړ شو چې د ((کانوسا)) په قلعه کې د ((پاپ)) دربار ته په عاجزی سره حاضر شي، ((پاپ)) ورته تر هغه د ننوتلو اجازه ورنکړه تر څو چې خلکو يې سفارش وکړ، نو هغه ورته خپلې مخې ته د ودرېدلو اجازه ورکړه، امپراتور په داسې حال کې د ((پاپ)) خوا ته ورغی چې په پښو يې پای زار نه ؤ او د وړی جامې يې اغوستې وې، او د توبې لپاره يې دواړه لاسونه پورته کړي وو، نو ((پاپ)) ورته معافي وکړه، ددې څخه وروسته د ((پاپانو)) د

---

١ د استاذ ابوزهرة د کتاب (محاضرات في النصرانية) څخه اخستل شوی.

کمزوري کېدو پورې همدا جګړه روانه وه) [١]

ځرنګه چې په ((سوسنة سليمان)) نومي کتاب کې راغلي چې په ١٢٤٥م کال مذهبي مشر ((پاپ)) څلورم ((انوسنت Inoentix)) په حکم د فرانسې په يو ښار ((ليون)) کې ديارلسمه غونډه جوړه شوه او په هغې کې د فرانسې د بادشاه ((فردريک Frederiek)) د ګوښه کېدو امر صادر شو، خو د فرانسې کليسا دغه پرېکړه ناسمه او د دغې غونډې خبره يې ونه منله. [٢]

کليسا ددې تر څنګ چې د واکمنو او پادشاهانو سره د واک په سر لاس او ګرېوان وه، عام وګړي يې د واک د لاندې وو چې ددغه واک څخه دوی ناوړه ګټه پورته کوله، په خلکو يې ماليي لګولي وې چې دوی ته به راوړل کېدې چې له امله يې خلکو په سخت تکليف کې ژوند کولو، د کليسا څخه خفه واکمنو ددغه حالت څخه ګټه پورته کړه، تر څو د کليسا په خلاف يو عام خفګان او ناخوښی رامنځ ته کړي، ددې کار لپاره يې هره وسيله وکاروله، په اول کې ئی د کليسا تش په نامه ديندراه واکمن وشرمول، د هغوی نجاستونه يې خلکو ته ښکاره کړل، د هغوی د شخصي ژوند څخه يې پرده پورته کړه او هغه څه يې خلکو ته ښکاره کړل کوم چې هغوی د ((ديندارۍ)) په جامو کې او د کليسا د ديوالو شا ته پټ ساتلي وو.

---

١- د مولانا ابوالحسن علي الندوي د کتاب ((ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين)) څخه.

٢ - د استاذ ابوزهرة د کتاب (محاضرات في النصرانية) څخه اخستل شوی.

هغه ستر مصيبت چې د هغې له امله دغه ((ناوړه بيلتون)) رامينځ ته شو په اروپا کې دين د خلکو د ژوند څخه گوښه شو او په پوره ډول د عقيدې او تولنيز نظام تر مينځ تورپير رامينځ ته شو، بلکې هغه لوی جنايت چې لويديځې کليسا د خپل ځان، مسيحيت او په نړی کې د هر دين سره وکړ هغه دا ؤ چې:

کليسا دبائبل يا ((مقدس کتاب)) [1] د پوهې او تفسير حق د ځان سره وساته او د کليسا د خلکو څخه پرته يې په نورو ټولو عقلونو د ((کتاب)) پوهه او تفسير حرام وگرځولو.

ددې وروسته يې په عقيده کې داسې څه يوځای کړل چې په هغې باندې پوهېدل ممکن نه وه، لکه د عيسی عليه السلام د حقيقت او طبعيت په اړه چې مسيحيان کومه عقيده لري.

دغه ((معماگانې)) يې په عبادت کې هم دننه کړې، چې ددې يو ښکاره مثال د عشائي رباني ((خدای ماښامی)) مسئله ده، چې ددې کار په خلاف مارتن لونز، کالن او زنجلي د ((ديني اصلاح)) په نوم بغاوت کړی ؤ.

د ((خدای ماښامی)) مسئله يو نوی پيدا شوی دود دی چې د مسيحيانو په ((مقدس کتاب)) کې نشته او نه اولينو مسيحيانو او مقدسو غونډو دا مسئله بيان کړې ده، د ((خدای ماښامی)) دود داسې دی چې:

مسيحيان په يوه ځانگړې ورځ ډوډی خوري او شراب ورسره څښي،

---

٣ - ((کتاب مقدس)) چې بايبل نومېږي د يهودانو او مسيحيانو د مذهبي کتابونو مجموعه ده چې بدل شوی تورات او انجيل هم په کې شامل دي. (ژباړن)

چې دېته ((خدای ماښامی)) وايي، ددې په اړه د كليسا گمان دادی چې دغه ډوډۍ د مسيح عليه السلام په جسم او دغه شراب د مسيح عليه السلام په تويول شوې وينه كې يوځای كېږي، نو چا چې دغه ډوډۍ وخوړه او شراب يې وڅښل او دغه تغيير او بدلون رامينځ ته شو نو مسيح عليه السلام د خپلې غوښې او وينې سره ددغه شخص په بدن كې ننوځي.

كليسا دا عقيده په خلكو په زور سره منې او ددې په اړه د بحث او پوښتنو څخه منع كوي او كه څوك دا ونه كړي نو د ښنې څخه به محروم او وشړل شي.

كليسا په عقيده او عبادت كې ددغه خرافاتو او ناپېژندل شوو خبرو په نتويستو او هغوی د ((مقدس كتاب)) د پوهې او تفسير څخه د خلكو په بندولو بسنه ونكړه، بلكې د موجوداتو او ژوند په باره كې ئۍ هم داسې خبرې شروع كړې او كوم نظريات او تاريخي او جغرافيايي مفكورې چې د هغوی په وخت كې وې هغه يې سمې وبللې، هغو ته يې د ((تقدس)) درجه وركړه او خلک يې په هغو كې د بحث او څېړنې څخه منع كول او ددې په خلاف يې بنديز لگولی ؤ حالانكه دغه نظريې او مفكورې چې دوی د موجوداتو، ژوند او انسان په اړه لرلې د علمې غلطيانو څخه ډكې وې.

دا يوه ملامتونكې مسئله وه ځكه چې دا هغه بې بنسته مفكورې وې چې تجربې په اسانۍ سره هغه باطلولې او د هغې درواغ يې ښكاره كول، ځكه چې دا هغه ساحه ده چې الله په كې عقل ته د غور او فكر كولو حق وركړی دی او الله عقل ته هغه پوهه وركړې ده چې د هغې په واسطه څېړنه كولی شي او شيان لاس ته راوړی شي او پدې ساحه كې

الله تعالی کومه مفکوره او نظریه لازمه کړې هم نده.

ددې کار او د اغېزو په اړه يې مولانا ابوالحسن الندوي رحمه الله په خپل کتاب ((ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين)) [د مسلمانانو په زوال نړۍ څه له لاسه ورکړل؟] کې داسې ليکي:

((په ا روپا کې دين ته د منسوبو خلکو لويه غلطي او ظلم چې د خپل ځان او خپل دين سره يې وکړ دا ؤ چې په خپلو مقدسو کتابونو کې يې د تاريخ، جغرافيې او طبعيي علومو په هکله انساني معلومات او وختي مفکورې دننه کړې، او دا هغه معلومات او مفکورې وې چې په دغه وخت کې ورته د انسان پوهه رسېدلې وه اګر که ددغه شيانو په هکله ددغه وخت خلکو شک نه کولو خو دا د انساني پوهې انتها نه وه، بلکې د بدلېدو او د مخالف پيدا کېدو وېره يې وه، ځکه چې د انسان پوهه وخت په وخت زياتېږي، نو څوک چې په وختي نظرياتو د خپل دين بنياد جوړوي لکه چې د شګو په ډېرۍ کلا جوړوي.

کېدای شي دوی دا کار د ښه نيت له مخې کړی ؤ خو دا په خپل ځان او خپل دين باندې لوی ظلم ؤ، ځکه چې دا کار د دين، عقل او ساينس تر مينځ د يوې سترې شخړې لامل وګرځېد چې په نتيجه کې يې هغه دين ماتې وخوړه د کوم سره چې انساني پوهه يوځای شوې وه او په هغې کې حق او باطل، کره او کوټه هر څه موجود وو، دغه دين د يوې ناوړه ماتې سره مخامخ شو او دين ته منسوب خلک په کې داسې راپرېوتل چې د هغې وروسته ورته د پاڅېدو فرصت په لاس ورنغلو، او ددې په پايله کې تر ټولو ناوړه کار دا وشو چې اروپا بې دينه (سيکولر) شوه.

دين ته منسوبو خلکو په هغه څه بسنه ونکړه څه چې هغوی په خپل مقدس کتاب کې ليکلي وو، بلکې د هر هغه څه لوستل يې شروع کړل

کوم څه چې د خلکو په ژبه وو یا د هغوی تر مینځ مشهور شوي وو یا د تورات او انجیل تفسیر کوونکو چې کوم جغرافیایي، تاریخي او طبیعي معلومات ذکر کړي وو، دغو ټولو شیانو ته یې دیني رنګ ورکړ، او د دین د هغو لاربنوونو څخه یې وګرځول چې پر هغې عقیده لرل لازم وي، او څه چې ددې شیانو مخالف وو هغه یې پرېښودل، پدې اړه یې کتابونه ولیکل او دغه بې دلیله جغرافیې ته یې د ((مسیحي جغرافیې Christian Geography) نوم ورکړ، پدغه باندې یې کلکې منګولې ولګولې، او چا چې نه منله هغو ته یې کافر وویل.

دا هغه وخت ؤ چې په اروپا کې عقل وده وکړه، او طبیعت پېژندونکو او ساینس پوهانو د تقلید زنځیرونه مات کړل، دوی هغه جغرافیایي مفکورې چې پدغه کتابونو کې ځای پر ځای شوې وې باطلې او ناسمې وګڼلې او په ښکاره یې پرې ګوت نیونه وکړه، پر هغې ئې د ایمان او عقیدې لرلو څخه ډډه وکړه او خپلې څېړنې او تجربې یې خلکو ته ښکاره کړې.

دغه حالت په کلیسا کې قیامت جوړ کړ، په اروپا کې د کلیسا چارواکو دغه ساینس پوهان کافر وګرځول، د مسیحیت لپاره یې د هغوی وینې او مال حلال وګرځول او د تفتیش او څېړنې لپاره یې داسې محکمې جوړې کړې چې د ((پاپ)) پروینا ټولو هغه بې دینه زندیقانو ته سزا ورکړي چې په ښارونو، کورونو، سوړو، ځنګلونو، غارونو او پټیو کې خواره او پټ شوي دي.

دوی ډېر کوښښ او پرله پسې کار وکړ تر څو په مسیحي نړۍ کې د کلیسا پر خلاف څه حرکت پاتې نشي، ددغه کار لپاره یې په ټول هېواد کې خپل څارګري او جاسوسان خپاره کړل، د خلکو ژوند یې تنګ کړ،

تر دې چې يو مسيحي عالم وايي: (( د يو مسيحي لپاره دا شوني نه وه چې هغه دې په خپل طبيعي مرګ مړ شي)) يعنې ټول وژل کېدل.

دغه محکمو چې کومو خلکو ته سزا ورکړې وه د هغې شمير درې سوه زرو(۳۰۰۰۰۰) ته رسېږي. چې دوه دېرش زره(۳۲۰۰۰) يې ژوندي سوزلي وو، چې يو يکې مشهور طبعيت پوه ((برونو Benyli)) هم وو چې کليسا د هغه ځينې مفکورې بدې ګڼلې وې، په ځانګړي ډول د عالَم د ډېر والي مفکوره (چې عالَم يو نه دی ډېر دي) کليسا دی په داسې مرګ محکوم کړ چې وينه يې توی نه شي، يعنې ژوندی دې وسوزول شي، او همدغه کار يې ورسره وکړ، دغه رنګ يو بل مشهور پوهاند ((ګاليله Galileo)) يې لدې امله په مرګ محکوم کړ ځکه چې هغه دا عقيده لرله چې ځمکه حرکت لري او  د لمر پر شاوخوا ګرځي.

په دغه وخت کې نوښت ګر( روڼ اندي) راپورته شول، نوره يې د صبر کاسه ډکه شوه او دين ته د منسوبو خلکو، د کليسا د نمايندګانو او زاړه پالو په خلاف يې جنګ پيل کړ، او د هر هغه شي مخالف شول چې په دغه خلکو پورې يې اړه لرله يا يې هغوی ته نسبت کېده، هغه عقيده وه که کلتور، علم ؤ که اخلاق او که د ژوند تېرولو طريقې.

په لومړي سر کې يې يوازې  د مسيحيت سره دا دښمني پيل شوه، خو بيا يې د هردين سره دښمني شروع وکړه، هغه جنګ چې د علم او عقل د پلويانو او مسيحي دين د نماينده ګانو ترمينځ شروع شوی ؤ هغه د ساينس او دين تر مينځ په جګړه بدل  شو، دغه انقلابيانو او بدلون غوښتونکو دا پرېکړه وکړه چې ساينس او دين دواړه هېڅکله هم نه يوځای کېږي او عقل او دين  دواړه د يو بل داسې ضد دي چې سره پخلا کېږي نه، که يو رامخې ته کېږي بله به شا کوي، او څوک چې په يو ايمان راوړي نو د

بل څخه به انکار کوي.

کله چې څوک د دین په اړه خبرې کوي نو دوی هغه بې ګناه وینې یادوي چې د علم او څېړنې په لاره کې توی شوې وي، هغه بې ګناه خلک یادوي چې هغوی د دیني خلکو د سخت دریځی او دسیسو ښکار شوي وو، د دین په یادېدلو سره دوی ته تور ناوړه مخونه، تریو تندي، اور اچونکي سترګې، تنګې سینې او ناوړه عقلونه مخې ته کېږي، چې ددغه لامله یې د دین څخه کرکه پیدا کېږي،دوی په خپل ځان ددغه دین پلوو خلکو او د هغوی د ملګرو سره نفرت او کرکه لرل لازمي کړي دي.

د دین پر خلاف د راپاڅېدونکو سره د څېړنې او فکر کولو لپاره دومره صبر، نرمي، عقل او کوښښ نه وو چې د هغې په واسطه یې د دین او د دین د ټیکه دارانو تر مینځ فرق کړی وی، د هغه وظیفې او مسئولیت تر مینځ چې دین یې ذ مه وار دی او د هغه سختی، ظلم او ناسمې نمایندګی چې د کلیسا مسئولینو یې مسئولیت په غاړه درلود، تر مینځ یې فرق کړی وی، که چیري دوی دا توپیر کړی واي، نو دوی به هېڅ کله هم دین شا ته کړی نه وی.

نو جلدباز، بې صبری او دین ته د منسوبو خلکو سره دښمنۍ هغوی ته دا فرصت ورنکړ چې په دین کې فکر وکړي، او نه یې لکه د نورو بدلون غوښتونکو په څېر د نرمۍ څخه کار واخست.

دا په لنډه توګه هغه اسباب وو چې له امله یې د دین او دنیا تر مینځ دغه ((ناوړه بیلتون)) رامینځ ته شو، چې متاسفانه د هغې د اغېزو په وجه نن ورځ نه یوازې اروپا بلکې ټول بشریت په کړاو کې اخته دی، او ددغه بیلتون د ترخې پیالې څخه نه تېرېدونکي ګوټونه کوي.

دا هغه دين وو چې د هغې پر خلاف اروپا پاڅون وکړ او بيا د اروپا ټول ړانده منونکي په ټوله نړۍ کې د ټولو اديانو پر خلاف راپاڅېدل پرته لدې چې د يو دين او بل دين تر مينځ توپير وکړي.

دا هغه دين وو چې اروپايان يې په خلاف راپاڅېدل، ځکه چې ددغه دين نښې د اولي ورځې څخه ورانې شوې وې، او د هغې الهي ځانګړتياوې، اسماني مفکوره او د هغې بنيادونه په ناوړه توګه له منځه تللي وو.

دا هغه مذهبي او دين ته منسوب خلک وو چې د يو کوټه دين او تش په نوم د ديندارو خلکو په واسطه او قيادت لاندې په خپل ځان ، دين او کړېدلي بشريت باندې ظلم وکړ.

خو الحمد لله چې دا هر څه د اروپا مسايل دي، د ټول انسانيت مسايل نه دي چې په يو خاص دين پورې تړاو لري د نورو اديانو سره يې کار نشته، او دا هر څه د تاريخ په ځانګړې پړاو کې ترسره شو، بشريت کولی شي چې ددغه مفکورې د ناوړه اغېزو څخه ځان وساتي خو پدې شرط چې د هغه حقيقت د لېدلو لپاره سترګې خلاصې کړي کوم چې د دغه تاريخي جنګ د پردو تر شا پټ دي.

خو ددغه جنګ د اغېزو څخه ځان ژغورل په اروپايي عقليت باندې نه کيږي، او نه د هغه عقل په واسطه کېدی شي کوم عقل چې ددغه تريخ تاريخ په ځنځيرونو کې تړل شوی وي، او نه د هغه ناکاميو په واسطه چې دغه تباه کوونکي جنګ پرېښودی او نه د هغه اغېزو سره شوني ده کومې اغېزې چې دغه جنګ په فکر و خيال، ادب او فن، سياست او اقتصاد بلکې د ژوند په ټولو حالاتو کې پرېښې دی، هغه اغېزې چې له امله يې دغه ((ناوړه بيلتون) رامينځ ته شوی دی او هغې د بدمرغي

اروپا په خاوره کې خپلې جرړې کلکې کړې دي.

# د سپین پوستو واکمني ختمېدونکې ده

**معاصر انګلیسي فیلسوف برتراند رسل (Bertrand Russell) وایي: هغه وخت لاړ چې سپین پوستو پکې مشري کوله، ځکه چې د تل لپاره د هغوی مشري پاتې کېدل د طبعیت قانون نه دی، زه عقیده لرم چې سپین پوستي به په راتلونکي کې د هغه خوشحالو ورځو سره مخامخ نه شي د کومو سره چې په تېرو ځلورو پېړیو کې مخامخ شوي وو.**

روسان یوازې هغه سپین پوستي وو چې په آسیا کې یې د خپلې اغېزې او نفوذ لپاره پوره وخت موندلی ؤ خو اوس د اسیا خلک د استعمار څخه کرکه لري، په هغه وخت کې د آسیا خلکو دا نه انګیرله چې ګنې ((کرملین)) استعماري موخې لري، ځکه چې مخکینۍ تجربه ورسره نه وه، اوس چې دوی ډېر وخت د لویدیځ والو د واک لاندې په سختۍ کې تېر کړل، نو لدې امله دغه ترخه تجربه تکرارول نه غواړي، نو زه دا عقیده نه لرم چې لویدیځوال هېوادونه به آسیا د خپلې اغېزې لاندې راولي، البته دا عقیده لرم چې هند به د لویدیځو هېوادونو سره سولییز ژوند وکړي، خو عربي نړۍ، دغه رنګ پاکستان او مصر به د کمیونستي بلاک طرف ته مایل شي.

برترانډ رسل دا وړاندوینه په ۱۹۵۰م کې کړې وه، او ددې څخه

وروسته واقعاتو خصوصاً په کمیونسیت ئی پنجو کې د چین لوېدلو ددې وړاندوني بنسټ نور هم قوي کړ، خو زمونږ په نظر دا یوه ډېره قوي نظریه نه ده، ځکه چې ددې وړاندیزونه ډېر خام او اسباب یې مادي دي، او دغه شان کمزوري نظریات د یو لویدیځوال مفکر څخه اورېدل څه نا اشنا خبره هم نه ده، ځکه دوی که هر څومره په عقلي ډول د آزادۍ او خپلواکۍ دعوې وکړي خو بیا هم دوی د یو ځانګړي عقلیت لرونکې ټولني پاتي شوني او د یو داسې ځانګړي کلتور په قید کې دي چې هېڅ کله هم دوی ته اجازه نه ورکوي چې د هغې څخه بهر فکر وکړي، یا ددغې بند څخه ووځي، تر څو چې هر کار ته په بشپړ ډول په نوې طریقه د یو بل طرف څخه ونه ګوري، خبره د ((برټراندرسل)) د وړاندوینې څخه هم ډېره ژوره ده.

په حقیقت کې د سپین پوستو د واکمنۍ وخت ختم شوی، ځکه چې د سپینو پوستو د تمدن لنډ مهالي او محدودې موخې ختمې شوې او ددوی سره هغه مفکوره، لاربښونه، اصول او ارزښتونه نشته چې دوی یې بشریت ته وړاندې کړي او د هغې پر بنسټ مشري وکړي، او د بشریت د حقیقي اوچتوالي او پرمختګ لامل شي، په کوم کې چې د انسانیت اصل، اخلاق او ژوند اوچت او پرمخ تللی شي.

دغه تمدن په انګلستان کې د ((ماګنا کارتا)) د فرانسوي انقلاب د اساساتو او په امریکا کې د فردي آزادۍ د اساساتو د زیږولو څخه وروسته شنډ شوي یا زر به شنډ شي. ځکه چې دې هر څه د یو خاص وخت لپاره ځانګړې موخې لرلې، چې د ځانګړو حالاتو مقابله یې کوله او دا هېڅ کله هم د انسان لپاره یو داسې قانون نشي کېدی چې هغه دې د ډېر وخت لپاره پاتې شي او د هغې د پاتې کېدو وخت دې ددغه لنډ مهاله

اساساتو د وخت څخه زيات وي.

دغه تمدن د هغه اساس او بنسټ څخه جدا كړى شوى ؤ چې د هغې پرته هېڅ قسم ټولنيز نظام، اساسات او اخلاق پاتې كېدى نشي، او دغه اساس په الله باندې باور لرل دي، د كايناتو، انسان او د انسان د پيدايښت د مقصد پېژندل دي. لدې امله دغه تمدن لنډ مهاله ؤ ځكه چې د خپل اصل څخه پرېكړل شوى ؤ، دا د هغه ((شيطاني بوټي)) په څېر دى چې د انسانانو په زړونو كې هېڅ قسم جرړې نه لري، ځكه چې دې د هغه ځاى څخه سرچينه نه ده موندلې د كوم ځاى څخه چې بشري فطرت سرچينه موندلې ده.

لكه چې دغه تمدن ددغه اصل څخه سرچينه نه ده اخستې، او نه ددغه سرچينې څخه راالېږل شوى دى، نو لدې امله ددې تمدن تعمير په يو داسې بنسټ باندې شوى چې هغه د ژوند او د انسان د فطرت څخه مخالف دى، ددې په بنسټ ايښودنه، وسايلو او تګلاره كې د انسان حقيقي اړتياوې په نظر كې نه دي نيولې شوې، هغه اړتياوې چې هغه د انسان د جوړښت د طبعيت د هغه د پيدايښي اصل او د فطرت د حقيقت څخه پيدا شوى دى، دغه تمدن د هر هغه څه نه سترګې پټې كړي دي د كوم له امله چې انسان انسان دى، نه يې يوازې ددغه اړتياؤ څخه سترګې پټې كړي دي، بلكې په ظلم او زور سره يې هغه د خپلې خوا څخه شړلى دى.

دا هر څه د هغه حالاتو په نتيجه كې وشول د كومو له امله چې دغه ((ناوړه بيلټون)) رامينځ ته شو او په پايله كې هغه تمدن مينځ ته راغى د كوم بنسټ چې د دين په دښمنى باندې ايښودل شوى دى، او د هغې ټول فكري، خيالي او واقعي بنيادونه د دين څخه مخالف دي، دغه رنګ دا

تمدن د انسان د دشمنی په لار باندې روان شو، او د انسان د هغه حقیقي اړتیاؤ او مواصفاتو سره په ټکر کې شو په کومو مواصفاتو چې د انسان د ژوند جوړېدل په کار دي.

لدې امله انسان د هغه تمدن په وجه چې په اصل کې دده د خدمت، پرمختګ او نیک بختۍ لپاره جوړ شوی دی، د سختۍ او بدبختۍ سره مخ شو، او کله چې د انسان او تمدن تر مینځ ټکر واقع شي، نو حتمي پایله یې د مصیبتونو، قربانو، تاوانونو او ترخو څښلو څخه وروسته د انسان بریالیتوب دی، ځکه چې انسان اصل دی او د انسان فطرت ډېر ژور او د رامینځ ته شوي تمدن په نسبت ډېر عمر لرونکی دی.

که دغه تمدن د پاتې کېدو معیار وي نو په دې کې روسان، انګریزان، امریکایان، فرانسویان، سوسیان، سویډنیان او ټول سپین پوستي د یو بل سره هېڅ توپیر نه لري، خو کېدای شي روسان د خپل سخت نظام له امله وروسته پاتې وي، ځکه چې ددوی د پاتې کېدو وسایل د ناوړه عسکري نظام، د وینو د حمامونو، وخت په وخت د مخالفینو د له منځه وړلو د عملیاتو، د نیولو تړلو او وژلو څخه پرته نور څه نه دي، او دا هر څه په لویه او وړه کچه د انساني فطرت مخالف دی.

مارکسیستي نظام (Morxism)په فکري ډول د انسان په نفس، طبیعت او تاریخ باندې په ژورې ناپوهی ولاړ دی، پرته له دې نه چې دغه نظام د کایناتو په حقیقت او د کایناتو او ژوند په هدف باندې پوه شي، ځکه چې دا نظام د انسان ټول هدف د معدې لوږه او د یو مړی ډوډۍ لپاره جنګ هدف ګرځوي او دا فکر کوي چې ټول تاریخي حرکتونه د لاس ته راوړنې د وسایلو او اسبابو څخه راولاړ شویدي، دا نظام د انسان ټول هغه ارزښتونه له منځه وړي چې هغه د انسان او

حیوان د تاریخ تر مینځ توپیر راولي، او د انسان ټول مهم مسئولیتونه ختموي.

د انسان ارزښت په دې کې دی چې هغه د تاریخ په ټولو پړاونو کې پدې ځمکه یو مثبت کارکونکی جوړ شي، خو ناځاپه مارکسیزم (Morxism) دا فکر وکړ چې راتلونکی باید د انسانیت د تاریخ څخه وشلول شي، او دا فکر کوي چې د ټولو خلکو څخه ملایکې جوړې شوي چې خپل ټول طاقت به د یو شي د لاسته راوړنې لپاره لګوي، خو اخلي به هغه څه چې دده پرې فقط ګوزاره وشي او دا هر څه به د څارونکي، او حکومت یا د یوې اسماني عقیدې چې په جنت زیری ورکوي او له جهنم څخه یې ویروي پرته تر سره کړي، او ددې کار لپاره صرف دغه بې بنیاده نا اشنا انقلاب ذریعه ګرځوي چې د خلکو په ذهنونو کې دا کینوي چې دوی د مالدارو څخه د واک واګې اخلي او غریبانو ته یې په لاس کې ورکوي، که د راتلونکي په اړه دغه تش په نامه علمي مفکوره یو بې بنسټه شی ښکاري نو د تاریخ په اړه هم دغه مفکوره قایمول د انسان په حقیقت، طبیعت او د هغه په تاریخ باندې د یوې علمي ناپوهۍ څخه کمه نده.

کله چې دا ژوره ناپوهي او بې بنیاده سرکشه فکر د مارکسیستي مفکورې بنسټ دی، نو مونږ هیڅ کله هم دا انتظار نشو کولی چې ددې په اساس به په ژوند کې یو داسې عملي واقعیت را مینځ ته شي چې انسان به یې ترسره کوي، مګر دا چې پدغه واقعیت او نظام کې دومره زور واکي وي، څومره چې پدغه مفکوره کې د فطرت د حقیقتونو څخه په سترګو پټولو سره یو بې ځایه رغبت دی، چې دغه فطرت ددغه مفکورې سره په پوره ډول ټکر لري.

لدې امله چې مارکسيستي مفکوره د فطرت خلاف ده نو مارکسيستانو ددغه مفکورې د عملي کولو په وخت کې خپل ډېر سپيڅلي اصول پرېښودل، پدې بهانه چې مارکسيت يوه پرمخ روانه تګلاره ده، حالانکه د مارکسيست په ځېر بله داسې تګلاره نشته چې هغه دې ددې په ځېر د خپلو اصولو په خامخا پلي کولو زور اچوي.

دمارکسيزم تش په نامه ((علمي)) مفکوره په ډېرو برخو کې د فطرت د ګوزارونو لاندې راغله او د حکومت او د ظلم څخه د ډکو اورګانونو پرته يکې نور څه پاتې نشول، هغه ظلم او زورواکي چې روسيه ورسره د بادشاهت په وخت کې ښه اشنا وه.

په کار خو دا وه چې پدغه مفکور ولاړ دولت نيمه پېړۍ مخکې له مينځه تللی وی، خو هر څوک پوهېږي چې دغه دولت ورځ په ورځ پراخېږي او د ملتونو په ګډون هر شی د مينځه وړي.

د فکر او عمل دې بيلتون ته وګورئ چې په فکري ډول مارکسيزم دا غواړي چې يوه داسې ټولنه رامنځ ته کړي چې حکومت ته يې هېڅ اړتيا نه وي خو په عملي توګه دېته مجبور شول چې هر څه د حکومت په واک کې ورکړي، داسې حکومت چې په هغه کې د فرد، ملت او انساني فطرت هېڅ قدر نه وي.

مارکسيزم د يوې تګلارې او مذهب په شکل کې په بې ساري ډول د يوې ((علمي ناپوهی)) پرته نور څه ندي او که د ظلم نه ډک نظام چې د مارکسيست په نوم جوړ شوی نو دا هغه څه دي چې روسيه ورسره لا پخوا د بادشاهيت د وخت څخه اشنا ده، کيدی شي چې يو څه وروسته پاتې قومونه د څه وخت لپاره دغه نظام ومني خو هغه څوک چې د خپل انسانيت خيال ورسره وي هغه هېڅ کله هم د ډېر وخت لپاره پدې نظام

صبر نشي کولای، تر دې چې هغه ملتونه چې ددغه نظام د زورواکۍ او ددې څخه يې د مخه د سرکشه بادشاهيت د لاندې ژوند کړی دی، د هغوی فطرت هم ددې نظام په سختۍ سره مقابله کوي اګر که هغوی د يو عسکري تروريزم (Terrorism) د لاندې ژوند کوي، سره له دې چې د ګوتو په شمېر د کمونستي ګوند کسانو د هېواد په ګټو منګولې ښخې کړې دي، سره له دې چې دخوراک او ژوند تېرولو ټولې سرچينې د دولت په لاس کې دي، چې ددې له امله د مجبورۍ په اساس خلک د دولت خبره مني، او سره لدې چې د ځوانانو او ماشومانو د ټولنو له خوا تنکي ځوانان بې لارې کېږي، او سره له دې چې د لارښوونې او رسنيو په ټولو وسايلو د دولت قبضه ده او سره لدې چې ټول ښوونکي د کميونيست نظام تابعداري کوي، او سره لدې چې د هر هغه چا پر ضد عمليات کېږي په چا چې د کمونيزم سره د دوستۍ په لرلو ئې شک کېږي. خو ددې هر څه سره دا نظام د نفرت او فطرت سره د ټکر هغه حد ته رسېدلی چې ددغه ټولو مسايلو سره د ملت د مخالفت څخه بلکې د فطرت د مخالفت څخه ځان په امن کې نه ويني، ځکه چې ملت او فطرت تر ډېره وخته پورې د ظالمانه نظام تر سيورې لاندې ژوند نه شي کولی.

او د يو نظام د ناکامۍ لپاره دا بس دی چې هغه پرته د تروريستي او ظالمانه عملياتو نشي پاتې کېدی.

لدې امله د برترانډر رسل (Brithrand Russell) دا وړاندوينه د يو کمزورې او په مادي اسبابو ولاړه ده، او د يو محدود مادي تفکير څخه نه وځي، ځکه چې دا په هر حال ددې مادي تمدن په بنديخانه کې بند دی.

مسئله ددې څخه ډېره ژوره او هر اړخيزه ده، دا د يو داسې تمدن

مسئله ده چې د الله تعالی څخه باغي شوی دی، د ژوند تېرولو لپاره د الله تعالی د تګلارې څخه لېرې شوی دی، دا د هغو ټولنیزو تنظیمونو، فکري تګلارو او جوړو شوو مذهبونو مسئله ده چې د خپل يو اصلي بنياد څخه اخيستل شوي نه ده، او هم له دې امله دغه تمدن انسان ته د موجوداتو حقيقت د موجوداتو او د هغوی د پيدا کوونکي تر مينځ اړيکې، د انسان حقيقت، په موجوداتو کې د انسان مرتبه، د انسان د پيدايش مقصد او مقصد ته د رسېدو جايز وسايل نه شي ښکاره کولی.

دا هغه ((ناوړه بيلتون)) دی چې د هغې په بنياد هغه ټولې ټولنې او تنظيمونه ولاړ دي کومې چې د ((سپين پوستو)) په نړۍ حکومت کوي، په دې کې روسان، امريکايان، انګريزان، فرانسويان او ټول هغه خلک برابر دي چې په ختيځ او لويديځ کې ددوی تابعداري کوي.

ددې ټولنو تر مينځ په جوړو شوو اصولو کې کوم حقيقي توپير نشته، او نه دې خبرې له څه اعتبار شته چې په پانګواله امريکا کې د کليساګانو دروازې برسېره دې او په کمونستي روسيه کې بندې دي، او يا د بې دينۍ د ازادۍ له امله په اشتراکي سويډن کې شړې پرتې دي.

دې شکلي توپيرونو لره هېڅ اعتبار نشته تر څو چې په دغه ټولو هېوادونو کې دغه ټولنيز نظامونه، فکري تګلارې له هغه عقيدوي مفکورې څخه اخستل شوې نه وي کومه عقيده چې د کايناتو حقيقت، د خپل رب سره يې اړيکې، د انسان حقيقت، په موجوداتو کې د انسان مرتبه، او د انسان د ژوند مقصد ښکاره کوي، دا هغه بنيادي عناصر دي چې ددې څخه د ټولنيز نظام بنستونه اخستل کېږي، لکه څرنګه چې ترې د فکر صحيح تګلاره اخيستل کېږي. هغه تګلاره چې د انسان حقيقي فطرت ته ځواب وايي او د انسان د حقيقي اړتياؤ پوره کولو ته حاضر

وي.

ژوره او هر اړخيزه مسئله هم داده نه هغه چې د فکري بنديز تر شا يې ((برتراند رسل)) وړاندوينه کوي، دده فکر داسې دی لکه د فکري بند تر شا چې هر لويديځوال مفکر يې فکر کوي ځکه چې دوی د خپلې ټولنې، تمدن او تاريخ بنديان دي، او دا هر څه د کليسا د بد شهرت او د هغه ((ناوړه بيلتون)) په نتيجه کې مينځ ته راغلی کوم چې د پنځه پېړيو په دوران کې ددوی په ژوند باندې مهر لګولی دی.

بيا څه وشول؟

بيا ددې څخه هغه ناروغي جوړه شوه کومه چې د لويديځوال تمدن په روح کې سره د هغې د ټولو تګلارو او تنظيمونو لګېدلی ده، دا هغه څه دي چې په کې د انسان روح د ستوني څخه نيول شوی، د انسان قيمت په کې له مينځه تللی او د انسان ځانګړتياوې په کې ختمې شوې دي، خو بل طرف ته په کې د هر شي قيمت د انسان د قيمت څخه زيات دی.

دا هغه ناروغی ده چې د انسان پرمختګ او اوچتېدل يې د ګواښ سره مخ کړی دی، بلکې د انسان انسانيت يې د ګواښ سره مخ کړی دی، سره لدې چې مادي لاسته راوړنې، عملي برياليتوبونه او د جوړښت پر مخ تلل زيات شوي دي، خو ددې هر څه په جوړولو کې انسان د خپل فطرت خيال ندی ساتلی او نه يې خپلې اصلي اړتياوې په اوسني واکمن ټولنيز نظام کې په نظر کې نيولې دي.

دا سمه نده چې د اوسني مادي تمدن برېښنا زمونږ سترګې د هغه حقيقي بدبختۍ څخه ړندې کړې د کومې بدبختۍ له امله چې انسان ددې تمدن د سيوري لاندې په کړاوونو کې اخته دی، پکار نده چې دا په هوا پرېښودل شوی توغندی او پورته شوې سپوږمکۍ مونږ دهغه کندې څخه

بې پرواه کړي په کومه کې چې انسان او د هغه ارزښتونه د لوېدو په حالت کې دي.

د ځمکې پر مخ تر ټولو عزتمند شی انسان دی، دا په ځمکه اساسي موجود دی او د نړۍ د ټولو شیانو واکمن دی، د نړۍ ټول شیان دده په خدمت کې دي، او په کار ده چې وي، خو د انسان انسانیت هغه ستر ارزښت دی چې د هغه له امله د انسان پورته والی او ښکته والی پېژندل کېږي، د انسان د روح خوشحالي د هغه تمدن لپاره معیار دی په کوم کې چې انسان ژوند کوي، چې هغه دده د طبیعت سره موافق دی او که مخالف. نو کله چې مونږ ګورو چې انسان خپل ((انسانیت)) او انساني ارزښتونه له لاسه ورکوي.

- هغه د شین خوراک، بنده او تابعدا ګرځېدلی..
- هغه لدې امله په خپل فکر، ذهن او اخلاقو کې ښکته غورځېدلی..
- هغه په خپلو جنسي اړیکو کې د حیواناتو څخه هم بدتر شوی.
- هغه خپله اساسي وظیفه پرېښودې او شا ته ترې روان دی.
- هغه دومره د بدبختی، خفګان او حیرانتیا ژوند تېروي چې په تاریخ کې یې نه دی تېر کړی.
- هغه د خپل ځان او هغه وېرونکو شیانو څخه تېښته کوي کوم چې اوسني تمدن او د هغې ټولنیزو، سیاسي، اخلاقي او فکري ټولنو دهغه څخه راچاپیر کړی.
- هغه پرېشانه دی او خپل خفګان او سترړیا په هغه وسایلو لیرې کوي کوم شیان چې دده روح، جسم او دماغ وژني، لکه نشيي مواد او داسې نور.
- هغه خپل نسل ژوندی ښخوي، خپل اولاد خرڅوي تر څو چې پرې یخ چالونه او د کالو وینځلو ماشینونه واخلي.

کله چې مونږ انسان په دې ناوړه حالت کې ووينو نو ټول هغه شيان چې د ننۍ پوهې لاس ته راوړنه ده، د انسان روح ته خوښي نشي ورکولی، او نه د هغه بربادۍ مخه نيولی شي کوم ته چې انسان ور روان دی، نه هغه بدبختۍ او تکليفونه ليرې کولی شي کومو چې انسانيت په مصيبت کې اچولی دی، او نه دغه اسانتياوې او خوندونه د دغه تمدن د ناکامۍ او ډېر زر د له مينځه وړلو مخه نيولی شي او نه د يو بل داسې نظام اړتيا ختمولی شي کوم چې د هغه عيبونو څخه پاک وي کومو چې د انسان ژوند فاسد کړی دی او د هغوی د علم، پوهې او تمدني پرمختګ ميوه يې بې خونده کړې ده، هغه نظام چې انسان ته اجازه ورکوي تر څو په هغه شکل د خپل پيدايښت مقصد وپېژني په کوم شکل يې چې دده لوی پيدا کوونکی (الله) غواړي، او تر څو چې خپل علم، عقل او تجربه په داسې ډول په کار راولي په کوم ډول چې دده د اصلي اړتياو او فطري غوښتنو سره برابر وي.

د سپين پوستو واکمني په ختمېدو ده، دغه سپين پوستی که روسی وي او که امريکايي، انګريز وي که فرانسوي، د سويس وي او که د سويډن، خو ددوي دوران ختم شو، ځکه چې دغه ((ناوړه بيلتون)) د اروپا په تاريخ کې او په ټولو هغه مذهبونو، تګلارو، ټولنو او حالاتو کې چې په لويديځ کې راپيدا کېږي، په خپل رول سره د سپين پوستو د له منځه تللو وخت ټاکلی دی.

د ټولو هغه مذهبونو، تګلارو، ټولنو او حالاتو لپاره چې د انسان ژوند پرې ولاړ دی د يوې عقيدوي مفکورې ضرورت شته، په دغه ډول د کايناتو د موجوديت، په هغې کې د انسان ځای او د انساني وجود د مقصد لپاره هم د يو درست تفسير او بيان اړتيا شته خو دغه درست بيان

او دغه د حقیقت سره برابره مفکوره د واقعیت سره برابره پکار ده نه د خلکو دخیال او خواهشاتو او غوښتنو سره برابر، ځکه چې د دغه شیانو په حقیقت باندې ولاړ تفسیر دانساني ژوند یوه مهمه اړتیا ده.

خو متاسفانه چې د دغه رنګ تفسیر څخه د سپین پوستو تمدن نه یوازې دا چې سترګې پټې کړي دي، بلکې ددې پر ضد یې په پټو سترګو جنګ شروع کړی دی او په دغه جنګ کې د لویدیځ او ختیځ ټولې واکمنې ډلې برابرې دي.

انسان د پیدایښت راهیسې انسان دی، دی یوې داسې عقیدې ته اړتیا لري چې دده زړه آباد کړي او دده مفکوره ورڅخه سرچینه واخلي، ده ته د ژوند او موجوداتو هدف ښکاره کړي، دده او د موجود اتو د خپل پید ا کوونکي سره اړیکې ورپه ګوته کړي، یوه داسې عقیده چې ده ته د خپل ځان څخه اوچت، دخپلې پیړۍ څخه عام، د خپل موجود وخت څخه لیرې او دده د واقعیت څخه پورته اهداف وروښایي.

داسې یوه عقیده چې دی د یو اوچت ذات سره وتړي، داسې ذات چې دده څارنه کوي او پر ده غالب وي، دی د هغه سره مینه لري او ویرېږي ترې هم، د هغه د قهر څخه ځان ساتي او د هغه خوشحالي غواړي، په هر ښه کار کې د هغه مرسته غواړي، او په بد کار کې د هغه مخې ته د ورتلو څخه شرمېږي، د هغه د انصاف څخه د ډکې بدلې امید لري، هغه انصاف چې ده ته د هغه څه بدله ورکړي کوم څه چې ده د دنیا په ژوند کې د شر سره د مقابلې په وخت کې د لاسه ورکړي.

دی خپل ټول ژوند د هغې ذات سره وتړي، او د خپل ژوند نظام د هغه څخه ترلاسه کړي، خپله تګلاره، فکر او طریقې د هغه څخه داسې ترلاسه کړي، لکه چې د هغه څخه دعبادت طریقې ترلاسه کوي، پدې کار سره به

دده ژوند يو موتی شي، چې نه به په کې بيلتون وي او نه تکر.

کله کله انسان د بدن او جسم د لوړې د ختمولو لپاره او د ظاهري شيانو د لاسته راوړنې لپاره مشغول شي خو دغه لوړه ټول انسان په خپله قبضه کې نه اخلي، او نه د هغې ختمول د انسانيت هره لوړه ختمولی شي، ددې لوړې د ختمېدو سره په انسان کې بله لوړه راپيدا کېږي چې نه يې خوراک له مينځه وړی شي، نه يې ښاک ختمولی شي، نه ورله لباس بس کېدای شي او نه يې بل کوم شی ارامولي شي، دا يو بل ډول لوړه ده، دا د ايمان لوړه ده چې طاقت يې د انسان څخه ډېر دی، نړۍ يې د ښکاره څخه لويه ده، ساحه يې د دنيا د ژوند څخه زياته ده، دا د انسان د ضمير او موجوده حالت د جوړښت لوړه ده ،د هغه قانون تر مينځ چې دده د ضمير فيصله کوي او د هغه قانون چې دده د ژوند فيصله کوي تر مينځ د يووالي لوړه ده، د ده د شخصي حرکت د تګلارې او د کايناتو د حرکت د تګلارې تر مينځ د يووالي لوړه ده، چې د هغه څخه په يو وخت دده د زړه قانون او د ټولنې قانون لاس ته راوړی شي.

د ژوند هر هغه نظام چې دا لوړه په يو وار له مينځه نشي وړی هغه هيڅ کله هم انسانانو ته نيک بختيا نشي ورکولی، او دا هغه علامه ده چې د سپين پوستو تمدن ورڅخه خالي دی.

لدې امله مونږ وايو چې د سپين پوستو واکمني ختمه ده.

# د خطر چيغه

اوس ددغه ايمان او انساني روح څخه د خالي تمدن په سيوري کې د ژوند کولو له امله چې انسانيت د کوم ناوړه راتلونکي سره مخامخ شوی د هغې څخه د ژغورلو لپاره ددې او هغه ځای څخه ببلابېلې چيغې پورته کېږي، کله داويل کېږي چې ټول انسانيت د هلاکت کندې ته روان دی، او کله خلک د مارکسيزم د کندې څخه وېرول کېږي او ددې او هغې خطر څخه د ژغورلو لپاره جلا جلا پيشنهادونه وړاندې کېږي.

خو دا ټول بې فايدې کوښښونه دي ځکه چې دا په بنسټيزه توګه د مشکلاتوعلاج نه شي کولی، او نه په اروپايي خاوره کې ددې کلکو او ژورو جرړو ته کتل کېږي.

ددغه چيغو او پيشنهادونو په نتيجه کې مونږ ته د اروپايي عقليت لنډوالی او ړوندوالی په نظر راځي (دا راته معلومه شوه چې د اروپايانو عقل څومره لنډ فکر کوي او ددوی سترګې څومره د حقيقت څخه ړندې دي).

کېدای شي چې مونږ دغه چيغې وهونکي حيران خلک د علم او ساينس په قفسونو کې بند وګورو چې پښې يې په زنځيرونو تړل شوې دي، که دوی هر څومره ټوپ وکړي خو ددغه قفس څخه بهر نشي وتلی، يا دوی د خپلې ټولنې بنديان دي چې دوی يې بهر ته د کتلو څخه کمزوري کړي دي.

دغه خبره مونږ د اسلامي تګلارې خاوندانو ته دا مسئولیت راسپاري چې انسان تر هغه پورې حقیقي آزادي لاس ته نه شي راوړی تر څو چې یې دغه قفس مات کړی نه وي او بهر ترې راوتلی نه وي، او حالاتو ته یې په پوره آزاد ډول کتلي نه وي، او د مشکلاتو هر اړخیز فکر او د هغې لپاره یې په وخت داسې د حل لارې چارې نه وي وړاندې شوي کومې لارې چې ددغه نوي هر اړخیز فکر څخه اخستل شوي وي.

پدې هکله مونږ نور څه ویل نه غواړو، یوازې د خطر څخه د وېروونکو چیغو دوه مثالونه وړاندې کوو چې پدغه چیغو کې وړاندې شوي پیشنهادونه د چیغو وهونکو تنګ نظري او ړوندوالی په ډاګه کوي.

پدې دوه مثالونو کې یو د شلمې پېړۍ د لوی پوه دکتور ((الکسیس کاریل)) **Alexis Karel** او دوهم ددغه پېړۍ د یو لوی سیاست پوه مستر دالاس **(Dulles)** د امریکا د پخواني وزیر خارجه وینا ده.

داکتر (الکسیس کاریل)....( **Alexis Karel)** ((انسان یو ناپېژندل شوي مخلوق)) تر عنوان لاندې په خپل کتاب کې د انساني ځانګړتیاوو د له منځه وړلو له امله د اوسني مادي تهذیب پر ضد ګواهي ورکړې ده او دهغه خطر څخه د خبرولو په خاطر یې خپل آواز اوچت کړی دی د کوم خطر سره چې انسان د طبیعي قوانینو څخه د سرغړوني له امله مخ شوی دی، هغه قوانین چې تیری کوونکی د سزا پرته نه پرېږدي.

نوموړي د انسان په حقیقت باندې بلکې د انسان په ساده بدني جوړښت باندې د ساینس ناپوهي ښکاره کړې ده، دلته مونږ ددغه ګواهی، په هغې کې د خطر د چیغو او د خطر څخه د ژغورلو لپاره د وړاندې شوو پیشنهادونو یو څو نمونې وړاندې کوو.

ددې کتاب هدف د هر وګړي مخې ته زمونږ په زمانه کې د ژوندیو موجوداتو په اړه د علمي (ساینسي) معلوماتو یوه برخه اېښودل دي، ځکه

چې اوس مونږ په دې پوهېږو چې زمونږ په تمدن کې څومره کمزوري ده او ډېر خلک غواړي چې هغه لاربنوونې شا ته وغورځوي کومې چې نوې ټولنې په هغوی لازمي کړې دي، زه دا کتاب ددغه خلکو لپاره او د هغه زړورو خلکو لپاره لیکم څوک چې نه یوازې د عقلي، سیاسي او ټولنیز بدلون اړتیا ګوري بلکې د بشري پرمختګ لپاره د اوسني مادي تمدن پر ځای د یوې بلې مفکورې رامنځ ته کول ضروري ګڼي.

اوسنی تمدن د یو سخت حالت سره مخامخ دی، ځکه چې دا زمونږ د حالاتو سره سمون نه خوري، دا تمدن د انسان په طبعیت باندې د پوهېدو پرته منځ ته راوړل شوی دی، ځکه چې دا فقط د ساینسي لاس ته راوړنو، د خلکو د غوښتنو، نظرونو ،مفکورو او وهمونو په نتیجه کې مینځ ته راغلی، اګر چې دا تمدن زمونږ د کوښښونو په وجه مینځ ته راغلی خو دا زمونږ داړتیاؤ سره برابر نه دی.

د مشیني ژوند د تنظیم په وخت کې فابریکې د کارګرانو جسمي او عقلي حالت له پامه غورځولی دی، ځکه چې د اوسني جوړښت بنیاد پدې قاعده ولاړ دی چې: ((لږ مصرف ډېره لاس ته راوړنه)) تر څو یو فرد یا ډله وکولی شي چې ډېر مال لاس ته راوړي، او ددې حالت ساحه وخت په وخت د هغه انسان په ذهن کې هم بې له فکره پراخېږي څوک چې دغه ماشینونه څرخوي، او په غیر د هغو اغېزو د پېژندلو څخه کومې چې دغه ماشیني ژوند او فابریکه یې په فرد او د هغې په نسل کې پرېږدي)).

((ضروري ده چې انسان د هر شي لپاره معیار وګرځول شي، خو اوسنی حالت ددې پر ضد دی، انسان په خپل لاس جوړې شوې دنیا کې نا اشنا دی، دی خپله دنیا په خپله نشي تنظیمولی، ځکه چې دی په عملي توګه خپل ځان نه پېژني، نو له دې امله هغه لوی پرمختګ چې د جماداتو پوهنې ته یې د ژوند په پوهنه پورته والی ورکړی دی، هغه

ستره بدبختي ده چې انسان يې د مصيبت سره مخ کړی دی، ځکه هغه تولنه چې زمونږ عقلونو او لاس ته راوړنو جوړه کړې ده، هغه زمونږ د اړتياو سره برابره نده، مونږ سرګردانه قوم يو چې په اخلاقي او عقلي لحاظ د زوال په طرف روان يو.

هغه ډلې او قومونه چې د هغوی مشيني تمدن ډېر پرمختګ کړی دی، هغوی د کمزورۍ طرف ته روان دي، او دوی به ډېر زر د نورو څخه مخکې په زور، ظلم او زياتي باندې شروع وکړي. خو دوی پدې خبره باندې نه پوهېږي او بيا به هغه څه نه وي چې دوی د هغه دښمنۍ د حالت څخه وژغوري کوم حالت چې ساينس د دوی ګيرچاپيره جوړ کړی دی.

په حقيقت کې زمونږ تمدن د پخوانو تمدونونو په څېر دی، چې د ژوند لپاره يې داسې ځانګړي حالات جوړ کړل چې له امله يې ژوند تېرول ګران شو، چې د هغې اسباب لا تر اوسه پورې پټ دي، هغه غم او خفګان چې د پرمختللو هېوادونو خلک ورسره مخ دي دا د دوی د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو نظامونو پيداينبت دی)).

((مونږ د مشين جوړونو د زياتوالي څخه هېڅ ګټه نشو پورته کولی، او مناسبه به دا وي چې نور مونږ د طبعياتو، فلکياتو او کيميا په ډګر کې لاس ته راوړنو ته ډېر اهميت ورنکړو، اګر که حقيقت دادی چې ساينس په خپل ځان کې مونږ ته مخامخ ضرر او تاوان نه شي رسولی، خو کله چې د ساينس سرکشه بنايست زمونږ په عقلونو برلاسی شي او زمونږ فکر په جماداتو کې ورک شي نو دا زمونږ لپاره خطر دی، له همدې امله ضروري خبره داده چې انسان خپل ځان او هغه اسبابو ته پاملرنه وکړي کوم اسباب چې دده د اخلاقي او عقلي کمزورۍ لامل شوي دي.

د هغه راحت، غتوالي، ښایست، شکل او د تمدني جوړښت داسبابو د زیاتوالي څه فایده چې زمونږ کمزوري، مونږ د هغې څخه د ګټې اخستلو څخه منع کوي. حقه خبره داده چې د ژوند د ښایسته کولو لپاره هغه کوښښ بې ګټې دی کوم چې زمونږ د اخلاقي زوال سبب ګرځي او د ټولو څخه د ښه عنصر د له مینځه وړلو لامل کیږي)).

((انسان د وراثت، ټولنې، فکر او د ژوند د هغه عادتونو نتیجه ده کوم چې اوسنۍ ټولنه یې په انسان لازموي، مونږ دا وښودله چې څه رنګ دغه عادتونه د انسان په حس او شعور باندې اغیزه کوي، مونږ دا هم وپیژندل چې انسان نه شي کولی چې ځان د هغه ټولنې سره برابر کړي، کومه ټولنه چې اوسنۍ ټکنالوژۍ جوړه کړې ده، ځکه چې دا ټولنه د انسان د له مینځه وړلو سبب ګرځي، خو دا هم باید هېر نه کړو  چې ددغه حالت مسئولیت د ساینس او لاس ته راوړنو په غاړه نه دی، بلکې دا زمونږ په غاړه دی ځکه چې مونږ د روا او ناروا تر مینځ فرق نه شو کولی. مونږ د فطرت قوانین مات کړي دي چې ددې په وجه مونږ یو ستر جنایت تر سره کړی دی هغه جنایت چې ترسره کوونکی یې همېشه سزا ځکي.

د ((ساینس د طریقو)) او د ((جوړښت د لاربښوونو)) بنسټونه د ((بیالوژي)) د اغیزې لاندې راغلي او کله چې د ژوند څخه یوې ((حرامي زمکې)) ته د ورتللو اجازت وغوښتل شي نو هغه دپوښتنې کوونکي د کمزورتیا پرته بل ځواب نه ورکوي، او له همدې امله دا تمدن د زوال طرف ته روان دی، ځکه چې د بې روحه شیانو علم مونږ هغه هېوادونو ته بیایي چې هغه زمونږ څخه نه دي خو مونږ د هغې تحفې بې فکره او بې توپیره قبلوو، چې له امله یې هر وګړی تنګ زړی، د خپل ځان ګناه کوونکي، ناپوهه او په خپل ځان او لاس لاندې شیانو باندې د

واک نه لرونکی جوړ شو.

((دا به ګرانه وي چې مونږ د هغه تګلارې څخه ځان خلاص کړو کومه چې څه د پاسه د درې سوه( ٣٠٠) کالو راهیسې د پرمختللي قوم په عقلونو واکمنه ده)).

((که د ساینسي تمدن لپاره دا ضروري ده چې د هغه لارې څخه ګوښه کړل شي په کومه چې د خپل پیل د زماني څخه راروان دی، او په سرسري ډول د جامدي مادي په کتلو د سره غور شروع کړی، نو له امله به یې په فوري توګه عجیبه واقعات رامینځ ته شي)).

((ماده به خپله واکمني د لاسه ورکړي او عقلي فعالیت به د جسمي فعالیت په څېر وګرځي او د ادبي، ذوقي او دیني مسئولیتونو څېړنه به داسي ضروري شي لکه د ریاضي، طبیعت او کیمیا څېړنې چې ضروري ګڼل شوي دي)).

((ډېر زر به د تعلیم اوسني اسباب او وسایل بې قدره شي او مدرسې او پوهنتونونه به دخپل نصاب بدلولو ته اړ شي)).

((زر دی چې روغتیایي پوهان به پوښتنه کوي چې ولې دوی د عقل او ذهني پراګندګی د ناروغي پر ځای بدني ناروغیونو ته ډېره توجه کوله؟! او ولې یې د روح د روغتیا لپاره کوښښونه نه کول؟))

ولې د ټولنو څخه په ساري (متعدي) امراضو اخته خلک ګوښه کېدل خو کومو خلکو چې عقلي او ادبي ناروغۍ خپرولې هغوي نه ګوښه کېدل؟ ولې هغه عادتونه ضرري ګرځول کېده کوم چې د بدني ناروغیو لامل کېدل خو هغه عادتونه ضرري نه شمارېدل کوم چې د فساد، جرم او لېونتوب سبب جوړېدل؟

ډېر ژر به اقتصاد پوهان پدې پوه شوي چې انسان یو فکر کوونکی،

پوهه لرونکی او درد موندونکی شی دی، لدې امله ده ته د کار، خوراک او ساعت تیری پرته نور څه وړاندې کول هم ضروري دي، انسان د جسمي حاجتونو تر څنگ د روح اړتیاوې هم لري، دوی به پدې هم پوه شي چې د ډېرو اقتصادي او مالي بحرانونو لامل عقلي او ادبي ستونزې دي.

دغه رنگ ضروري ده چې مونږ هغه مشیني لاس ته راوړنې وغورځوو کومې چې د انساني پرمختگ په مخ کې خنډ جوړېږي.

((زر به اقتصاد پوهان پدې پوه شي چې دوی د هر څه لپاره د فیصلې اخیرنی ځای نه دی، کله چې دا ښکاره ده چې د مادي تکلارې څخه د انسان آزادي به زمونږ د ژوند په ډېرو اړخونو کې بدلون راولي نو لدې امله اوسنی ټولنه به په ټول توان سره زمونږددې خبرې مخالفت وکړي)).

((په هر حالت کې باید احتیاط وکړو تر څو د مادي ناکامی څخه روحي عمل دلاسه ورنکړو، ځکه چې کله تکنالوژي او مادي کوښښونه کا میابي ترلاسه نه کړي، نو بیا خلک ددې په مقابل کې د عقلي ټوټکو په خپلولو رالگیا کېږي. خو د نفسي غوښتنو د واکمنی خطر د بدني، طبیعي او کیمیاوي واکمنی د خطر څخه کم نه دی.

فرویدFreud (د خپلې نظریې دخورولوله امله) د ساینس پوهانو څخه هم زیات ضرورونه راپیدا کړل، ځکه چې دا یو ستر مصیبت دی چې مونږد انسان عقل داسې یوازې پرېږدو لکه څرنگه چې طبیعي او کیمیایي مشینونه ځان ته پرېښودل شوي دي.

پکار ده چې مونږ د وینې د کرویاتو او د هغې د اغېزو داسې څېړنه وکړو لکه چې مونږ یې د خوبونو، شهوتونو، د لمونځ د نفسي اغېزو او د

کلمو د ذکر د اغېزو ښېرنه کوو، خو د مادي پر ځای روح غوره کول هم هغه خطا نه شي سمولي، کومه چې اوسني تهذیب کړې ده، نو ویلی شو چې د مادې له مینځه وړل به د عقل د له مینځه وړلو څخه ډېر تاواني وي، او خلک به خپل خلاصون د هر مذهب څخه په بېزارۍ کې ګوري)).

دا د داکتر کاریل (Karel) د آواز لنډیز دی خو د هغه پېشنهادونه څه دي؟ هغه ددغه حالت څخه د خلاصي لپاره څه حل پيشنهاد کوي؟ کومه تګلاره ده چې هغه خطاګاني اصلاح کړي کومې چې د پرمختګ زماني یوازې په ماده باندې د ایمان راوړلو له امله کړې دي، او ددغه اصلاح تر څنګ د مادې په پوره ډول شا ته ګوزارولو سره بلـه خطا هم ونـه کړي، بلکې په منځ مهالي ډول حرکت وکړي او د انسان او د انساني ژوند د ټولو اړخونو خیال وساتي؟

هغه کومه تګلاره ده چې د مادې د پرېښودلو پرته انسان په ماده باندې واکمن کړي؟

دده سره د هغه ستر مصیبت د پېژندلو وروسته د حل څه تصور دي کوم مصیبت چې انسانیت د ګواښ سره مخامخ کړی؟ او نوموړی آواز کوي چې ((دا اوسنی مشیني تمدن دې بدل کړی شي او ددې پر ځای دې د انسان د پرمختګ لپاره یوه بله مفکوره رامنځ ته شي، او انسان دې د ټولو مذهبونو څخه ګوښه کړل شي.))

په دې هکله چې مونږ دده وینا اورو نو عجیبه او حیرانوونکې خبرې اورو او وینو.

دی وایي چې: ((مونږ د بې روحه شیانو د پوهې له کبله د ژوند د پوهې د وروسته والي قربانیان یو)). د اوسني لوی شر یواځینی علاج دادی چې مونږ په خپلو ځانونو ژوره پوهه ولرو، دا پوهه به مونږ ته

قوت راکړي تر څو هغه ماشيني فعاليتونه وپېژنو د کومو له امله چې اوسني ژوند زمونږ په عقل او جسم باندې اغېزه کړې ده، پدې ډول به مونږ پوه شو چې څه رنګ ځانونه د هغو حالاتو سره برابر کړو کوم حالات چې زمونږ څخه راچاپېره دي، او څه رنګ به خپل ځانونه بدلوو؟ ځکه چې په نفس کې د بدلون پرته بله چاره نشته.

که د انسان علم وکولای شي چې په سمه توګه زمونږ په طبعيتونو، امکاناتو او په هغه طريقه رڼا واچوي د کومې طريقې په واسطه چې مونږ دغه امکانات لاس ته راوړی شو، نو همدغه پوهه به په سمه توګه مونږ ته هغه څه ښکاره کړي د کوم له امله چې مونږ ته د بدني کمزورۍ سره ادبي او عقلي ناروغۍ راولاړی شوي دي.

مونږ دهغه قواعدو د پېژندګلوۍ لپاره بله وسيله نه لرو کوم چې زمونږ د بدني او روحي فعاليتونو سره اړخ نه لګوي، د روا او ناروا تر مينځ توپير نه کوي، او ددې خبرې د پېژندلو وسيله هم نه لرو چې مونږ آزاد نه يو تر څو چې مونږ د خپلې خوښې سره سم په خپله تولنه او ځانونو کې تبديلي راولو.

تر کومه چې اوسنی تمدن د ژوند، طبيعي حالت د مينځه وړي دي، نو انسان پوهنه نوره هم ضروري شوې ده.

دا ددغه لوی پوهان په جيب کې هغه ټول پيشنهادونه وو کوم چې ده د تبا کوونکي مصيبت د پېژندلو څخه وروسته (د انسانيت د خلاصي لپاره) وړاندې کړي دي.

ددغه سړي دې پيشنهاد ته رسېدل، او دا د مسئلې د حل لپاره يواځينی لاره ګڼل چې که انسان خپل انسانيت ساتل غواړي او خپل ځان د ظلم او وحشت نه ساتي نو پکار ده چې ((د انسان په اړه نوره پوهه لاس ته

راوړي)) ددې لنډ فکر څخه هغه اغېزه معلومېږي کومه چې دغه تمدن د خپلو خلکو په فکر او تصور کې کړې ده، ځکه چې دغه تمدن دوی د ((پوهې او موجوده حالت)) په یو داسې اوسپنیز قفس کې رابند کړي دي چې دوی د هغې د قید څخه وتلی نه شي، او ددې څخه دا هم معلومه شوه چې ددې ستر مشکل حل هېڅ کله هم د لویدیځ څخه نه شي راتلی، ځکه ددې حل لپاره یو داسې څارونکی په کار دی چې څارنه د بهر څخه وکړي نه د قفس د دننه څخه.

د جماداتو د علم څخه د ((انسان پوهنې)) د علم وروسته والی کومه ناڅاپي پېښه نه ده، لکه څرنګه چې دکتور ((کاریل)) همدې طرف ته میلان لري، بلکې دا یوه طبعي او حتمي نتیجه ده د انسان د هغه ارزښت او رول لپاره کوم رول او ارزښت چې ددغه تمدن په بې کاره تصور کې د انسان دی، ځکه چې دا تمدن له پیل څخه د صحیح عقیدې د تصور څخه جدا کړی شوی، هغه تصور چې انسان ته عزت ورکوي او هغه په ځمکه باندې د الله خلیفه مني.

دغه رنګ هغه مصیبتونه چې د انسان د ارزښت او د هغه د حقیقي اړتیاؤ د نه پېژندلو له امله په اوسنۍ د جوړونې او لاس ته راوړنې په نظام کې رامینځ ته شوې دا د هغه اقتصادي ټولنو پایله ده د کومو ټولنو اساس چې د عقیدې او دیني اخلاقو په دښمنۍ باندې ولاړ دی، کومې ټولنې چې په هغه فکر باندې ملنډې وهي کوم فکر چې په اقتصادي ژوند کې د اخلاقو د ننویستو غوښتنه کوي.

په دغه ډول د انسان د فطرت او حقیقت په اړه په لږو معلوماتو بلکې په ناپوهۍ باندې ولاړ باور، او ددغه اعتماد پر بنسټ ټولنیزې،

اقتصادي، سیاسي او تربیوي ټولنې جوړول هسې نه دي رامینځ ته شوي، بلکې دا د هغه دښمنۍ نتیجه ده چې دا خلک یې د الله لخوا د رالېږل شوي شي دین سره لري، او د هر هغه شي سره یې لري چې د انسان او د هغه د حقیقت په پېژندګلوۍ ورسره الهي تګلاره مرسته کوي. همدا دښمني ده چې د هغې پر بنسټ دا تمدن ولاړ دی، او دا دښمني په اروپا کې د کلیسا او د ساینس تر مینځ د شخړې له امله رامنځ ته شوې ده.

ددې وړاندوینو له امله مونږ پوهېږو چې خبره د هغه څه نه ډېره ژوره ده د کوم فکر چې دغه لوی پوهان کوي او په دغه ځای کې د هغه قیدونو له امله ولاړ دي کومو قیدونو چې دده عقل تړلی دی، ځکه چې دغه قیدونه ددغه شنډ تمدن په سوري کې پیدا شوي دي.

لکه څرنګه چې داکتر کاریل هغه خطر محسوس کړی دی د کوم خطر سره چې د انسان ارزښت او جوړښت د مادي تمدن له امله مخامخ دی، دغه رنګ د امریکا د بهرنیو چارو پخوانی وزیر (مستر دالاس **Dulles**) هم دا محسوسه کړې ده چې متحده ایالات او لویدیځه نړۍ د هغه کمیونستي خطر سره مخ دي د چا ټولنیز نظام چې د (مادي تګلارې او د تاریخ د اقتصادي تفسیر) پر بنسټ ولاړ دي.

مستر دالاس په خپل کتاب (جنګ که امن؟) کې ددغه خطر څخه د وېرولو لپاره خپل آواز پورته کړی دی.او ددغه خطر د له مینځه وړلو غوښتنه یې کړې ده، خو دده پېشنهادونه هم هر اړخیز نه دي او نشي کولی چې مشکلات د مینځه یوسي، نوموړي د کلیسا د خلکو څخه هغه څه غوښتلي چې هغوی یې ترسره کولی نه شي او نه هغوی ددې د ترسره کولو په حالت دي د هغه څه له امله چې د ډېرې مودې راهیسې د کلیسا او د ټولنې په ژوند کې راپېښ شوي دي.

نومورې د خپل کتاب په یو فصل ((زمونږ روحي ارتیاوې)) کې لیکلي دي:

دلته داسې یو څه شته چې زمونږ په ملت کې په خطا توګه ترسره کیږي، چې له امله یې مونږ پدې تکلیف او نفسي حالت کې اخته یو، زمونږ سره دا نه ښايي چې مونږ دې د ویرې په حالت کې د خپل ځان څخه دفاع وکړو ځکه چې دا به زمونږ په تاریخ کې نوې خبره وي.

خبره د مادیاتو نه ده ځکه مونږ د نړۍ تر ټولو لویه مادي لاس ته راوړنه لرو، هغه څه چې زمونږ سره نه شته هغه سم او قوي ایمان دی چې د هغې پرته زمونږ هر څه لږ دي، دغه نقصان د خپل ټول توان سره سیاست پوهان، د خپلې ټولې زیرکتیا سره دپلوماتان او د ډېرو لاس ته راوړنو سره پوهان، او د ډېر طاقت لرونکي بمونه نه شي پوره کولی، کله چې خلک یوازې په مادي شیانو باندې بروسه وکړي نو د ناوړه نتیجو مخې ته راتلل ضروري خبره ده.

زمونږه ټولنې د خپل هېواد څخه د دفاع لپاره روحي اخلاص نه لري، زمونږ د خلکو په عقلونو کې حیرانتیا او په روحونو کې یې ستړیا ده، او همدغه شیانو زمونږ خلک د دښمنۍ څخه د ډک خیانت سره مخامخ کړي دي چې ښارګرو دا خبره ښکاره کړې ده او هېڅ یوه اداره نه شي کولی چې زمونږ د ساتلو لپاره د ښارګرۍ سره مبارزه وکړي.

مونږ د هغه سختو ازموینو سره هم مخامخ شو د کومو په اساس چې ملتونه سره یو کیږي او هغه ازموینه په خوشحالیو کې ژوند تېرول دي.

عیسی علیه السلام وایي چې: دا مادي شیان به هغه چا ته ورکول کیږي څوک چې د اللهجل جلاله د حکم مطابق عمل کوي، د هغه عدل او انصاف قایموي خو کله چې مادي شیان لاس ته راشي نو بیا اصل

امتحان شروع شي، ځکه کېدی شي چې ددغه څخه د عیسی علیه السلام د وینا مطابق هغه زنګ جوړ شي کوم چې روحونه خیرن او کمزوري کوي.

پدغه ډول زمونږ سره یوه ښکاره نمونه شته، د چا سره چې د یو اوچت ذات د حکمونو د پوره کولو احساس وي نو د هغه د ارادو د پوره کولو کوښښ کوي، ځکه چې ددوی ایمان دوی ته قوت، بهتري او پراخه پوهه ورپه برخه کوي، دوی یوازې نن نه بلکې سبا هم جوړوي نه یوازې د ځان لپاره بلکې د ټول بشریت لپاره.

کومه ټولنه چې په دغه بنسټ ولاړه وي نو نتیجه یې مالداري او د حالاتو د سمون په صورت کې د ډېرو خلکو خوشحالي ده، نو بیا چې کله دا لاس ته راوړنې راشي نو هغه ډېرې پاکې وي، تر دې حده پورې چې دا لاس ته راوړنې عقیده پیدا کړي چې دا هغه پایلې دي د کومو چې انتظار کېده، پدې سره به خلک د اوږدې مودې د کوششونو څخه لاس واخلي او د مادي شیانو د لاس ته راوړنو لپاره به سیالی شروع کړي.

ددې بدلون سره به خطر نور هم زیات شي ځکه چې امریکایانو په هغه طریقه امن لاس ته راوړی کومه طریقه چې د امن ضمانت ورکولی شي چې هغه ددوی د لویو کوښښونو یوه وړه او لږه پایله ده، خو که چېرته مونږ کوښښ پرېږدو او بې کوښښه امن وغواړو نو پدې سره به زمونږ امن لیرې لاړ شي، که مونږ هر څومره مالدار شو خو حال به همدغه وي، ځکه چې امن په بیه نه اخستل کېږي، نه د امن راوستلو لپاره پنځه ملیارده یا پنځوس ملیارده ډالره بس کېدی شي، امن او سلامتي هغه شی نه دی چې په بیه واخستل شي، د روم ټولو واکمنو د خپل زوال په وخت کې ډېر کوښښ وکړ چې امن او سوله لاس ته راوړي خو ولې

کاميابي د هغه چا په برخه وه چا چې د دوی تباه کول غوښتل.

پدې وخت کې چې مونږ د اغېزې او امن په برخه کې مخ په ښکته روان يو، کميونستي روسيه پدغه دواړه برخو کې مخ پورته روانه ده، روسيه اوس کولی شي چې هغه سياستونه اغېزمن کړي په کومو چې د ((لويې روسيې د کميونسيتی تجربې)) مهر لګېدلی، هغه تجربه چې له امله يې کميونستانو وکولی شو چې د نړۍ د ملتونو پام ځان ته راواړوي لکه څرنګه چې مونږ په نولسمه پېړۍ کې د لويې امريکا د تجربې په ترسره کولو سره د ملتونو پام ځان ته را اړولی ؤ.

مونږ پوهېږو چې د کمونيزم **Commonisme** وړانديزونه د چل او دوکې نه ډک دي او پدې هم پوهېږو چې روسي کمونيزم به هېڅکله هم د هغه تجربې دروازه د نورو لپاره بېرته نه کړي کومه تجربه چې دوی په خپل هېواد کې د يو آزاد او بې طرفه دولت د جوړېدو لپاره کړې ده، مونږ پدې هم پوهېږو چې کوم خلک پدغه غولونکو انځورونو باندې دوکه شي او ددوی په پنجو کې ورشي نو ډېر زر به ورته حقيقت معلوم شي، د جولاګي يو ښايسته اوبدلی کور چې په لمر کې پرقېږي تر څو مچان ځان ته راجلب کړي، پدغه ډول کمونيستي شعارونه هم د جولاګي د کور په شان زړه راښکونکی دی، خو کله چې کوم ملت د هغې په منګولو کې پرېوځي نو زور زياتی د هغه ټول قوتونه له مينځه وړي، خو ددې سره عام خلک د يو اميد په ډول کمونيزم په آسيا، بحر الکاهل، جنوبي امريکا، افريقا تر دې چې د غربي اروپا په هېوادونو کې قبلوي.

۱

((ستالين Joseph sta lin وايي چې: د مارکس او لينن د نظريې قوت پدې کې دی چې دا نظريه د ټولنې د مادي پرمختګ د اړتياؤ د پوره کولو لپاره هلې ځلې کوي)).

((داسې ښکاري چې ډېر غير کميونست دولتونه د لويديځ د مسيحي دولتونو په ګډون د ټولنې دمادي ژوند پرمختګ ته د لومړيتوب حق ورکوي، او روحي ژوند کوم چې د فرد سره تړاو لري هغه وروسته کوي)).

کميونستان دا کار د خپلې نظريې د کاميابۍ لپاره د يو مثال په توګه په کاروي، تر دې چې دا ثابته کړي چې غربي ټولنې هم بايد د کمونيزم په مادي نظرياتو عمل وکړي. او غربي مشران په قناعت ورکوونکې توګه ددې انکار هم نشي کولی، چې ددې له امله د روسيې کمونيزم ادبي قدر په نړۍ کې په اوچته درجه غښتلی کيږي.

((ستونزه ددې څخه راولاړه شوې ده چې مونږ د خپل ايمان په اړه او د خپل ايمان او عمل تر مينځ د اړيکو په اړه ښکاره موقف نه لرو)).

مونږ کولای شو چې د آزادونې او آزادۍ، د بشر د حقونو، د اساسي

---

۱- دا څو لسيزې د مخه د يو امريکايي سياست پوه د روسيې په اړه څرګندونې دي، تاريخ تکرارېږي روسيه يو ځل بيا مخ پورته روانه ده او امريکا د خپل بې کفايته مشرتابه او د زور زياتي له امله د زوال په طرف روانه ده، هغه څه چې دغه سياست پوه د کميونستي روسيې په اړه ويلي، ټکي په ټکي په اوسنۍ امريکا باندې تطبيقيږي، د هغې غولونکی سياست، شعارونه او زور زياتی هر څوک پېژني. (ژباړن)

آزاديو او د فرد د عزت او انساني ارزښت په هکله ډېرې په زړه پورې خبرې وکړو، خو دا ټولې د هغه وخت خبرې دي کله چې زمونږ ټولنه په ځانله والي باندې ولاړه وي، ددې خبرو په هغه خلکو هېڅ اغېزه نه کېږي کوم خلک چې په داسې حالت کې ژوند کوي په کوم حالت کې چې د ځانله والي معنی بې وخته مرګ وي.

مونږ دا هم کولای شو چې د مادي پرمختګ په اړه زړه راښکونکې خبرې وکړو، د ټولنيزو لاسته راوړنو د بڼکلا څخه د موټرو، راديوګانو او هغه تلويزونونو څخه چې زمونږ خلک يې لري خبرې وکړو، خو د مادي پرمختګ په اړه ډېرې خبرې کول به ځينې خلکو ته دا فکر ورکړي چې ګواکې مونږ په روحي اړخ کې ډېر کمزوري يو، دا کار به ځينې خلک زمونږ سره کينې او حسد کولو ته وهڅوي، لدې امله زه د ټولنې د مادي ژوند د پرمختګ لپاره د کمونيزم د ټولنيزو کوښښونو ستاينه کوم.

مونږ په نړۍ کې د کميونستي روسيې سره مقابله نه شو کولی او نه د هغې د دوکې، تروريزم او سختي طريقې له مينځه وړی شو، تر څو چې زمونږ سره ايمان نه وي، او تر څو چې مونږ په خپله نوې ټولنه کې هغه روحي وسايل استعمال نکړو کوم چې کارونه د رسوايی او سپکاوي څخه ژغوري، او هغه ذليل ژوند د مينځه وړي په کوم کې چې روح وده نشي کولای.

مونږ دومره کمزوري يو چې زړه سوی راباندې په کار دی ځکه چې مونږ ته معلومه ده چې د بې دينۍ او ماديت پرته هم ټولنيز انصاف راتلی شي، خو دا د فرد په اختيار پورې تړاو لري چې د بل وګړي په مقابل کې ټولنيزې پابنديانې قبلوي او که نه.

ددې کار په پایله کې زمونږ د ملت ډېرو خلکو پدې آزاده ټولنه کې خپل ایمانونه د لاسه ورکړي دي. او د یو ملت په توګه مونږ خپل دیني ایمان او د دیني عبادتونو سره ته رسول هم ورک کړي دي، خو بیا هم مونږ ځان ته د دین خاوندان وایو، دا ځکه چې مونږ د دین او په دین باندې د عمل کولو تر مینځ توپیر راوستی دی، مونږ اوس هم باور لرو چې ایمان د اوسنیو حالاتو سره سمون خوري او کله هم چې د ایمان او عمل تر مینځ اړیکې وشلېږي نو مونږ بیا هېڅ کله هغه روحي قوت ته وده نه شو ورکولی د کوم قوت چې مونږ په نړۍ کې خورول غواړو.

مونږ ددې هر څه بدلولو ته اړتیا لرو، مونږ کولای شو بلکې ضروري ده چې مونږ په بشپړ ډول د مارکسیزم نظریه پرېږدو کومه نظریه چې دا وایي چې:

((مادي شیان په روحي شیانو لومړیتوب لري)) ظلم او استبداد هېڅکله هم صحیح کېدی نه شي حتی په ځینو حالاتو کې هم درست ندی.

پکار ده چې مونږ د انسان د آزادۍ لپاره ایمان ته د لومړیتوب حق ورکړو او پدې هکله د هېڅ ډول ځخه ونه وېرېږو، او په کار ده چې مونږ پدې دیني مفکوره باندې منګولي ولګوو چې: ((الله تعالی انسان ددې لپاره پیدا کړی دی چې دی د مادې لاس ته راوړنو څخه هم ډېر قدر ولري، او د انسان اخرنی هدف د جسمي امن څخه پرته بل شی دی، په کار ده چې مونږ پدې خبره یقین وکړو چې باید انسان په هر ځای کې د ډېریدونکي روحي، عقلي او اقتصادي تنګۍ څخه آزاد کړل شي، پدې کار سره به د هغه ټولنې اقتصادي خوشحالي نوره هم زیاته شي په کومه کې چې انسان ژوند کوي.

مونږ باید پدې هم پوه شو چې د آزادۍ ټولنې معنی دا نده چې په هغې

کې هر فرد د خپل ځان لپاره کوښښ وکړي، بلکې د آزادۍ ټولنې څخه هدف هغه ټولنه ده چې وګړي یې د یو بل سره اړیکې ولري، د ټولنې اړیکې باید د هر څه نه مخکې هغه د وروړلۍ تعلقات وي کوم چې د ایمان څخه سرچینه اخلي، ځکه چې انسان ددې لپاره پیدا شوی تر څو د الله د حفاظت د لاندې په خپل مینځ کې د ورونو پشان ژوند وکړي.

نوموړی دا فصل پدې خبره ختموي چې:

د نورو زیاتو امریکایي چیغو د اوچتولو څخه به تر هغه وخته پورې کومه ګټه لاس ته رانشي تر څو پورې چې زمونږ سره داسې د ویلو یو شی راپیدا نه شي کوم چې تر اوسه پورې د ویل شوو شیانو په پرتله ډیر زړه راښکونکی وي.

دداسې یو پیغام جوړول د هر چا څخه مخکې زمونږ د امت د روحاني مشرانو مسئولیت دی، که دوی ددې پیغام په لاسته راوړنو کې کامیاب شول نو بیا دوی کولی شي چې په سولییز ډول د ناوړه طریقو او د کمیونستي روسیې پلانونه په بشپړ ډول له مینځه یوسي.

ډیر نصیحت کوونکي او ښوونکي پدې خبره افسوس کوي چې ساینسي پوهې د انسان د ضرر رسونې توان زیات کړی ،ددوی دا خبره خو مونږ بشپړه نشو تائیدولی چې ګواکي پوهه په خپله یو داسې شی دی چې باید تېښته ترې وشي.

لوی مادي قوت فقط د ماده پرستۍ په زمانه کې خطر دی، د روحي غلبې په وخت کې خطر نه دی، پدغه ډول ساینسي پوهه نن خطر ګرځېدلي ده، ځکه چې دا پوهه په یو داسې وخت کې رامینځ ته شوې چې روحاني مشرتابه لدې څخه عاجزه دی چې د عمل او عقیدې تر مینځ اړیکې ښکاره کړي، ښه به داوي چې د ساینسي پوهې د مخ نیوي یا د شا ته غورځولو پر ځای روحي عبادت ته وده ورکړل شي.

جمهور رئیس ولسن (**Wlson**) د خپل مرګ څخه څو اونۍ مخکې یو مضمون لیکلی ؤ چې په هغې کې یې د انقلابي بنسټونو او کمیونستي کارونو ګواښونه بیان کړي وو، نوموړي خپل مضمون پدې خبره پای ته رسولی ؤ:

دا زمونږ د کلیساګانو، سیاسي ټولنو او سرمایه لرونکو او د هر هغه چا لپاره اخرنی ګواښ دی څوک چې د الله څخه وېرېږي او د خپل هېواد سره مینه لري.

د مستر دالاس (**Dulles**) چیغه هم د داکتر کاریل (**Karel**) د چیغې په څېر ده چې په آسانۍ باندې قبلېدلی نه شي، او نه د هغه ګواښ له املـه قبلېدونکې ده کوم چې نوموړي د کلیساګانو، سیاسي ټولنو، پانګه لرونکو او د الله څخه د هر وېرېدونکي او د هېواد سره د مینه لرونکي مخې ته اېښودی دی.

مسئله ددې څخه لا ډېره ژوره ده، ځکه چې د کلیسا سره هغه مسیحیت په لاس کې نشته کوم مسیحیت چې د انساني ژوند لپاره یو هر اړخیز بنسټ جوړ شي، لدې املـه چې مسیحیت په اول قدم کې پولس پاپال، په دوهم قدم کې قسطنطین او په دریم قدم کې کلیسایي غونډو او مذهبي مشرانو (پاپانو) فاسد کړی دی، خو مستر دالاس چې د کوم مسیحیت په اړه خبرې کوي هغه مسیحیت چې په اوسني شکل کې دی، پدې باندې هم مادي امریکایي تمدن د عمل کولو طاقت نه لري، ځکه چې دا تمدن د پیل راهیسې په یو سخت فردیت باندې ولاړ دی، چې تر ډېره لیري حده پورې یې نظام پانګوال، سودخور او احتکاري دی.

زما په ګومان مستر دالاس ددې چیغې په وخت کې د پاتې مسیحیت د تطبیقولو په اړه هم فکر ندی کړی، ځکه چې اوسنی مسیحیت هم په اول

قدم کې د هغه سودي نظام ختمول غواړي په کوم چې اوسنی تمدن ولاړ دی، هغه نظام چې د انسانیت ددی کړاوونو مسئول دی، د مادي تمدن خرابي د همدغه نظام له امله ده، او مسیحیت د هر اسماني دین په څېر دغه سودي نظام حرام ګڼي او سلیم فطرت ته هم بد ښکاري.

خو مستر دالاس کله د مسیحیت هغه شکل غواړي د کوم چې د اقتصادي نظام سره څه کار نه وي، فقط د کمیونستي حملې د دفع کولو په خاطر ترې د نورو سیاسي اهدافو لپاره کار واخیستل شي.

که مستر دالاس په ټول ژوند کې د مسیحیت د عملي کولو په مفکوره کې رښتینی هم وي نو د عملي ژوند او د مسیحي لارښوونو تر مینځ یوه داسې خالیګاه شته چې په هغې پورې وتل او یا په هغې پل جوړول اسان نه دي ځکه چې ددغې ځاه په کیندلو او ژورولو کې د پنځه سوه کالو ترخې جګړې برخه اخیستې ده.

نوموړی د کلیسا د خلکو او د روحاني مشرانو څخه هغه څه غواړي چې هغوی یې توان نه لري، نوموړی له دوی څخه په داسې حالت کې غوښتنه کوي چې د هغوی مخې ته د مسیحي دین د کلیسا د خلکو، د مذهب او مذهبیانو او د خلکو د ضمیر او عقلونو تر مینځ یو تریخ تاریخ پروت دی، یو داسې ناوړه بیلتون شته چې په هغې باندې د ژوند، فکر او شعور ټول اړخونه ولاړ دي او ددغه بیلتون بنسټ د هر دین سره دښمني کول دي.

زه وایم چې نوموړی دوی په یو داسې کار مکلف کوي چې هغوی یې نشي ترسره کولی، ځکه دی ددغه تریخ تاریخ په شتون کې له هغوی څخه غوښتنه کوي چې یوه داسې تګلاره جوړه کړي چې د ایمان او عمل، د فرد او ټولنې، د روح او مادې، د علمي پرمختګ او ددغه

پرمختګ لپاره د روحي ځارنې، تر مینځ اړیکې ټینګې کړي، او د ژوند د پرمختګ سره سره د ایماني روح غلبه هم د ټولنې لپاره وساتي، او یوه داسې تګلاره رامنځ ته کړي کومه چې د دین او په دین بانډې د عمل کولو تر مینځ فرق نه راولي، او دا خبره پرېږدي چې: ((د الحاد او ماده پرستۍ پرته ټولنیز عدالت ممکن نه دی، مادیت په هر څه مخکې دی، او غلامي او زور زیاتی د مادي لاسته راوړنو د ډېروالي وسیله ده او ددې ډېروالي لپاره باید په عقلي، روحي او اقتصادي ازادیو بانډې تیری وکړل شي)) یوه داسې تګلاره چې د ((دین)) په نوم د علمي پرمختګ لاره هم نه ډب کوي او نه د علم او پوهې د شا ته غورځولو څخه د دینداری لپاره وسیله جوړوي، یعنی په اخری شکل یوه داسې تګلاره جوړول په کار دي چې په هغې کې ((عبادت)) دومره پرمختګ وکړي چې ((عمل)) د هغې یو شکل وګرځي. دوی به دا تګلاره په دغه ناقص پاتې شوي فکر، تریخ تاریخ، په هغه خالي ګاه کې چې نه پرې څوک تیرېدی شي او نه پرې پل ابښودلی شي، څرنګه بیا مومي؟ حالانکه دا خالیګاه ددوی سره د موجود دین او د انساني ژوند د طبعیت په مینځ کې په عام ډول او د مادي تمدن په مینځ کې په خاص ډول شته.

ددې تګلارې جوړونکی قوم بل دی، او ددې تګلارې لرونکی دین بل دی، نه هغه چې دوی ورته دین وایي.

مستر دالاس (**Dulless**) غواړي چې ((دین)) د کمونیزم په مقابل کې د غربي ټولنو لپاره سپر وګرځوي خو ((دین)) د دوه مادي ټولنو په دې وړه جګړه کې هېڅ رول نه شي لوبولی، د دین لپاره چې کوم شکل اختیار شوی دی، پدې شکل دین هېڅ هم نشي کولی، ((دین)) د خلکو دفاع نشي کولی ځکه چې دی په ناوړه توګه د خلکو د ژوند څخه شړل شوی دی.

د الله د دین سره دا نه ښايي چې د خدمت ګارانو کالی واغوندي او د بادارانو مخې ته ولاړ وي او چيري يې چې هغوی لېږل وغواړي دی هم هلته ځي، که د خپل دربار څخه يې شړي نو دی بيا راځي او د هغی مخې ته ځمکه ښکلوي او د خادمانو په څېر د يوې اشارې لپاره د دروازې شا ته ولاړ وي، که بادار يې د خدمت لپاره راوغواړي نو راشي ځمکه ښکل کړي، بيا ټيټ ودرېږي او ووايي چې: بادراه! حاضر یم څه حکم دی. لکه څرنګه چې ځيني تش په نامه ديندارو خلک يې نن سبا کوي.

هېڅکله داسې نشي کيدی! د الله دين د بادرای او نګهبانی پرته په بل شي نه راضي کېږي، هغه غواړي چې قوي او د تصرف خاوند وي، غالب او عزتمند وي.حاکم وي نه محکوم، قيادت دده سره وي نه د بل چا په لاس کې، ((دين)) خلک د کمونيزم يا بل نظام نه تر هغه پورې نه ژغوري تر څو چې دهغوی ټول ژوند ددې ((دين)) تابع شوی نه وي، چې دا ((دين)) په کې په خپله خوښه تصرف کوي او د هغې ټول اړخونه برابروي او د خپل قانون سره يې سموي، کله چې خلک دين ته خپلې ټولې لويې او وړې مسئلې د حل لپاره يوسي او بيا د هغې په فيصله راضي او خوشحاله شي.

فَلاَ وَرَبِّكَ لاَ يُؤْمِنُونَ حَتَّىَ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لاَ يَجِدُواْ فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا [النساء: ٦٥]

ځکه چې الله فرمايي: ((ستا په رب مې دې قسم وي دا خلک تر هغه وخت پورې رښتيني مؤمنان کيدی نه شي تر څو چې دوی د خپلو اختلافاتو د حل لپاره تا فيصله کوونکی جوړ نه کړي او بيا (ستا د فيصلې له امله ) په خپلو زړونو کې خفګان بيا نه مومي او په پوره ډول (ستا فيصلې ته) غاړه کېږدي))

په دغه وخت کې بيا ((دين)) خپل کردار ترسره کولی شي، د تدبير

کوونکي سردار په ډول، نه د منونکي خادم په څېر.

او پــه دغــه وخــت کــې بــه د( ديــن او دنيــا تــر ميــنځ) دا نــاوړه بيلتــون د مينځـه لاړ شـي، هغـه بيلتـون چـې لـه املـه يـې دا ترخـه بـدبختي او دا غـټ خطر رامينځ ته شوی دی.

او پدغــه ورځ بــه هغــه ((خلاصــوونکی)) راشــي د کــوم لپــاره چــې دا چيغې وهل کيږي، د کوم لپاره چې ټول خلک انتظار کوي او هغه (نجات ورکوونکي)هم دغه دين (اسلام) دی.

# ژغورونکی

پدې او هغه ځای کې ډېرې چيغې د حيرانو زړونو او سترو ستونوڅخه پورته کېږي، دوی يو ((ژغورونکی)) غواړي، د هغې لپاره داسي نښې او ځانګړتياوې بيانوي چې هغه ددې (دين) پرته په بل (دين) کې نه موندل کېږي.

دا خبره ددې کتاب په اول او تېر شوي فصلونو کې په پوره تفصيل سره بيان شوه، د دکتور کاريل او مستر دالاس څرګندونو دا خبره نوره هم ښکاره کړه، خو ددې هر څه سره دغه دواړه ليکوالان هغه حقيقي (ژغورونکی) نه پيژني او يايي نه غواړي په کوم کې چې دغه ځانګړتياوې شته.

داکتر کاريل د (دين او تکنالوژۍ) پرته يوه داسي ټکلاره لټول غواړي په کومه کې چې (انسان د هر شي لپاره معيار) وي او انسان په خپل لاس جوړه شوې نړۍ کې نا اشنا نه وي او نه د هغې د ځانګړتياؤ او ارزښتونو څخه ناخبره وي.

داسي ټکلاره چې د ماشيني ژوند د تنظيم په وخت کې د کارګرانو په جسمي او عقلي حالت باندې د فابريکي اغېزې له پامه ونه غورځوي. او نه پر دې بنست ولاړه وي چې په لړ مصرف ډېره لاس ته راوړنه، تر څو چې يو فرد يا يوه مجموعه د خپل وس مطابق مال ترلاسه کړي.

هغه ټکلاره چې په داسي ټولنه کې نه وي رامينځ ته شوې (کومه

ټولنه چې زمونږ د ارزښتونو او حالاتو سره سر نه لګوي) او نه په (اخلاقي او عقلي ډول زمونږ د ناکامۍ) لامل کېږي. او نه زمونږ د احساساتي، جمالي او ديني فعاليت مخه نيسي، چې له امله يې د کمې مرتبې داسې خلک پيدا شي کوم چې د تنګو او ناسمو عقلونو خاوندان وي.

هغه تګلاره چې نه فرد له مينځه يوسي او نه ټولنيز ژوند ته د هغه اړتيا هيره کړي، مونږ لکه د ګډو بزو په شان په لويو کنډکونو کې روزنه، ژوند او کار کول نه غواړو.

داسې تګلاره چې د نر او ښځې شخصيت له مينځه نه وړي، ځکه چې د دواړو جنسونو تر مينځ توپير له مينځه وړل خطرناک کار دی.

هغه تګلاره چې د انسان ژوند د مارکس، لينن او فرويد د خيالاتو او د خلکو د شهوتونو، خواهشاتو، مفکورو او غوښتنو لپاره ښکار ونه ګرځوي داسې تګلاره چې د فطرت په قوانينو تيرى نه کوي، نه حرامې زمکې ته د ورتللو لپاره خلک تشويقوي او نه د انساني جوړښت لپاره د ژوند د حقيقتونو سره ټکر ولري.

په اخير کې يوه داسې تګلاره چې د مادي شکست څخه دهغه منفي روحانيت طرف ته د تيښتيدو لاره جوړه نکړي، د کومې سره چې اروپا د رهبانيت په وخت کې اشنا شوې وه او نه د((فرويد)) غولونکې سايکالوژۍ ته.

خو متاسفانه چې داکتر کاريل ددې ځانګړتياو لرونکې تګلاره په ((انسان پوهنه)) کې لټوي، نوموړى د ((انسان پوهنې)) لاس ته راوړل په داسې حال کې غواړي سره له دې چې دده د خبرو دا معلومېږي چې انسان د طبعي کمزورۍ له امله د ((انسان پوهنې)) څخه عاجز دی.

مستر دالاس (Dulles) څه غواړي؟

نوموړی يوه داسې تګلاره غواړي چې ((د روحي ژوند په وروسته کولو سره د مادي ژوند پرمختګ ته د لومړيتوب حق نه ورکوي، او کوم ايمان چې دافرادو سره تړاو لري هغه هم نه وروسته کوي.

- هغه تګلاره چې: (د ژوند د اړيکو سره د ايمان د اړيکو څخه سترګې نه پټوي).

- هغه تګلاره چې: ((په مطلق شخصي ګټو ولاړه نه وي، د کومې تګلارې سره چې امريکا اشنا ده ځکه چې مطلق انفراديت کله کله د بې وخته مرګ لامل کيږي)).

- هغه تګلاره چې: ((پداسې دول د ناکامۍ سره مخ نشي چې بيا پرې خفګان پکار وي، ځکه چې د الحاد او ماديت پرته هم ټولنيز عدالت رامينځ ته کيدای شي)).

- داسې تګلاره چې: ((د دين او په دين باندې د عمل کولو تر مينځ توپير نه راولي او نه د ايمان او عمل تر مينځ اړيکې پرېکوي، او نه دا ګومان کوي چې ايمان په اوسنيو حالاتو کې نه چليږي)).

- داسې تګلاره چې: ((د ماديت لومړی توب د مينځه يوسي او روحانيت دماديت تابع نه کړي. او دا نظريه هم د مينځه يوسي چې غلامي او ظلم ښه کار نه دی اګر که په ځينو حالاتو کې وي، او دا خيال هم ختم کړي چې ګواکې انسان فقط د لاس ته راوړنې يوه اله ده، او د روحي او عقلي آزادۍ په مقابل کې داقتصادي خوشحالۍ لاسته راوړل هم له مينځه يوسي)).

- هغه تګلاره چې: ((د هغې په رڼا کې په جوړه شوې ټولنه کې افراد د يو بل سره د وروری ژوند وکړي او د وروری اړيکو دوی د يو بل

سره یوځای کړي وي، هغه اړیکي چې ددوی ټولنه د حد نه د اوړېدونکي انفرادیت او د حد نه د اوړېدونکي اجتماعیت څخه وساتي. [١]

- داسې تګلاره چې په هغې کې: ((ایماني روح په ساینسي پوهه باندې مخکې وي او لدې امله د پوهې او علم د پرمختګ مخالفت نه کوي چې ګنې دا په خپله دین ته ضرر رسوي)).

په پایله کې نوموړی داسې تګلاره غواړي چې: د عقیدې او عمل تر مینځ اړیکي ښکاره کړي او عبادت ته دومره وده ورکړي چې ((عمل)) د عبادت یوه نښه جوړه شي.

خو متاسفانه چې مستر دالاس (**Dulles**) دا تګلاره د امریکایي کلیسا د مذهبي خلکو سره او د خپل هېواد د روحاني شخصیتونو سره لټوي سره له دې چې نوموړی د غربي کلیسا تاریخ هم ښه پېژني، او د کلیسا او ټولنې تر مینځ ((ناوړه بیلتون)) او د هغې ترخې ماتې هم پېژني.

خو پته دې پاتې نه وي چې نه ((انسان پېژندنه)) د داکتر کاریل چیغو

---

١- د حد څخه اوړېدونکی انفرادیت هغه بې بندوباره شخصي آزادي ده چې ټولنه د ګواښ سره مخ کوي او فرد په خپلو ټولو کارونو او کړو وړو کې آزاد وي لکه غربي دیموکراسي، دا قسم آزادي په ټولنه کې د فساد لامل کېږي، په دغه ډول د حد څخه اوړیدونکی اجتماعیت هغه ټولنیز نظام دی چې د فرد ټول شخصي حقوق له مینځه وړي او هغه د یوې مړې ډوډۍ لپاره نوکر کوي نور هېڅ حقوق او آزادي نه لري لکه په کمونیزم کې. (ژباړن)

ته ځواب ويلی شي او نه کليسا او روحاني لارښودونکي کولای شي چې دمستر دالاس غوښتنه پوره کړي، دوی چې د کوم ((خلاصی ورکوونکی)) ځانګړتياوې بيان کړي دي، هغه له دې دين پرته په بل شي کې نشته، او نه د اسلام پرته ددغو ځانګړتياو لرونکې تګلاره شته، د اسلام پرته ټولې انساني تګلارې مذهبونه او مفکورې ددغه صفاتو څخه بې برخې دي.

داکتر کاريل سره له دې چې يو روڼ اندی او د ډيرې پوهې خاوند دی خو هغه اسلام د ((خلاصوونکي)) په توګه نه مني ځکه چې دی د هر څه سره يو سپين پوستی دی او هغه ټول عزت دسپين پوستو لپاره غواړي، او هغه خپل کتاب فقط د سپين پوستو د ساتلو لپاره ليکلی دی، او يوازي سپين پوستي د هلاکت او تباهۍ څه ژغورل غواړي او دا چې اسلام د سپين پوستي له خوا جوړ شوی نه دی نو ځکه خو ورته دغه لوی پوهان نه مخه کوي.

مستر ((ډالاس)) هم اسلام د ((خلاصي ورکوونکي)) په توګه نه پيژني، ځکه که يو طرف ته هغه سپين پوستي دي نو بل طرف ته ددې دين په اړه د هغه يو خاص حالت دی، ځکه نومړي د هر نړيوال سياست دان څخه زيات په اوسني وخت کې د اسلام پر ضد جګړه کې برخه اخيستې ده، د نړی په ګوټ ګوټ کې يې د اسلام خلاف وسايل ځای پر ځای کړي دي او کوښښ يې کړی دی چې د اسلام پر ځای د انسان جوړه شوې مفکوره ومنل شي.

خو يوازې هم دا ((دين)) دی چې دغه چيغو ته ځواب ويلی شي او دغه ځانګړتياوې په پوره ډول د ځان سره لري، او دا هغه صفت لري کوم چې د انسان د علاج لپاره ضروري دی.

اسلام د ژوند هغه نوې تګلاره ده چې اروپا او نړۍ د ناوړه بیلتون په وخت کې او د هغې ځخه وروسته او مخکې داسې تګلاره نه ده پېژندلې، دا یوه اصلي خپلواکه او پوره هر اړخیزه تګلاره ده اسلام یوازې د کړیدلي ژوند او د هغې د اوسني حالت د بدلون لپاره نه ده، بلکې دا د فکر او عقیدې تګلاره ده، لکه څرنګه چې د عمل او واقعیتونو تګلاره ده، نو له دې امله یوازې اسلام د انساني ژوند په نوي بنسټ د جوړېدو په واسطه د ستونزو مخه نیولی شي.

انساني ټولنې خپله لاره د هغې ورځې څخه نه ده خطا کړې د کومې ورځې څخه یې چې د جماداتو علم ته مخه او د انسان پېژندنې ودې ته شا کړې ده، او نه د هغې ورځې څخه چې الاتو په انساني ژوند برلاسی حاصل کړی دی، چې د هغې له امله انساني ژوندد طبیعت څخه مخالف شوی دی، او نه د هغه ورځې څخه د کومې څخه چې سیاسي، ټولنیز او اقتصادي نظامونه د ګټه پورته کوونکو په لاس کې پرېوتي چې د انساني ګټو په خلاف یې استعمالوي او د هغوی د اړتیاؤ لپاره ترې ګټه نه پورته کوي، لکه داکتر کاریل چې ورته اشاره کړې ده.

داسې نه ده ځکه چې دا د لار ورکې په تاریخ کې ډېره وروسته مرحله ده. ټولنې په هغه ورځ خپله لاره ورکه کړې ده په کومه ورځ چې دغه ناوړه حالاتو کوم چې د پاڅون، پوهې او جوړښت د زماني حرکت سره ملګری ؤ، ټولنه د الله د تګلارې څخه جدا کړه، نه یوازې د کلیسا د مفکورې څخه، او د ټولنې په ژوند کې یې د الهي عقیدوي مفکورې او د ټولنیز ژوند د نظام تر مینځ ناوړه بیلتون رامینځته کړ.

ددې ستر بیلتون څخه وروسته د ژوندانه د علومو او د انساني علومو تر مینځ پیوند لګول هېڅ ګټه نه لري، ځکه چې خلک خپل ژوند دپوهې د

لارې نه بدلوي او نه يې رهبري کوي، بلکې دوی د عقيدې د لارې خپل ژوند رهبري کوي او په هغه کې بدلون راولي او انسان همدغه انسان دی.

کله چې داکتر کاريل دا خبره وکړه چې: بايد د جوړښت تمدن بدل او پر ځای يې د انساني پرمختګ لپاره بله مفکوره رامينځ ته شي، نو ما فکر کوو چې نوموړی به د خپلې پوهې د اوسپنيز قفس څخه د راوتلو لپاره يو ستر ټوپ ووهي، خو هغه دا کار ونه کړی شو او هغه شان په قفس کې دننه پاتې شو او د هغه خطر په اړه چيغې وهي کوم چې د هلاکت کندې ته تلونکی انسان د ګواښ سره مخامخ کړی دی.

د ګواښ سره مخ انساني ژوند يو غټ ټوپ (خيز) ته اړتيا لري، انساني ژوند هغه فطرت طرف ته ستنيدو ته اړتيا لري په کوم چې انسان الله پيدا کړی دی، او دغه کار په هغه مفکورو، بنسټونو او وسيلو نه کېږي کوم چې د هغه فکري تمدن څخه سرچينه اخلي په کوم کې چې دغه خطر پټ د ی، هغه تمدن چې د هغې بنسټ د فطرت سره په دښمنۍ باندې ولاړ دی.

لدې امله ددې کار لپاره په حقيقي ډول يوه پوره او نوې مفکوره په کار ده چې په ژوند کې بنسټيز بدلون راولي او خپل اصلي فطرت ته يې وګرځوي او انساني ژوند په يو داسې بنسټ ودروي کوم چې د انسان د پوره تکويني طبعيت سره په حقيقي ډول سمون خوري، نه چې د هغه رنګينو دوربينو په وسيله ښکاري کوم چې ددغه مخالف تمدن په فابريکو کې جوړ شوی دی.

د انساني موجود په اړه زمونږ لږه پوهه يا ناپوهي مونږ ته دا اجازه نه راکوي چې مونږ دې ددغه موجود د ژوند په اړه څه تصميم ونيسو.

که د یوې ورې مادي آلې په هکله زمونږ دعلم یا بې علمۍ دا حال وي نو دهغې ځښتن مونږ ته د هغې د سمون او جوړښت اجازه نه راکوي، خو مونږ ددغې کم علمۍ یا بې علمۍ سره د انسان لپاره د نظام د جوړولو هڅه کوو، سره لدې چې انسان په ځمکه باندې تر ټولو قیمتي شی دی، او مونږ سره ددې هېڅ فکر نشته چې زمونږ په لاس د جوړ شوي نظام له امله انسان ته څومره تاوان رسیږي.

مونږ په دې دوکه شوي یو چې انساني عقل د مادې په نړۍ کې عجیبه او نا آشنا شیان جوړوي، نو مونږ دا ګمان کوو چې کوم عقل چې جهازونه او توغندی جوړولی شي، ذره ټوټې کوي او د هغې څخه اتوم جوړولی شي، د طبعیت قوانین یې پېژندلی او په دغه لاس ته راوړنې کې ورڅخه کار اخلي، نو په کار ده چې دغه عقل ته مونږ د انساني ژوند لپاره د نظام جوړوني کار هم وسپارو، د فکر، عقیدې، اخلاقو او ژوند تېروني بنسټ جوړونه هم د هغه په لاس کې ورکړو، خو دا هیروو چې د مادې په نړۍ کې کار کول هغه څه دي چې دغه عقل یې پېژندلی شي او د هغې په اړه پوهه لري، خو په ((انساني نړۍ)) کې کار کول په یوه داسې پراخه صحرا کې کار کول دي چې دغه عقل د هغې د پټ او حیرانونکي حقیقت څخه ناخبره دي.

عجیبه خو داده چې ددغه حقیقت فیصله هغه نړیوال لوی عالم کړې ده کوم چې دغه حقیقت په ((انسان پوهنه)) کې لټوي.

ددې لوی وهم په مقابل کې یو بل لوی وهم هم شته! او هغه دا چې: ځینې خلک دا ګمان کوي چې په ژوند باندې د ایماني تګلارې د برلاسۍ معنی داده چې دهغې څخه دې مادي علوم او د هغې په نتیجه کې تمدني

پرمختګ له مينځه يوړل شي.

خو دا يو ساده بلکې خندونکی ګمان دی، متاسفانه چې د تاريخ په اوږدو کې په لويديځ او د هغې په تمدني تاريخ کې دې ګمان ځای نيولی دي، تر دې پورې چې مستر دالاس (Dulles) په دې اړه په خپل کتاب ((جګړه او سوله)) کې د يو ځانګړي فصل ((زمونږ روحي اړتياوې)) ليکلو ته اړ شو چې مونږ په تېر فصل کې د هغه چيغې او ګواښونه بيان کړل.

خو په سمه الهي تګلاره کې بيا خبره داسي نده، ځکه چې په دغه تګلاره کې ((دين)) د ساينس او تمدن نه ځای ناستی دی او نه دښمن. بلکې ((دين)) د ساينس او تمدن د ودې ساحه ده، د هغې محور دی، ((دين)) د ساينس او تمدن لپاره د هغي ساحی  او محورپه حدودو کي يوه تګلاره ده کومه ساحه او محور چې د ژوند ټول کارونه رهبري کوي.

اسلام په خپله باندې بشري عقل ته په مادي موجوداتو، د هغې په قوانينو، قوتونو او پټو خزانو کې د څېړنې کولو لپاره د هر اړخيزې ازادۍ اعلان کوي، اسلام بشري عقل ته اجازه ورکړې ده، تر څو په دغه پراخه نړۍ کې کار وکړي، نوې لاسته راوړنې وکړي، ځکه انسان په نړۍ کې د خپل رب خليفه دی.

دا يو د هغه حقيقتونو څخه دی چې اسلامي فکر يې د مخلوق او د خالق تر مينځ د اړيکو په هکله لري او په موجوداتو کې د انسان مرتبه او د هغه د ځانګړتياؤ حدود معلوموي. [1]

---

١- د تفصيل لپاره دې وکتل شي ((د اسلامي فکر ځانګړتياوې او بنسټونه)).

لـه دې املـه د اسـلام د سـیوري لانـدې د خپلـو نـوو لاسته راوړل شـوو ارزښتونو سره یو پوره تمدن وده وکړه چې د هغه وخت موجودو وسایلو او اسبابو ورتـه لاره برابـره کړې وه، او وسـایل او اسباب د همېشـه لپاره د ودې کولو توان لري.

اسـلام د تمـدني پرمختـګ ښخـه دفـاع کـوي، د هغـې قیـادت کـوي، خـو اسلام د همېشه لپاره تمدني پرمختګ په خپله ساحه کې ساتي تر څو چې د انسان د طبعیت او د هغه د قیمتي ځانګړتیاؤ سره ټکر ونـه کړي، او نـه یې کمزوری او لـه منځـه یوسـي، لکـه څرنګـه چـې داکتـر کاریل (**Karel**) د اوسني تمدن په هکله کومه فیصله کړې ده.

دا خو اسلام دی چې د تجربې کولو بنسټ یـې کېښـود او بیـا د انـدلس د پوهنتونونـو لـه لارې دغـه تګـلاره اروپـا تـه نقل شـوه او پـه دغـه تګـلاره بانـدې ((روجـر بیکـون **Roger bacon**)) او ((فرنسـیس بیکـون **Francis bacon**)) خپلـه تګـلاره جـوړه کـړې ده. چـې اروپایـان پـه دروا‌غجـن ډول دغـه دواړو تـه د ((تجریبـاتي تګـلارې پـلاران)) وایـي، حالانکه په خپله باندې دوه غربـي لیکوالانـو ((بریفولـت)) او ((دوهرنج)) دا خبـره ښـکاره کـړې ده چـې د ((تجریبـاتي تګـلارې)) بنسـټ اسـلام ایښودی دی.

اسلام د انساني ژوند اساسي تصمیم نیونه، هر اړخیزې او پوره پوهې ته سپارې، چې د ناپوهی، نقصان او خواهشاتو ښخه پاک دی، اسـلام دغـه کار د الله تعالی علم تـه سپارې، ځکـه چـې الله ددې دنیا او پدې کـې د شته موجوداتو پیدا کـوونکی دی، د کاینـاتو ټـول قـوانین او طـاقتونـه هغـه پیدا کړي دي، هغـه انسان پیدا کړی دی، او بیا یـې انسـان تـه ددې کاینـاتو پـه مـاده کـې د کـار کولـو قـوت ورکـړی دی، یـوازې همدغـه الله د بشـري

جوړښت او د کايناتو د طبيعت ټول حقيقتونه پېژني، نو لدې امله يوازې الله تعالى ددې توان لري چې د انسان لپاره د ژوند يو داسې نظام جوړ کړي چې هغه دده د فردي او ټولنيز ژوند، او په دنيا کې د ژوند تېرولو لپاره لاربښووني ولري، دا نظام الله تعالى د خپل پراخه علم په واسطه سره جوړوي چې په مقابل کې يې د انسانانو بې ساري ناپوهي ده.

خو ددې هر څه سره اسلام د انسان عقل د مينځه نه دى وړي، لکه کليسا چې د مينځه وړي دي، ځکه چې عقل هغه لويه آله ده چې الله تعالى انسان ته ددې لپاره ورکړې ده چې په نوو لاس ته راوړنو کې ترې کار واخلي، نه دا چې هغه بند يا يې له مينځه يوسي، خو فقط دومره ده چې الله تعالى عقل د خواهشاتو، هلاکت، حيرانتيا، ذلت او تباهۍ څخه په يوه ساتونکې پرده کې ساتي، او د هغې لپاره يوه داسې تګلاره جوړوي چې هغه د کږېدو په وخت کې سموي، او د ګمراهۍ په وخت کې ورته لاره ښايي، او په برابر ډول دهغه د آزادۍ او سمون ساتنه کوي.

پدې تګلاره باندې په تللو سره انسان د مادې بادار ګرځي، هغه تګلاره چې دده لپاره د انسان او مادې رب جوړه کړې ده، د ا تګلاره انسان ته دا تصور ورکوي چې دى د الله په وړاندې د عزت او کرامت خاوند دى او دى يوازې د الله بنده دى، اوپه نړۍ کې د هغه خليفه او نايب دى.

د تېرو خبرو څخه دا ښکاره شوه چې يوازې اسلام هغه تګلاره ده د کومې لپاره چې مسټر دالاس (Dulles) چيغې وهي، خو متاسفانه چې نوموړى دې تګلارې ته نه مخه کوي، اسلام کولى شي چې انسان د مادي تمدن د ظلم څخه خلاص کړي او هم يې د کمونيزم د دام څخه وساتي، خو يوازې مونږ د اسلامي تګلارې خاوندان کولى شو چې دغه حقيقت

قبول کړو.

نن ورځ چې کوم مادي تمدن انسان په خپله ولکه کې اخستی، هغه د انسان ټول مهم شیان د مینځه وړي دي، او د انسانیت د لوړو ارزښتونو سره یې جنګ پیل کړی دی، خو هم په دغه وخت کې یې انسان ته ډېرې زړه راښکونکې اسانتیاوې برابرې کړي دي، اګر چې دغه اسانتیاوې د انسان مادي جوړښت ته ضرر رسونکی دی، لکه څرنګه چې دا خبره داکتر کاریل په خپل کتاب کې ښه واره کړې ده.

اسلام د خپل طبیعي تصور له امله چې د نړۍ د حقیقت او په دې کې د انسان د کار په اړه یې لري هیڅکله هم نه غواړي چې فابریکې دې ورانې شي، او نه هغه اسانتیاوې له مینځه وړل غواړي کومې چې د غه لاسته راوړنو انسان ته برابرې کړي دي.

خو اسلام د دغه مادي تمدن او د هغې د ارزښت په اړه د فکر او نظر بدلول غواړي، تر څو دغه تمدن ته د کمې زیاتې پرته خپل صحیح قدر او قیمت ورکړل شي، ددې لپاره چې باور کوونکی انساني روح په دغه تمدن برلاسی شي، نه دا چې هغه دې په انساني روح، فکر، خیالاتو، حالاتو او ټولنو باندې واکمني وکړي.

اسلام په انسان کې د هغه اوچت قیمت او د عزت څخه ډک ارزښتونه ځای پر ځای کوي او انساني روح د هغه ذلت او سپکاوي څخه ژغوري د کوم سره چې انسان د ((داروین **Darwin** ))، ((کارل مارکس **Karl mavx**)) او ددوی په شان د نورو خلکو د نظریاتو له امله مخامخ شوی دي، پدغه وخت کې به انسان یوه شي چې پکار ده په آله، ماده او تمدن باندې دې بادراي وکړي.

کله چې انسان د روح واکمن شي نو دی به د خپلې عقیدې په چوکاټ

کـې د آزادئ خونـد وڅکـي او د خپـل اختيـار خاونـد بـه شـي، پـه اوسـنيو حالاتو کې خو اختيار هغه مهم شی دی چې انسان لـه لاسه ورکړی دی، او دی د آلې په ورانديې، کمزوری، مجبوره او ذليل دی.

د واک او اختيـار د لاس تـه راوړلـو وروسـته مـومن انسـاني روح کولی شي چې د تمدنونو څخه ضرر رسونکي شيان لري کړي، او هغه فايده رسونکو شيانو ته وده ورکړي کوم چې د انسان د بدني جوړښت د حقيقت سره برابر وي، لکه څرنګه چې د انساني روح آزادي انسان تـه دا فرصت ورکوي تر څو د خپل کرامت څخه د مخالفو شيانو څخه ځان آزاد کړي.

د لاس تـه ر اوړنـې د طريقو او د هغـه کـاري تولنـو څخـه ورتـه نجـات ورکړي پـه کـوم کـې چې انسان خپل د عزت څخه ډک ارزښتونه د لاسـه ورکوي، ځکه چې د لاس ته راوړنـو طريقو او کـاري تولنو تـه خـو تقدس حاصـل نـه دی، دا خـو فقـط د مـادي لاسـته راوړنـو د انـدازه کولـو هغـه ګټندويه وسيلې دي، چې د انسانی ارزښتونو پـه مقابل کـې منځ تـه راغلـي دي.

کله چې دا فيصله وشي چې انسان د ټولو شيانو څخـه زيات عزت مند او قيمتي دی نو د لاسته راوړنې طريقې او کـاري تنظيمونـه بـه پدې شـکل بدل شـي چې د لاسته راوړنـې د زيـاتوالي او د انسـاني عزت د ارزښتونو تر مينځ به يووالی راشي.

کلـه چـې د ژونـد لپـاره د اسـلامي تګـلارې څخـه اخسـتل شـوې نـوې مفکورې او ارزښتونه رامينځ ته شي، او د هغې له امله انساني روح ته په تمدن د هغې پـه وسـايلو او طريقو بانـدې واکمنـی پـه برخـه شـي، او ددغـه واکمنئ له امله د خپلواکئ طاقت ترلاسـه کړي، نـو پـه دغـه وخت کـې بـه

((انسان پوهنه)) هم خپل حقیقي قیمت او ارزښت پیدا کړي، او هم به د مسټر ((دالاس)) د هغې چیغې ځواب ورکول ممکن شي، کومه چې هغه د یو ځانګړي تګلارې لپاره وهلې ده، او نوموړی یې خپلې مخې ته نه بیاموي او نه هغه د کلیسا او روحاني لاربښودانو په واک کې ده.

له نیکه مرغه انساني فطرت لکه څرنګه چې الله تعالی پیدا کړی دی، په خپله د موجوداتو د فطرت سره سمون خوري، او د موجوداتو فطرت په حرکت، جوړښت، ودې او پرمختګ کې د انساني فطرت په شان دی، له دې امله ډېر تمدنونه د فطرت حقیقي پرمختلونکو اړتیاؤ ته جواب وایي او تر هغه ورسره ټکر نه کوي تر څو چې د انسان د جوړښت سره په ټکر کې شوی نه وي او باید دغه د ټکر لاملونه له مینځه یوړل شي، او ددغه کار مسئولیت د ژوند لپاره د الله تعالی تګلارې په غاړه اخستی دی چې هغه دا ((دین)) اسلام دی چې په هغه ډول هغه خلاصی ورکوونکی دی کوم چې لویدیځ ترې د غوښتلو سره انکار کوي.

# د اسلام ځلانده راتلونکی

کله چې دا ثابته شوه چې یوازې اسلام کولی شي چې انسانیت د هغه تباه کوونکو خطرونو څخه وژغوري کوم چې د مادي تمدن په ځلېدونکو ځنځیرونو کې تړل شوی، د انسانیت طرف ته راروان دی او همدا اسلام انسانیت ته هغه تګلاره ورکولی شي کومه چې دده د فطرت او حقیقي اړتیاؤ سره سمون خوري او هم یوازې اسلام کولی شي چې په مادي

جوړونه او د روح په خارنه کې دده قدمونه برابر کړي، او يوازې اسلام کولی شي چې د انسانيت لپاره د ژوند واقعي داسې نظام جوړ کړي چې دا برابربښت په هغه کې په داسې ډول موجود وي چې انسان د اسلامي نظام د سيوري پرته په بل څه کې نه دی پيژندلی.

کله چې دا خبره ثابته شوه نو ددې سره د هغه جرم ناوړتيا هم ښکاره شوه کوم چې د ټول انسانيت په حق کې يې هغه خلک ترسره کوي څوک چې په هر ځای کې د اسلامي حرکتونو دمخکښانو په خلاف وحشيانه ګوزارونه کوي، چې په لمړي سرکې يې هغه مستر دالاس هم وو څوک چې ددغه شان يوې تګلارې لپاره چيغې وهې.

دغه خلک د اسلامي تګلارې د نښو د له مينځه وړلو لپاره خپل ټول قوت په کار اچوي، دغه تګلاره د هغه انسانيت د سترګو څخه پټوي چې د يو خلاصوونکي په انتظار دې، او دوی په دوکه، چل او درواغو باندې انسانيت ددغه تګلارې څخه کرکجن کوي.

دا کار د ټول انسانيت په حق کې يو ناوړه جرم دی، هغه مظلوم انسان چې د هغه تمدن له امله ذليل کړی شوی دی، کوم چې دده د فطرت او حقيقي اړتياؤ سره ټکر لري، انسانيت د مادي فلسفې د ګواښ لاندې دی، او د غولونکي مادي تمدن په ځنځيرونو کې تړل شوی د تباهی طرف ته روان دی، او وخت په وخت يوې ويرونکي کندې ته نږدې کيږي. چې د هغې څخه خلاصی ددې ((دين)) پرته نشته، خو د انسانيت دښمنان ددې دين سره د ځمکې پر مخ په هر ځای کې په جنګ دي او په دې جنګ کې بېلابېل، پلانونه، دسيسې او طريقې په کار وي.

د اسلام پر ضد دغه روانه جګړه په دې خبره زمونږ اعتماد د مينځه نشي وړلی چې ((راتلونکی دور د اسلام د واکمنی دور دی)).

اسلام په خپل اوږد ژوند کې ددې څخه هم د سختو حالا تو مخې ته کلک ودرېدلی او مقابله يې کړې ده، سره لدې چې د اسلام سره د خپل ذاتي قوت پرته بل هيڅ قوت هم نه ؤ، خو بيا يې هم کاميابي لاسته راوړې او په نړۍ کې يې خپل ځان ساتلی دی، او هغه دلې او هېوادونه يې هم ساتلي د کوم ساتنه چې اسلام ته ورپه غاړه وه، په داسې حال کې چې هغوی هم د وسلو څخه خالي وو.

اسلام هغه قوت دی چې په ختيځ کې يې اسلامي وطن د تاتاريانو او صليبيانو د بريدونو څخه وژغورلو، که چيري صليبيان په ختيځ کې داسې بريالي شوي وی لکه څرنګه چې پخوا په اندلس کې بريالي شوی وو يا يهوديان چي اوس وخت کې په فلسطين کې بريالي شوي دی نو نه به عربي قوم پاتې وی نه عربي جنس او نه عربي هېوادونه. پخواني اندلس او اوسنی فلسطين دواړه ددې ګواه دي چې کله هم اسلام د يوې ځمکې څخه وشړل شي نو هلته د اصلي جرړې د ويستل کېدو وروسته نه ژبه روغه پاتې کېږي او نه قوم.

چا چې دا خاوره د تاتاريانو څخه ساتلې هغوی عرب نه بلکې په خپله د تاتاريانو له جنسه وو خو دوی د اسلام د ساتنې په خاطر د خپل قوم مخې ته کلک ودرېدل ځکه چې هغوی مسلمانان وو، او د خپلې عقيدې پر بسنټ يې د يو اسلامي روحاني لارښود ((امام ابن تيميه رحمه الله)) تر مشرۍ لاندې د اسلام څخه دفاع وکړه، او امام په خپله په اولنو ليکو کې د دښمن په مقابل کې جنګېدو.

صلاح الدين ايوبي په دې ځمکه کې عرب، عربي قوم او عربي ژبه د له مينځه وړلو څخه وساتله په داسې حال کې چې هغه په قوم کردی ؤ نه عربي خو د صليبيانو د حملو څخه يې د اسلام په ساتلو په دې ځمکه کې عربيت او عربي ژبه وژغورله، د صلاح الدين په عقيده کې يوازې

اسلام هغه شی ؤ چې د صليبيانو مقابله يې کوله، لکه څرنګه چې همدغه اسلام د الظاهر بيبرس، المظفر قطز، او د الملک الناصر په عقيده کې هغه وسيله وه چې د ظالمو تاتاريانو مخه يې نيولې وه.

همدې اسلام په الجزائر کې يو نيم سل کاله مقابله وکړه، او په دغه هېواد کې يې د عرب قوم ساتنه وکړه، سره لدې چې د عربي قوم بنسټونه، ژبه او فرهنګ له منځه وړل شوی ؤ، او اشغال ګرې فرانسې په الجزائر کې د عربۍ ژبې پر زده کړه بنديز لګولی ؤ، خو همدغه اسلام ؤ چې په عقيدو کې پاتې ؤ، او د اشغال ګرو سره جنګېدو، او پر هغوی يې برلاسی حاصل کړی ؤ او هيڅکله يې هم هغوی ته سر نه ؤ ټيټ کړی ځکه چې هغوی د اسلام دښمنان صليبيان وو يوازې د اسلام له امله په الجزائر کې د مقاومت او دفاع روحيه ژندوی وه، تر دې چې له نوې سره دغه روحيه د امام عبدالحميد بن باديس رحمه الله په مشرۍ اسلامي حرکت تازه کړه او له سره يې شغلې روښانه شوې، دا هغه حقيقت دی چې بې پروا او ګمراه کوونکي خلک يې له منځه وړل غواړي، خو صليبي اشغال ګر دا حقيقت ډېر ښه پېژني.

اشغال ګر پوهېږي او يقين لري چې اسلام په خپلو دښمنانو باندې د خپل روحي اوچتوالي له امله کولی شي چې په الجزائر (او ټولو اسلامي اشغال شوو هېوادونو) کې ددوی لاره ونيسي، نو له همدې امله ئې د يو خاص قوم پر ځای د مسلمانانو په خلاف جګړه پيل کړې ده.

اسلام د برتانوي اشغال په خلاف د لوی مهدي د انقلاب په شکل کې په سوډان کې راپاڅېد، چې د مصر په شمالي او د سوډان په جنوبي برخه کې د اشغال پر ضد انقلاب ؤ، او د دغه انقلاب په اصلي راپاڅونکي باندې د مهدي اعلانونه او د ((کتشنر **Kl-nr**))، ((کرومر**Cromer**)) او توفيق)) په نوم د ((عثمان دقنه)) خطونه ښه

ګواهي ورکوونکي دي.

په دغه ډول اسلام په ((برقه)) او طرابلس)) کې د ايټالوي اشغال مقابله وکړه او د ((سنوسيه)) په خواوشا ځنډو کې يې د مقاومت تخم ته وده ورکړه چې په نتيجه کې يې د زړور زمری عمر مختار جهاد ورڅخه سرچينه واخسته.

د ((مراکش)) اولني پاڅون د اسلامي روح څخه سرچينه اخستې وه او هغه ((ظهير بربري)) چې په ۱۹۳۱ کال کې فرانسويانو د هغه د دوکه کولو هڅه کړې وه تر څو د هغه په واسطه د ((بربر)) قبيلې بت پرستۍ ته واړوي او د اسلامي شريعت څخه يې جدا کړي، نو همدغه ظهير د فرانسويانو په خلاف د بربريانو د مقاومت لپاره يوه سپرغۍ وګرځېده، چې د مقاومت اور يې بل کړ.

اسلام خالي لاس د ځان څخه دفاع کړې ده، ځکه چې طاقت دده په طبيعت کې پټ پروت دی، قوت د اسلام په اسانتيا، ښکاره والي او هر اړخيز توب کې پټ دی، اسلام د بشري فطرت سره برابر دی او د بشر حقيقي اړتيا وې پوره کولی شي، يوازې د الله په بندګۍ کولو سره د مخلوق د بندګۍ څخه اوچتوالی لري، يوازې د الله څخه اوامر ترلاسه کوي، او د مخلوقاتو پر ځای الله ته عاجزي کوي، خپل اهل د راپيښېدونکو حالاتو څخه اوچت ساتي لکه د اشغال ګرو د واکمنۍ لاندې د راتللو څخه، ځکه دغه واکمني که هر څومره سخته هم شي خو بيا هم په عقيده او ضمير کې ځای نشي نيولی، او تر څو چې زړه او ضمير په اسلام باندی آباد وي نو تر هغې پورې د روحي شکست سره نه مخامخ کېږي اګر که کله کله د ظاهري او عارضي شکست سره مخامخ شي.

ددې ځانګړتياؤ له امله د اسلام دښمنانو د اسلام په ضد دغه ناوړه

جګړه پیل کړې ده، ځکه چې اسلام ددوی مخې ته ودرېږي، دوی د خپلو استعماري اهدافو د لاسته راوړلو څخه منع کوي، لکه څرنګه یې چې په ځمکه کې د سرکشۍ او خدایۍ کولو څخه منع کوي.

لدې امله یې د اسلام د له منځه وړلو لپاره برید شروع کړی دی، لکه څرنګه چې یې د اسلام د بدرنګه کولو، دوکه او ګمراه کولو لپارهلی ځلی پیل کړي دي.

دوی غواړي چې د اسلام پر ځای نور ارزښتونه او مفکورې رامینځ ته کړي چې ددې سخت مقابله کوونکي سره یې هېڅ اړیکې نه وې، تر څو نړیوال صیهونیت او نړیوال صلیبیت د آرام ساه واخلي، او نړیوال استعمار ددې ستر مقابله کوونکي څخه په امان شي.

د اسلام خپلې ځانګړتیاوې هم ددې لامل شوي دي چې د اسلامي نړۍ په مینځ کې پرې طمعه کوونکو دښمنانو دایره راتنګه کړې ده، دا د رواني جګړې حقیقت او اصلي باعث دی.

خو ددې هر څه سره بې له شکه راتلونکی دور د اسلام د واکمنۍ دور دی.

د هغې تګلارې له امله چې دې ((دین)) جوړه کړې ده، او د انسانیت د هغه اړتیا له امله چې دغه تګلارې ته یې لرې مونږ دا یقین لرو چې راتلونکی دور د اسلام د واکمنۍ دور دی، او اسلام به په نړۍ کې هغه رول لوبوي د کوم لپاره چې رااستول شوی دی، د اسلام دښمنان یې غواړي او که نه.

بله عقیده او تګلاره دغه رول نشي لوبولی او نه بشریت ددې تګلارې څخه تر ډېرې مودې پورې بې پروا پاتې کېدی شي.

ددې حقیقت نور بیان ته اړتیا نشته، البته د لته د اسلامي تاریخ څخه د عبرت لپاره یوه واقعه لیکو، کیدی شي چې ددې ځای سره ډېره مناسبه

وي.:

سراقة بن مالک τپه رسول الله εاو دهغه په ملګري ابوبکر τپسې په داسې حالت کې منډې وهلې چې هغوی د قریشو څخه پټ د مدینې په طرف هجرت کولو، کله چې سراقه د هغو دواړو د رانیولو کوښښ کولو تر څو د قریشو له خوا علان شوی انعام لاس ته راوړي نو د هغه اس راپرېوت، نوموړي د بېرته ګرځېدو اراده وکړه او د رسول الله εسره یې وعده وکړه چې چا ته به ستاسو په اړه خبر نه ورکوم. په دغه خطرناک اودویری څخه په ډک وخت کې رسول الله εسراقة ته وویل: ((په هغه وخت کې به ته څومره خوښ یې چې د کسری باؤګان (بنګړي) به ستاپه لاس وي)).

رسول الله εهغه ته د فارس د واکمن کسری د باؤګانو وعده ورکړه.

یوازې الله پوهېږي چې پدغه وخت کې به ددې عجیبه وړاندوینې په هکله د سراقه په زړه کې څه تېر شوي وي، ځکه چې دغه وړاندیز د هغه په هجرت مجبور شوي کس لخوا وشو چې د خپل یو بې وسه ملګري پرته ورسره نور څوک نه ؤ، او دواړو په پټه هجرت کولو.

خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه حق تر ښنګ چې دده سره ؤ هغه باطل هم پېژندو چې په دغه وخت کې پرې ټوله جاهلي ټولنه ولاړه وه او پدې یې باور ؤ چې خامخا به دا حق په دغه باطل بریالی کېږي او امکان نه لري چې پدې شکل موجود حق دې پدغه شکل موجود باطل غالب نه شي.

پدغه وخت کې باطل د هغه زړې ونې په څېر وو چې جرړې یې ورستې شوې وې چې اوبه او سره ورته نه رسېږي او دې حالت ته رسېدلی وی چې له بیخه ووځي، او ددې په مقابل کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې هغه نوي نیالګي وو چې کینولو ته تیار وو او

د دغه نیالګي په زرغونېدو یې پوره باور ؤ.

نن ورځ مونږ د ټولو حالاتو سره په همدغه ځای کې ولاړ یو، چې ټولې نښې نښانې هم هغه شان دي، او زمونږ چاپېره ټول جاهلیت دی، نو د همغه رنګ پایلو په واقع کېدو کې مونږ ته شک کول جایز نه دي، ځکه زمونږ چاپېره هر شی هم دغه پایلو ته اشاره کوي، سره لدې چې دوکه ورکوونکي شیان هم شتون لري.

اسلامي تګلارې ته نن ورځ د بشریت اړتیا د هغې ورځې څخه کمه نده، او نه د هغې ورځې په اندازه د نورو تګلارو په مقابل کې ددې تګلارې وزن کم دی، لدې امله پدې خبره کې هېڅ شک په کار نه دي چې کومې پایلې په داسې حالاتو کې یو ځل واقع شوی وي هغه دې یو وار بیا واقع نه شي.

نن ورځ چې د اسلامي پاڅون د مخ کښانو په ضد کوم ناوړه عملیات ترسره کېږي، یا د مادي تمدن د بنسټونو کوم غټوالی چې مونږ وینو دادی هم مونږ په شک کې وانه چوي، ځکه چې فیصله د باطل په لوی والی او د اسلام پر ضد په سختو ګوزارونو نه کېږي، بلکې فیصله د حق په قوت او د ګوازرونو په مقابل کې د هغه په کلکو ودرېدو کېږي.

مونږ یوازې نه یو، بلکې د انسان او کون د فطرت څارګر هم زمونږ سره ملګري دي، دا یو ډېر غټ څارګری دی، د ټولو هغه څه نه لوی کوم چې د تمدن له خوا په فطرت اچول شوی دی، او کله چې هم د فطرت او تمدن ټکر رامینځ ته شوی دی، نو د اوږدې یا لنډې جګړې

وروسته بریا د فطرت په برخه شوې ده.[۱]

یو کار کول پر مونږ ضروري دي او هغه د تمدن د بار څخه د فطرت د خلاصولو لپاره سخته او اوږده مبارزه کول دي، تر څو چې فطرت په دغه بار باندې برلاسی شي.

د یوې سختې مبارزې لپاره پر مونږ اوږده ځان تیاورنه ضروري ده. په کار ده مونږ ځان داسې تیار کړو تر څو ددې دین مستوی ته ورسو [۲]

ددې دین مستوی ته رسیدل په الله باندې د ایمان راوړلو په حقیقت او د الله د پېژندلو په حقیقت ځان پوهولو کې نغښتې دي ، ځکه تر څو چې مونږ په سمه توګه الله نه وي پېژندلی تر هغې په سمه توګه ایمان هم نشو لرلی.

دغه رنګ په کار ده چې د الله تعالی په عبادت کولو کې ددې دین مستوی ته ځانونه ورسوو، ځکه تر څو چې مونږ په سمه توګه د الله عبادت نه وي کړی نو تر هغې په سمه توګه الله هم نشو پېژندلی.

په کار ده چې مونږ د خپلې ټولنې په پوهه کې، د زماني د طریقو په پوهه کې د دین غوښتنې پوره کړو، الله دې په هغه چا رحم وکړي چې خپله زمانه وپېژني او خپله لاره سمه کړي.

---

1- د ((هذا الدین)) کتاب د ((فطرت ځارګر)) فصل دې وکتل شي.

۲- د دین مستوی ته د رسېدو معنی داده چې مونږ په سمه توګه هغه غوښتنې پوره کړو کومې چې ((دین)) یې زمونږ څخه لري، د الله معرفت، په هغه ایمان، د هغه عبادت، د عامو مسائلو په اړه پوهه او په انسان پوهنه کې هغه مقام ته ورسو چې ((دین)) ته مطلوب دی. (ژباړن)

**په کار ده چې مونږ د خپلې زماني د کلتور او تمدن په پوهه کې د خپل دين غوښتنه پوره کړو، او دا پوهه د امتحان او د اختيارولو لپاره وي، ځکه تر هغه پورې مونږ يو شی اخستی يا پرېښودی نه شو تر څو چې هغه مونږ په پوره ډول پېژندلی او تجربه کړی نه وي، په کار ده چې مونږ د يو شي په غوره کولو کې د پوهې او تجربې څخه مرسته ترلاسه کړو.**

په کار ده چې مونږ د انساني ژوند د طبعيت په پېژندلو کې او د هغې په نوو حقيقي اړتياؤ باندې په پوهه کې د ((دين)) غوښتنې پوره کړو، تر څو چې د تمدن هغه څه پرېږدو کوم چې د پرېښودو وړ وي، او هغه څه واخلو کوم چې په ژوند او تمدن باندې د پوهې لاس ته راوړلو وروسته د اخستلو وړ وي.

دا يوه ډېره ترخه او اوږده مبارزه ده خو سره لدې دا يوه د عقل څخه ډکه او اصلي مبارزه ده.

پدې مبارزه کې الله زمونږ سره ملګری دی.

الله تعالی په خپل کار برلاسی دی خو ډېر خلک پدې نه پوهېږي.ص